# (الف)

اې چه خيال کړې په دنيا　　دنيا څه دَه بې وفا
که دی يو زمان زړه ښه کا　　بيا دِ ژړ کا په ژړا
راحت نشته په دنيا کښ　　الدنيا دار البلا
دنيا مه گڼه څه نور څه　　دا دَه ځای دَ استجا
زه چه تا گورم حيران شم　　ای ابله مشت گيا
هر زمان نوی خيالونه　　هر ساعت نوې هوا
يَو دِ زړه دَی زر دِ ياره　　يَو دِ سر سل دِ سودا
کله مست دَ مال و ملک شې　　کله مست شې دَ صهبا
دَ مسند دَ پاسه کښينې　　لور په لور دی متکا
په يوه لوری غلطان شې　　چا ته مخ وَ چا ته شا
څوک و تا وته ولاړ وی　　په تسليم په سل حفا
څوک له تا سَره مجلس کا　　واړه هزل مشغولا
څوک په ور درته لليږی　　په نمط ستا دَ لقا
حاجبانو ته وَيل کا　　که مه ورسی دعا
ته په ځای بيخوده پروت يې　　نه دِ سترگی شته مينا
بيهوده په ځان غره يې　　حبطه يې په رشتيا
فلک ډير زير و زبر کړل　　دا فلک لکه آسيا
ډير ئې تا غُندِی ميده کړل　　اوس ئې وار دَی هم پتا
که بادشاه دَ درست جهان يې　　خو دِ بيا تشه غوغا
څه دعوا ئې دَ جهان کړې　　نور به هم وه ستا پخوا
نه سليمان شته نه ئې تخت شته　　نه آصف دَ برخيا
نه بهرام شته نه ئې گور شته　　نه سکندر شته نه دارا
نه جمشيد وُ نه ئې جام وُ　　نه قباد وُ نه کسرا
په شماره کښ به مانده شم　　زيات ئې څو شمارم تر دا
که هزار که سل هزار وُ　　که تر دا وه هم ډير لا
واړه ولاړ له دې جهانه　　جهان واچَول تر شا
غه شاهان چه ذيشوکت وه　　څه ئې هم شته هويدا؟
ساماني په جهان هم وه　　سلجوقی وه هم پيدا
غزنوی وه په غزنی کښ　　چه ئې کړلې هم غزا
چه نښان ئې مونده نشی　　دَ برمک نه دَ يحيیٰ
کرو فر دَ عباسيو　　مگر ډُوب شو په دريا
دَ فلک فريب پټ ندی　　چه ئې تل کاندِی لتا
کله زر وَ تا ته ښه کا　　کله آس او غيلِی غوا
کله زويه درته ښه کا　　کله خويښ او اقربا
نه به زر و تا ته پريږدی　　نه مالُونه نه اشيا
په شداد ئې فساد کړَی　　په قارُون ئې وکړ لا
نه ته پلار ئې دَ زامنو　　نه زامن دِی زويه ستا
پخپل ځان دَ هر چا کار دی　　که پسر دَی که بابا
حلق په خپلو لاړو لوند دی　　دگدا هم دَ بادشاه

ته دَ ځان ئې زه دَ ځان یم
ته جدا یې زه جدا

غم ښادی دَ هغو بخره
چه لَری ژړا خندا

که حشم دِ شی بې شماره
خزانې دِ بې احصا

چه اجل در لَره راشی
نه هغه په کار نه دا

لکه هسی رنګه کار دَی
راشه واروه اې فتا

مهیا وَ مرګ ته کښینه
سر انجام کړه دَ عقبا

که دِ توان وشی تقوا کړه
که تقوا نه وِی فتوا

بهښت ځای دَ نور چا ندَی
خدای یاد کړی اتقیا

که پخپله پارسا نه یې
خاکپای شه دَ پارسا

هر چه شته شریک له واړوه
مشترک دی هدایا

که غنی یې سخاوت کړه
که فقیر یې سخ دِ لا

یَو چه خلاص وِی له حسابه
بل به نه وِی مبتلا

په شوکت لکه شهباز شه
په همت لکه عنقا

لکه جغد هسی مشه
نه ئې رنګ نه ئې معنا

خوره خوروه له خپلو لیچو
غضنفر شه نه روبا

سخاوت کړه څو پتا شی
اسراف نشته دَ سخا

په سر توری پرې نارې کړه
چه تالا دنیا تالا

چه ئې قطع عوائق کړل
په اسمان کښیناست عیسیٰ

د عسل په دود شیرین شه
نه حنظل نه ګندنا

مه لړم شه مه اپی شه
غم فزا راحت زدا

بار دَ نورُو په ګردن وړه
خپل بار مه کیږده په چا

جهان ځای دَ مکافات دی
بد به مومی چه بد کا

دَ بدیٔ جزا بدی دَه
دَ نیکیٔ نیکی سزا

چه به کیږِی توری خاوری
خپسر خاوری کړه پخوا

که په حسن لکه ګل شې
یا تر ګل شې هم زیبا

بیا دِ ځای دَی توری خاوری
تار په تار واړه اعضا

دا څه توری خاوری ندی
چه پرې څې سبا بیګا

همګی جونه زلمی دِی
خاوری شوِی دَ بیدیا

چه په سترګو باندِی پښې ږدې
باری ورو ږده څه خو پا

مځکه سبزه زرغونه شِی
دَ حمل په ابتدا

رنګا رنګ ګلونه وا شی
هم په باغ هم په صحرا

نه یوِ ګل دَ بل په رنګ وِی
نه ئې بوی سرَه همتا

یَو څو ورځی شګفته شی
ژر فنا شی په جوزا

تر بلبلی ناپوه څوک دَی
یا کم عقله تر بورا

چه په هسی څیز ئې مینه
چه ئې څو ورځی بقا

هغه څیز چه بې وفا وِی
زړه پرې نه تړی دانا

په جهان کښی مینه هم وه
دَ یوسف دَ زلیخا

که ویسه وه که رامین وُ
که مجنون وُ که لیلا

که فرهاد وُ که شیرینه
که وامق وُ که عذرا

اوس ئې نخښی لیدې نشی
دې جهان کړل پوپنا

نه به ګل دَ چمن پریږدِی
نه بلبله نه طوطا

نه به طفل ځنی خلاص شی
نه سپین ږیری نه برنا

نه به پاتو عشق دَ ځوان شی
نه ښه حسن دَ خوبا

گاه دَ زویه لور په غم شې
گاه دَ یار او دَ آشنا

چه به پس له ما دا څه کا
حال به څه شِی دَ هر چا

غم دَ زویو کړې دَ لوڼو
هم دَ مور هم دَ بابا

ولی هسی فکر نکړې
چه په دا څه دی ځما

بخری اوس ندی اول دی
چه نه ارض وُ نه سما

خپل قسمت به هر څوک مومی
که افلاس وِی که عنا

څه اندوه دَ یوه نفس کړې
اې د نفس په غم شیدا

خو د نفس ځله دِ ومری
که کشکاب وِی که حلوا

غرض تن دَی تن دِ پټ وی
که خاسه وِی که خمتا

که دَ نفس په نغوته درومې
تا به ژر کاندِی رسوا

نفس پدا راغلی ندی
چه روا یا ناروا

چه اروا پرې خوښی مومی
هغه چار گڼه اعلا

مټ په علم کړه چه علم
اژدها دَی هم عصا

یا په علم کښ لذت دَی
یا په عشق کښ دَ مولا

نور همه چاری عبث دِی
که اعلا دِی که ادنا

که ته تریو کښینې خوشحاله
دَ فلک ترو څه پروا

اندیښنو ته زړه ور مکړه
څو حیات یې په دنیا

که تل خوښ اوسې تل خاندې
بې اسم با مسما

تر هغه نادان څوک نشته
چه نن غم خوری دَ سبا

غم غیرت به یَوه لور کړه
خاطر صاف شه له هر چا

دَ سبا اندوه نن مکړه
گوره څه وشی فردا

واړه وسپاره و خدای ته
که دوستان دِی که اعدا

که لقمان شې په حکمت کښ
یا که بو علی سینا

نه به لار دَ مرگی بند کړې
نه به خلاص شې له قضا

دَ قضا سَره جنگ نشی
و قضا ورووړه رضا

که رضا په قضا ورکړې
نور خوشحال یې په رشتیا

که دروغ کا که رشتیا
هر څه ښه دِی دَ دانا

تر دانا دی زه ځاریږم
نادانان واړه تر ما

مړه ئې پاځَول له گوره
نا بینا ئې کړل بینا

یَو نادان ئې دانا نکړ
چه درست عمر مسیحا

نادان ځان لَره بلا دی
هم جهان لَره بلا

چه نادان وکا دا ورانه
هسی نه کا اژدها

نادانان دِی ناپوهان دی
نن د ما کره پیدا

لکه دوی کاندِی دا چاری
دا می نه وې په آبا

دَ ناجنسو نه پیدا شول
که دود نور شو دَ دنیا

دَ یوه پلاره زوولی
سَرَه تل شور و غوغا

که څلویښت دِی که پنځوس دی
سَرَه واړه شا په شا

مال و ملک دولت می ژغوره    پدا حال کښې ربنا
اتفاق پکښې باقی شه    د اتفاق ئې شه فنا
نفس شیطان دواړه بلا دی    راشه گوره دا بلا
چه په دې بلا پایمال دی    شهیدان دَ کربلا
خدایه ته یې چه خپل کړه کړې    دا بلا پیدا کړه تا
له حکمته خالی ندی    کړه دِ واړه دِی زیبا
زه خوشحال دَ ده له لاسه
دا فریاد کوَم په چا

دَ غواص[1] دَ کال وبا    خدا ئې مه راوله بیا
اکوړ خیل می پکښې ومړل    لوی هلک مرد و نسا
بخت ناک خان می پکښې ومړ    مور ئې هم بوته قضا
یَو هلک ئې وُ را پاتو    ورپسې شه ژر فنا
چاته ژاړم لدې غمه    سود می کوم دَی دَ ژړا
لور په لور په دا لمبو کښې    عالم پروت په واویلا
تر دکنه تر کابله    را خپره شوه دا بلا
په لکونو عالم ومړ    چه ښهرونه شول صحرا
اول قحط بیا وبا وه    په هر لوری وه غوغا
سر فراز د سعادت وُ    ښه نمسی می وُ زیبا
هم حافظ دَ درست قرآن وُ    هم په خط وُ بې همتا
دَ ښکار پسی ئې وُساتلی    لیونی شو بې غوغا
لاس ئې وروړ بې خبره    چه گاڼه ئې خپل آشنا
دَی ئې وچیچه په لاسو    لا علاج شو لا دوا
په دا کال له ما قضا کړ    په ارمان ارمان جدا
کال حضغ[2] شو وبا ولاړه    هم عسرت کړه راته شا
بارانُونو دِی وریبرِی    ودانی شوه په دنیا
نه تل غم وِی نه ښادی وی    وار په وار وی هغه دا
په هر حال شکر بایده دی    چه بدتره نشی لا
اوس څه غم دَ عالمگیر دی    چه عالم ئې کړ رسوا
دَ وبا غُندِی ژر ورک شوی    بل یَو ښه شوی را پیدا
یَو خوشحال دا دعا نکا    درست جهان کا دا دعا
اجابت به ئې ژر وشی
که دَ خدای وِی په رضا

زړه سفر لدې دنیا[3]    په تحقیق دَی په رشتیا
که څه زر کاله پائیږې    هم دِ نه وینم احیا
راشه وگوره همزولی    چه ئې ځای دَی په بیدیا

---

۱. غواص د ابجد په حساب (۱۰۹۷) دی، چه مطلب ځنې هجری کلونه دی.
۲. حضغ د ابجد په حساب (۱۰۹۸) کیږی.
۳. دا قصیده په نورو نسخو کښې نسته، له یوې قلمی نسخې څخه وکښله سوه.

باندې جوړ دَ خاورُو څلی
زرغونه باندِې گیا

که ئې گور کړې سَرَه بیارته
هیڅ به نه وِی مهیا

که نارې وربانډې وکړې
هیڅ به نشی در گویا

چه دا حال وینې په سترگو
ولی هسی یې عمیا

چه بیړیَ پکښې زرو ځی
څه خونی دَی دا دریا

توری خاوری شول پگور کښې
چه دَ سترگو وه توتیا

دا جهان فنا پذیر دَی
تر ثریٰ تر ثریا

دَ دنیا راحت محنت دَی
تاریکی ئې ده ضیا

که دَ عیش طلبگار یې
دَ جنجال نه یې جویا

تر اطلس ښه ده شړیه
تر گلیم ښه ده بوریا

زړه تړل په دنیا مکړه
بود ئې نشته دَ اشیا

موږ په مثل دَ دانې یُو
پاس په موږ گرزِی آسیا

چه خپل گور لَره راحت وړی
هغه څوک دی اتقیا

چه خپل گور لَره زحمت وړی
هغه څوک دی اشقیا

باندِې پریوزی موتِی خاوری
په مرگ نه مرِی اولیا

اولیا دِی په جهان کښې
په مثال لکه کیمیا

دَ باطن خیری ورکیږِی
په صحبت دَ اصفیا

یَو سجود په اخلاص ښه دی
نه سل زره په ریا

همگی د ښو خویُونه
وابسته دِی په حیا

دَ خوشحال ژوندُون په خدای دی
نه شهباز دَی نه یحیا[1]

چه یَو ځل ښیگړهووینې له چا
په یوه ئې شل بدیَ کړه تر شا

دروغجن سړی دَ عفو لائق ندی
په رشتیونو باندِی عفو دَه روا

غلطی دَ یگانه غلطی نده
په خطا دَ یگانه بویه عطا

که له یاره نه ترخې خبری واروې
خوږ شیرین ځواب ئې وکړه په خندا

د کمذات سَرَه یاری اشنائی مکړه
له کمذاته به بیا نه مومې وفا

رخته گر دَ ملک هرگز دَ پرینښو نَدی
که هر څو ئې شفاعت کا شیخ ملا

مرد به خپله وینا ژغوری څو ژوندی دی
دَ نامرد وینا نن شته نشته سبا

دَ ښارویو په حساب دی سړی نه دی
غوبانه شپانه چه پیائی غیلی غوا

چه ستا عیب تا ته وائِی یار هغه دی
نه چه نورُو وته وائِی عیب ستا

بازاری سړی بهتر تر روستائی دی
که هر څو دَ بازاری نشته حیا

که سړی پیری دِ وژنی و به نمرې
څو چه نه وی رسیدلې ستا قضا

بند د ما په رضا یِو نشته یاران می
په یاری یاری کښې کا خپله رضا

چه د ما دَ مرگ مَشتاق وه هغه ومړل
زه لا دا یم ژوندَی پایم پدنیا

مړنی په خپله توره نظر نکا
ښایسته پخپل جمال دِی نابینا

مست اوښان می هسی شان وړی مست بارونه
چه په لوړ په ژور نه لَرِی پروا

شناخت ادب شرم سړیو لَره بویه
پدا درې توگه ښاروی ندی آشنا

چه ئې مور و پلار سُچی سُچی زوولی
په هغه کښې به خطا نشِی پیدا

---

۱.  سهباز خان د خوشحال خان پلار او یحیا خان ئې نیکه ؤ، چه د اکوړې زوی ؤ.

چه دَ سپيۍ په پيو لوی کا څوک ورغومی لکه سپیٔ هسی ورغومی کا غپا
دا خبره وَ هر چا وته ښکاره دَه چه دَ ښو غوښو نه ښه کيږۍ ښوروا
عاقل ډير عيب دَ ځان په عقل پټ کا نادان لَږ په ناپوهيۍ کا رسوا
په ويل ښيل به هيڅکله ښه نشی چه بد بخت له موره پلاره شي پيدا
چه خپل بار په هيچا نږدی بار دَ بل وړی هم هغه سړی لايق دَی دَ ثنا
چه په زړه کښ ئې څراغ دَ عقل بل شی ورځ و شپه دَه په هغه باندی رڼا
سجنجل دَ خپل استاد لَری په مخ کښ
چه گويا شو دَ خوشحال د زړه طوطا

(ب)

که له کوره توښه نه واخلی غريب په خواری بدی به مومی خپل نصيب
چه و خواست وته وَلاړ وِی يا حرص ته له ژوندون نه به ويزار شي عنقريب
دَ چا زخم دَ چا حد دَ چا تعذير دی هر سړی پخپل انداز مومی تأديب
که انصاف و عدل داد سياست نه وِی شک به نه وُ دَ وگړی په تخريب
عالمان دَ شريعت لکه څراغ دی لور په لور دَ روښنايۍ اساليب
دا د مځکی مخ ئې واړه په حساب دی بيرونه تر شرعی نشته يَو جريب
په دانه دانه غلې واړه حساب دی په حساب کښ هم مويز دی هم زبيب
دَ درياب اوبه دَ شرعی په حساب دی و هر څه ته ئې ورکړَی دَی ترتيب
دا همه واړه دَ شرعی خدمتگار دی محتسب، قاضی، مفتی، ملا، خطيب
عاقبت مريد دَ شرعی دَ اُمّی شو که خبر بو علی کړې عندليب
په جهان کښ بل رقيب دَ شرعی نشته که رقيب دَی يو شيطان ئې دَی رقيب
مخالف دَ شرعی واړه شيطانی دی مخ ئې تور شه چه عمل کا په تکذيب
چه غمخور دی دَ هرگار ندی پدين کښ نه دی يار دَی، نه محب دَی، نه حبيب
دَ عنصر دَ صنائع فکرونه پريږده که پوهيږې شرعه نور لری ترکيب
فلسفه مقنزله واړه گمراه دِی چه بې شرعی پخپل رای کاندِی ترغيب
دو اويا ملته واړه آلوده دِی پکښی يَو ملت دَ شرعی دَی نجيب
رنځ زحمت دی خدای در نکاندِی خوشحاله
گڼه کړه دارو دَ شرعی په طبيب

(ت)

درته وښَيَم کيميا دَ سعادت دَ بدانو سَرَه مه کوهَ صحبت
مه بدگوی مه بد آموز مه بد انديش شه که دِ زړه وی چه در نَرسِی آفت
که لوئی غواړې ځان کم گڼه تر بله بل تر دا دَ پاسه نشته نصِيحت
پدوستانو تلطف کړه څو پتا شی دَ دښمن سَرَه هم ښه کوهَ خلقيت
دَ نيکخواه خبره نغوږه پرې عمل کړه نا نغتانو ته تيار دَی ندامت
دَ نمانځه تر قضا گرانه دا قضا ده چه قضا شی دَ څلورُو مصلحت
نورانی کا هغه ځای چه سَرَه کښيني ديرينه څلور هوښيار په مشورت

په اخلاص چه په دعا لاسَونه هسک کا
ور به پرانت شِی دا فتح دَ نصرت

بې کنګاشه به هیڅ کار په لاس وانخلی
چه خبر دی دِ کنګاش په برکت

چه په تشه تواضع کښې ګټه کیږی
هونبره سود نشته دَ ډک طباخ دست

که ګنجونه دَ قارون درته انبار شی
په هر لور ئې غورځوه په سخاوت

ناپوهان به ئې پریږدِی وروستو و بل ته
عاقلان به وړاندی بیائی خپل دولت

ناپوهان که ئې شدت وته تیار دی
لا ئې ندی خبر دار په حقیقت

څو دوستیِ دَ دنیا ډیری وِی په زړه کښې
هغه هونبره ډیر فساد دی قباحت

شور غوغا جنګ و جدل به ترمنځ نه وه
که هر څوک سرَه راضی وی په قسمت

که حاتم غُندِی کرم کړې د مهرانو
دَ یوې د مړیَ په چا مړده منت

څو بدانو سرَه بد شې هونبره ښه دی
ولی عفوه کرم ډیر لری لذت

دا نابوده دنیا هیڅ متاعه نده
چه به کاندی عاقلان باندِی شدت

که دِ سر ځی که دِ مال ځی که دِ نور څه
استوار اوسه پکار دَ رفاقت

په ظاهر باطن کفرانِ دَ نعمت مکړه
هوا خواه اوسه دَ خپل ولی نعمت

که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه
بې محنته هیڅوک نه مومی راحت

که دارَو په خواست موندل شی مه ئې اخله
که دِ مرګ وته نیژدې کاندی زحمت

که اسمان دِ دَ مزری په خوله کښې ورکا
دَ مزری په خوله کښې مه پریژده همت

دَ عمل ذخیره واستوه دَوړاندی
دا یو څو ورځی ژوندون دَی غنیمت

په اوښو چه روا نه دی شونډې مه ږده
په ورځ زر خونونه کړه په شریعت

که ژوندون دَی هم هغه دی په جهان کښې
چه یادیږی دَ سړی دَ ښو خصلت

دا راحت لکه دَ فقر دَ پوزیَ دی
دا راحت نشته په تخت د سلطنت

چه کالی ئې پاتو نشی مرده شوی ته
خدایه ورکړې و خوشحال هسی رحلت

## (د)

دَ خدای عرفان می وشو په عرفان د محمدﷺ[۱]
پاک دی محمد پاک دَی سجان دَ محمد

درست خلق که یو کړې انس و جن دواړه جهانه
لا تر واړُو به دَی ګښُی ځان دَ محمد

شق دَ رود نیل که دَ موسی په حکم وشو
شق دَ قمر وشو په فرمان د محمد

دور دَ نا قوس که یو څو وخته وُ فانی شو
تل به تر قیامته وِی فرمان د محمد

ندیِ قسیس رهبان قائم پخپل دین و مذهب کښې
نه زر قسیس رهبان نه یو سلمان (رض) د محمد

یو لک څلیرویشت زره زیات و کم پیغمبران دی
کل واړه مدام دِی ثنا خوان د محمد

څه دَی دا اسمان وَلاړ بې ستنی بې شاتیره
دی یو مختصر هلک ایوان د محمد

څه دِی اوه ستوری چه په دوولس برجه ښودی
واړه خدمتکار دِی چا کران د محمد

دا جهان هغه جهان که دواړه سرَه یو کړې
لا تر دانه لوی دَی بل جهان د محمد

واړه جنتونه پکښې څو رنګ نعمتونه
څه دی درته وایم یو بوستان د محمد

څه دِی دوږخونه پګښې هومره عذابونه
جوړ دَی دښمنو ته یو زندان دَ محمد

ورځ چه دَ قیامت وی مرسلان به په هیبت وی
هورته به جولان وِی په میدان د محمد

---

۱. دا نعتیه قصیده د دې کتاب په (۷۵) مخ کښی لنډه دَ یوې بدلی په ډول راغلې ده، دلته ئې موږ هغه بیتونه ولیکل چه هورې نسته، ښاغلی ویونکی دی له دغو بیتو سره هغه د (۷۵) مخ بیتونه ضم کړی، او دا ټوله دی یوه قصیده وګنی.

سل ضلوةَ تل لما په آل تقی نقی شه
سل درووده تل په چهاریاران د محمد

## (ر)

دَ حکمت وَیل به وایم مختصر
په معنی کښې قیمتی لکه گوهر
په هغته کښې صحبت یو ځله بایده دی
که هر څو وربانِدی عشق وَی زوروَر
دَ صحبت په کار کښې ډیر فکر بایده دی
څورب آس شی په یوه گزار ډنگر
دا دَ ملا اُوبه ئې واړه دُرگوهر دی
که سړی ئې شی له قدره نه خبر
دُرگوهر به هغه څوک لونی بې ځایه
چه په پوهه کښې ابله وی گیدی خر
په ډیر رنگه دخول کیږی بهتر دا دی
چه تر تا وی ښځه لاندِ ته زبر
چه دِ عمر تر پنځوسو کالو تیر شی
په دخول کښې یاوه ډیر مکړه ذکر
که قوت زیاتوې تل خوره شودې پیِ
چه تر دانه دارُو نشته معتبر
په مَړَه گیډه صحبت په شومه مکړه
پسله خوبه ئې پرې جوړ کړه په سحر
چه حاجت دَ غسل وشی ژر ولامبه
پسله لامبو لږ څه وخوره گرم و تر[1]
دَ شهوت چه ضعیفی لیری کوینه
په بادام او په پسته طائفې څر
دا څلور توگه نفاخ دی مبهی دی
یو چڼه، لوبیا، گاځره، بل ټیپر
که دَ غره دَ مږه په تریخی ځان ککړ کړې
دَ جماع لذت به بیا مومې بیشتر
دَ زړې ښځی صحبت دَی لکه زهر
هر سړی دِ ځنی وکاندی حذر
دَ هغې ښځی صحبت لکه دارو دی
چه ئې لور نه وِی زوولې یا پسر
که دِ لاس په بکره بر شی پرې ئې مږده
که دِ ځای شِی په هغه جهان سقر
دَ مخ رنگ تازه کوِی صحبت د بکری
ورکوِی سستی دَ تن درد دَکمر
تر زعفرانو تر عنبرو لَری ډیره
په خوراک او په بخور نفع اکثر
زعفران خوره که دِ دَ زړه تازگی غواړې
ولی لا تر زعفرانو ښه عنبر
تر زعفرانو تر عنبرو لَری ډیره
په دا کار کښې تندرستی دَه د بشر
مسکی مسکی وخوره درته وایم
چه خوراک ئې په مثال دی لکه زر
که دَ غره دَ بزو په تریخی ئې علاج کړې
رنځور به دِ پرینږدی دَ بصر
که توبری له زخمه نه خیږی چنگاښ می
باندی وتړه هاله به شی بدر
که اوبه دَ پیازو شهد سَرَه وخورې
دَ فاسدو وینو نه پریږدِی اثر
په خوراک دَ یاسمین درومی څو رنځه
تر سیری، لقوه، فالج هم درد سر
ناست و نماست د دِ دَ سړی په اعتدال وی
په ساړه په غارمه نه بویه سفر
په هغه کلی کښې خونه میشته مکړه
چه دریاب ئې په جنوب په شمال غر
گرد غبار غارمه چیکړ هوا بد بویه
رنځ علت و با پدا کیږی اکثر
په څلور فصله کښې ښه فصل بهار دی
تابستان سړی کم خور کاندی لاغر
ډیر زحمت په وخت دَ منی پیدا کیږی
لکه سل، تبه، قولنج بلا بتر
رنځ زحمت دَ زمستان په فصل لږ وی
دَ ساړه نه ځان ساته په اور په نمر
چه په شپه له خوبه ویښ شې اُوبه مه څښه
په نهاره هم اوبه لَری ضرر
دَ چندڼو مښل خوراک دواړه بهتر وی
په بدن که ئې محرور مږی بهتر

---

۱. لږ څه وخوره مختصر.

خدای دِ تهوخی د سیارې[1] دَ چا و نکا ‌ ‌ ‌ ‌ او کنه ورته دارو دی شیر خر
دَ مولیٔ پاڼې ښې دی یخ یې بد دی ‌ ‌ ‌ ‌ مگر ریگ د مثانې ته دِ په چر
دَ مولیٔ په خوراک کښ دِی دوې گټې ‌ ‌ ‌ ‌ بد هضمی ریگ مثانه کاندی بدر
چه دَ میښو ماستې خوری زحمت به مومی ‌ ‌ ‌ ‌ تر خواړه ئې لا تروه گڼه بتر
که ماسته پیٔ به خورې خو ئې دَ بزو خوره ‌ ‌ ‌ ‌ هم هغه چه ئې چکه کړې شیرین تر
که د غوا دَ بزو شلومبې څښې زیان ئې نشته ‌ ‌ ‌ ‌ اشتها دَ سړی زیاته کا په خور
که به پیٔ څښې شودې پیٔ خو دَ بزو څښه ‌ ‌ ‌ ‌ که غوړی خورې خو غوړی خوره د بقر
دَ تمځری دَ حلوان غوښې اعلا دِی ‌ ‌ ‌ ‌ لا تر څرب مرغی ښه دی دَ کوتر
که دَ پیازو په خوړو شهوت زیاتیږی ‌ ‌ ‌ ‌ ولی ډیر خواړه ئې زیان دی د بصر
که هزار رنگه طعام دَی په جهان کښ ‌ ‌ ‌ ‌ تر ډوډیٔ نه بل خواړه نشته بهتر
که یخنی او ډوډیٔ مومې نور څه مخوره ‌ ‌ ‌ ‌ چه بهتر نه دی تر دا شیر و شکر
کله کله هوړه خوره چه سود ئې ډیر دی ‌ ‌ ‌ ‌ په سفر به ئې همیش خوری دا نشور
څو ترشی په جهان شته واړه زحمت ده ‌ ‌ ‌ ‌ دَ صفرا علاج په دې شِی مقرر
که ئې مومې اوړی ژمی گبینه خوره ‌ ‌ ‌ ‌ خو په سود ئې خبر مکړه خپل پدر
خوږ او تریو انار همه واړه دارو دی ‌ ‌ ‌ ‌ فوائد دَ خواړه لا دی افزون تر
په سابو کښ دَ سووې سابه مفید دی ‌ ‌ ‌ ‌ ولی بویه چه محرور ئې خوری کمتر
که اوبه دِ دَ باران یا دَ چینې دی ‌ ‌ ‌ ‌ دَ کوهی اوبه ضرر دی دَ بشر
ښې سړې خوړې اوبه دَ سړی ځان دی ‌ ‌ ‌ ‌ ولی تود خواړه سړې اوبه ضرر
چه تودې اوبه څوک څښی غارمه وهلی ‌ ‌ ‌ ‌ پرې نقصان دَ اشتها شی رنگ اصفر
تود کچړَی دَ غوا غوړی په وخت دَ ژمی ‌ ‌ ‌ ‌ تر حلوا تر سلوا زیات لَری هنر
دَ صحرا ویلنی خوره پرې به ورکیږی ‌ ‌ ‌ ‌ که دَ نس موړه لرې وکړه باور
دَ باغی ویلنی سود دَ خوراک ډیر دی ‌ ‌ ‌ ‌ په وجود کښ دَ باد نه پریږدِی اثر
په خوراک توره بنگړه[2] زاړه زلمی کا ‌ ‌ ‌ ‌ که خوراک ئې څوک یو کال کا مقرر
لیونی گلاب ډاړلی لَره ښه دی ‌ ‌ ‌ ‌ که پرهار کا دَ هلک په بَولو تر
که دَ نغن سَره ئې خورې ختکی ښه دی ‌ ‌ ‌ ‌ په نهاره ئې جوړل دِی تنها شر
حرارت لَره کاسنی چه خدای پیدا کړه ‌ ‌ ‌ ‌ نور دارو په خوله یادَ مکړه خشک و تر
وریته کَړی بنگ هم ورک کاندی نس خوږی ‌ ‌ ‌ ‌ ور سره شربت نبات بویه شکر
دَ تازه پنیر خوړل سړی فربه کا ‌ ‌ ‌ ‌ ولی بویه چه دانا ئې خوری کمتر
په کما له ځوانی فصد دَ قیفال بویه[3] ‌ ‌ ‌ ‌ گوناگون زحمت ورکیږی پدا چر
څو چه ډیر طلبگار نشې خواړه مه خوره ‌ ‌ ‌ ‌ هر زمان په شخوند کښ مشه لکه ستور
دَ طبیب دارُو هاله خوره چه حاذق وِی ‌ ‌ ‌ ‌ دَ فاقص طبیب دارُو لَری خطر
خوشبوئی څو لگوې هونبره فایده ده ‌ ‌ ‌ ‌ تندرستی ده هم سنت دَ پیغمبر
دَ صفرا زحمت به درومی له هغه نه ‌ ‌ ‌ ‌ چه ښه حسن وته کاندِی تل نظر

دَ بلغم زحمت به درومی له هغه نه
چه غثیان په هَره میاشت کا مکرر

۱. یعنی سالنډی، ضیق النفس چې یو مرض دی.
۲. نخا، بلا.
۳. په دوهم دریم کال فصد دَ قیفال بویه ‌ ‌ ‌ ‌ فلبه دَ وینو درومی پدا چر

چه مې ولیده دَ خپلو زویو کار
زویه واړه جگر خون دی دَ خپل پلار

خو چه وزیږِی دَ پلار دَ ځان بلا شِی
په خدمت په تربیت ئې شی گرفتار

چه تندرست تر و تازه وِی پرې خوښیږی
دَ زړه نول ئې شی چه لړ ئې شی بیمار

څو ئې ږیره بریت لا نه وی همره گل وی
دَ ویښتو سَرَه ئې مخ پیدا کا خار

چه دَ خپل قوت څښتن شی دماغ واخلی
دَ ځوانۍ له خیاله سم نه ځِی پر لار

په هزار رنگه هوا په زړه کښې روشی
ورځ و شپه سَرَه ښوریږِی ناقرار

له خودیِ هسی مست بې خوده ولاړ شی
خو یو زه یم چه پیدا شم پدا دار

وخت ئې هیڅ دَ هلکوالی پیاد نه وی
چه به پروت وُ په اونی کښې خوار و زار

گړنگ په خوله باندی راغلی تن لړلی
په گندگی کښې په بد بوی گنده مردار

توان طاقت دَ مچ شړل ور څخه نه ویَ
په ساتنه به ئې مور کاوه تیمار

که ئې غل دَ مور په غیږ کښې کړل متیاځې
په دا کار به ئې نه عیب وُ نه ئې عار

که مور پلار ئې وښو چارو وَته بولی
نصیحت دَ مور او پلار وِی ورته نار

نوری چاری ورته واړه حبطه وی
هم هغه کا چه په زړه ئې خپله چار

یکباره دَ خود رایی په سیند کښې ډوب وی
چه واته ئې ځنی نه وِی په کنار

چه دَ زیست او دَ روزگار شعور پیدا کا
کار و بار ئې په څو رنگه شِی اظهار

څوک بهرام غُنډِی منحوس بد بخت بخیل شی
په شامت ئې خیلخانه شِی تار په تار

منافق لئیم مردرد دَ زمانې شِی
دَ خپل پلار سره آغاز کاندِی کارزار

څوک یحیٰی غُنډِی اوده غافل پیدا شی
چه هیڅ کار نیولی نشی استوار

څوک سدو غُنډِی نامرد عبدالزوجه شی
په تنگځه له خپله پلاره شی ویزار

څوک مالو غُنډِی جلو[1] غُنډِی پیدا شی
سراسر واړه بانود او نا پکار

څو د ما کره زوولی دِی ډیر زویه
دَ نور چا ندی پیدا پدا دیار

څو دواړو کار و بار درته شمارم
که ئې شمارم درمانده به شم په شمار

موافق مې په خورمنځ[2] یو زویه نشته
همگی واړه دَ خپل غرض دی یار

که ما زده وی چه دَ زویو هسی کار دی
ما به زنا کاوه نه کور دَ کور روزگار

حال ځما دَ اولاد دا دَی چه مې ووې
په اولاد دَ نورو نه یم خبردار

اورنگزیب بادشاه هم زوی دَ شاه جهان دی
خبر دار به دَ ده په کار و بار

مال اولاد واړه فتنه دی په جهان کښې
پدا دواړه به زړه نه تړی هوښیار

یا پدا زمانه خوی دَ خلقو نور شو
یا څو وُ دا جهان هسی وُ مکار[3]

نور تر دا دَ پاسه شکر کړه خوشحاله
چه له تانه خپل بابا نه وُ آزار

که دَ درست جهان دولت وِی ستا په لاس کښې
په اخلاص نه د دَ پلار تر سر کړ جار

اوس تا هسی زویه راوړه هم بد ته ئې
چه تر سر به دِ ځار نکا یَو دینار

نور لا هم ویلی نه شم گُندی ښه دِی
سررشته دَ واړو بده کړه سردار

دَ هجرت زر سل کالونه نه ترې کم دی
چه تری کښې[4] مې آغاز کړ دا اشعار

عابد خان په دا محنت را سَرَه مل دی
چه گانړه شِی پرې ځما دَ زړه پرهار

خالد خان بخو شاکر طاهر دا هم دی
مجاهد کامران همه شه برخوردار

دَ بهرام لښکری پروتی په تېری دی
امید دی چه خدای ئې ژر کا شرمسار

---

١. جالو.
٢. طبیعت، خواهش.
٣. بیکار.
٤. په نرئ کښې.

ښه که وزیړی له ډکې ښځې مار　　نه زوولی ځنی زویه ناهموار
یا دَ چرگ غُنډِی چاپیر گرزی تر چرگو　　یا بلبلی توت خوري دی بهتی[1] خوار
سرای هر گوره بد ولد دَی چه می وکوت　　له بازونونه پیدا شی مېرک مار
که په سلو کښې یو ښه شو غنیمت دی　　چه په سرای کښې ښځه سور کاندی شلوار
دَ محنت دَ مشقت دَ صبر ندی　　دَ راحت دَ فراغت دِی دَ تلوار
نه ئې شرم نه ئې ننگ شته دَ میړونو　　ځما زویه دَ بل ورور ندی غمخوار
نه یو باز دَ سر درونه ډیری چرگی　　دَ ځنگلو مزری یَو، گیدړ هزار
اکوړی یحیی شهباز واړه سره زر وه[2]　　پخپل دور واړو ښه تیر کړ خپل وار
هم په ورکړه هم په توره هم په عدل　　پدا درې توگه درې واړه وه اوښار
په بهرام باندی چه وار راغی اوس گوره　　چه ئې ښرنگه بدنام کړه دا نامدار
که زه دیو غُنډِی نه یم باری شکر　　چه په ما باندِی بد نام نشو تبار
هغه پلار بې بخته نه وِی په جهان کښې　　چه خلف ورځنی پاتو شی یادگار
اوس فاسده زمانه ده له ښځمنو　　تا خلف نا اهل زیږِی بد کردار
اکوړی یحیی شهباز واړه مزری وه　　زه هم نه یم دَ گیدړو په قطار

واړه تیر په مزری توب کښې شول په توره
پخپل دور واړه ښه تیر کړ خپل وار

لمړی زړه ښه کړه دَ یار　　ښه په بوسه په کنار
بیا له پسه که پوهیږې　　و صحبت ته شه تیار
په ورو ورو لذت آخله　　ښوریده کړه په وار وار
دَ شهوت په توئیده کښې　　په تعجیل شه په تلوار
چه فارغ شې له شهوته　　په سینه ئې شه قرار
د خپل یار مقصود پوره کړه　　دَ خپل یار اوسه غمخوار
خوله ئې پاس کښیږده په شونډو　　کښلَول ئې گلعذار
په هفته کښې یو صحبت کړه　　که هر ښو ئې قوت دار
مکرر صحبت بلا دی　　ستا به وباسی دمار
سړی توب بویه په کار کښې　　عادت مکړه دَ حمار
دغه ځای لکه کوهی دی　　پکښې مشه نگونسار
که شهوت په امساک بند کړې　　په سوزاک به شې بیمار
تل شوده پیۍ دَ بزو خوره　　یا دَ غوا ښنبه په بهار
ور سَرَه میده لونگ کړه　　له شودو پیو شه ځار
مه معجون خوره مه ښه نور ښه　　دَ ځان مه غواړه آزار
تل ترید خوره دَ ښو پسونو　　ور سَرَه ښه خو اچار

دو پیازه دَ چرگو هم خوره
نور به ښه وایم بسیار

۱. هندی کلمه ده یعنی ږدن.
۲. شهباز خان د خوشحال خان پلار او یحیی او اکوړی ئې نیکونه وه.

چه دانا تر نادان لا وژنی بتر — مگر ندی دا ژوندُون څه معتبر
چه می فهم فکر وکړ باور وکړه — پدا باغ کښې گل له خار دَی برابر
چه له کومو غرونو راغی چرته درومی — ابا سیند لا پدا هیڅ ندی خبر
دَ شلمان غرونه پدا کله خبر دی — په شلمان کښې چه زرگونه شول ډېر
نه اسمان ځنی خبر دَی نه دا مځکه — چه عالم شو په طوفان زیر و زبر
په یَوه زمان کښې څه قدرت ښکاره کا — څه قادر دَی توانا اللّٰه اکبر
مکافات دَکوم گناه دَکوم شامت دی — چه ډېر دَ میر جمله شو درست تېر
چه دا هسی ئې پیرې کړې بنیا دی — دَ فلک په سر کښې شته څه شور و شر
به په ډېر ده نه په لَږ دَ خدای په کړه ده — لږ لښکر په ډېر لښکر مومی ظفر
څه شنواری څه مهمند څه افریدی وه — چه ئې مات کړ دَ صوبې واړه لښکر
دا طوفان چه په مغلو باندې ساز شو — په کشتن په الجو هیڅ مکړه نظر
که آسونه که فیلان که اسبابونه — په انبار انبار سپیش زر وه یا سره زر
هغه ښې پری پیکری دَ پالکیو — همگی پر پوری لال و دُر گوهر
په زرگونو پښتنو کړې تر ځان لاندی — دا به څوک کا دَ مغل له زړه بدر
دا کینه به یَو په سله ترې وَباسِی — که ئې لاس شی په جمله پښتانه بر
پښتنو څخه که سته څه عقل پوهه — ایل یاغی دِ ځنی کاندی اوس حذر
دا متل دَ زمانې دی څه اوس ندی — چه نامرد خر په پالان وهی نه خر

مستجاب مهمند که چرگه دَ مغل دی
زه خوشحال خټک خو باز یم ځای می غر

بیا له کومه را پیدا شو دا بهار — چه په هر لوری ئې ملک کړ یو گلزار
ارغوان دی ضمیران سوسن ریحان دی — یاسمن دِی نسترن نرگس گلنار
دَ پسرلی گلونو ډېر په هر رنگ شته — ولی سره لاله دی لا پکښې اوځار
جونه موټی موټی گل بړدې په گریوان کښې — دَ ځوانانو گلدستې دِی په دستار
مغنی په چغار نه لیندی کښیږده — په نغمو په پردو غواړه هر هر تار
ساقی راشه ډکی ډکی پیالې راکړه — چه دَ میو په مستی کښې شم سرشار
پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کړه — لکه باز منگلی سرې گا پخپل ښکار
سپینی توری ئې گلگونی کړې په وینو — په اهاړ کښې شگفته شو لاله زار
ایمل خان دریا خان دواړه مرگ ئې موه — هیڅ تقصیر دواړو ونکړ وار په وار
دَ خیبر دره ئې سره کړله په وینو — په کرپه ئې هم روان کړ دند و کار
تر کرپه تر باجوړه سمی غرونه — په لرزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوری چه کیږی پنځم کال دی — هَرَه ورځ دَ سپینو تور خرپهار
چه پدا لوری زه راغلم حبطه شوم — زه مردار یم که دا خلق دِی مردار
په لښکر لښکر نارې شوم ورته سترِی — دا کاڼه راته نه مهیرک وائی نه ځار
چه احوال دَ یوسف زیو را معلوم شو — لوا غر و ما ته ښه وه نه دم غار
دَ خټکو سپی بهتر تر یوسف زویو — که خټک دی هم په خوی تر سپی بیکار
درست پښتون تر قندهاره تر اټکه — سَرَه یَو دَ ننگ پکار پټ و آشکار
گوره څو جنگونه وشول په هر لوری — ولی هیڅ دَ یوسف زیو نشته عار
اول خټک دَ لوړی شا دَ تهترو وُ — چه څلویښت زره مغل شول تار پتار
خویندی لوڼه ئې په بند دَ پښتنو شوې — آس اوښان هاتیان الجه قطار قطار
دوهم جنگ میر حسینی په دوآبه کښې — چه ئې وټکیده سر کله دَ مار

بیا له پسه دَ نوښهر دَ کوټ جنگ وُ
چه می وکیښ تر مغلو خپل خمار

بیا له پسه جسونت سنگه شجاعت خان وه
چه ایمل ئې په گنداب ویوست د مار

شپږم جنگ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چه ایمل کړل په خاپس[1] کښ تار پتار

چه ځما په یاد دِی لوی جنگونه دا دِی
دَ هلکو په هر لوری نشته شمار

همیشه فتح و نصرت دَی لا تر اوسه
پسله دا ده بیا تکیه په کردگار

اورنگ زیب راته یو کال وشو چه پروت دی
په صورت حیران پریشان په زړه افگار

کال په کال امرایان دِی چه پریوزی
چه طوفانی شوې لښکری کوم ئې شمار

خزانې دَ هندوستان دِی را خپرې شوې
سره مهران دی ننوزی په کوهسار

دا د هیچا په اتلس فکره نه وه
چه به دا کارونه شِی پدا دیار

دَ بادشاه دَ بد نیتیٔ کښ نشته
په بد نیت ئې آزار واخیست دَ خپل پلار

ځکه اوس دَ چا باور ورباندی نشی
هم بد نیت دی هم بد قول هم مکار

بله هیڅ لیدله نشی پدا منځ کښ
یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار

که گردش دَ اسمان دا دَی چه لیده شِی
که دَ خدای رضا پدا وِی راغی وار

اسمان هر کله پیرې یکرنگی نکا
گاه په کام دَ گل جار وزی گاه دَ خار

پدا هسی وخت چه وخت دَ نام و ننگ دی
دا بې ننگه پښتانه کا څه رفتار

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دی
بې دَ توری خلاصی نشته په بل کار

تر مغلو پښتانه په توره ښه دِی
که په پوهه پښتانه وَی څه هوښیار

اولسونه چه سند وبله وکا
بادشاهان ورته سجود کاندِی اختیار

که نفاق که اتفاق که جهل پوهه
دَ هر چادَ خدای پی لاس ده هره چار

افریدی مهمند شنواری گوره څه کا
دَ مغلو لښکر پروت په ننگرهار

زه تنها پکښی په غم دَ نام و ننگ یم
یوسف زئی فراغت په کښت و کار

اوس چه هسی بې ننگی بې ناموسی کا
عاقبت به ور ښکاره شی خپله چار

مرگ ځما په پوهه ښه تر دا ژوندُون دی
دَ عزت سَرَه چه نه وِی زیست روزگار

همیشه به په جهان کښ ژوندُون نه وی
د خوشحال خټک به پاتو شی یادگار

دَ دریمی خور اول کال دَ غفو[2] وُ
ما چه وې په برمول کښی دا اشعار

هر سړی چه لیونی کا خپل ذکر
په هر ځای کښ ئې منډِی خاوری په سر

دَ صحبت په کار کښ ډیر فکر بایده دی
له صحبته پیدا کیږی خیر و شر

چه سیپیۍ[3] ئې دَ دریاب نه وِی اصیله
کله ښه ترې پیدا کیږی دُر گوهر

پدا کار په توره ږیره خبر نه وم
دا یم اوس په سپینه ږیره شوم خبر

ښځه کښلې ښایسته پاکیزه بویه
چه ئې پلار نیکه له ځایه[4] معتبر

شرمناکه پرده پوښه دلاوره
آراسته په عقل و هوښ په ښه هنر

نه وهمی نه وسواسی نه بد معاشه
نه ئې مینه په دنیا نه زر زیور

که دا هسی محبوبه په لاس کښیوزی
له وجوده ئې پیدا شی ښه پسر

چه ئې مور او پلار تفچاق وِی خدای دِ نکا
چه بهانڼ خِنِی پیدا شی لکه خر

تر میرمنی وینځه ښه دَه په ښه خوی کښ
نه میرمن چه نه ئې خوی وِی نه بشر

---

١. خاپش.
٢. غفو د ابجد په حساب ١٠٨٦ کیږی.
٣. د سیند خاوند دا کلمه په معنی د کاجوغی را وړې ده، چه کریځۍ ورته وائی مگر دلته ښه نه ورسره لگیږی.
٤. ځائی دی.

آدم زاد په اصل واړه ادمزاد دی   ښه هغه چه خوی ئې ښه لکه سره زر
طالعمن قابل یو ویه دَ پلار بس دی   نه نابود زویه په کور کښ جوړ لښکر
چه حیا شرم لَری فرزند هغه دی   دَ فرزند خو دِ رشتیا غواړی پدر
چه ئې شرم حیا نه وی نه راستگوی دی   پلار دِ کا له هغه زویه نه حذر
چه نیکخواه دَ بابا نه وِی هغه زویه   گوره دَی دَ څه بلا لَری اثر
خپل وجود دَ خپل وجود په بدی نه وِی   بل وجود دَ بل وجود غواړی ضرر
که دَ خپل زویه په سر دَ پلار ښه کیږی   ښه فرزند به څنی نه ساتی خپل سر
ابراهیم چه اسماعیل ته تیغ تیار کړ   اسماعیل اِبا ونکړه پدا چر
اوس د دې زمانې زویه زویه ندی   مار لړم زیږی که لا تر دا بتر

یا دَ خپل اولاد دَ لاسه قاه جهان زده
یا خوشحال دَی په فریاد په ناره سر

نا خلف می حواله کړ په تقدیر   نصیحت ور باندی نکا ندِی تأثیر
خوی خصلت چه ازلی وِی نه نوریږی   په ارشاد او په تلقین دَکامل پیر
بد فرزند دِ خدای دَ هیچا پیدا نکا   په خصلت ئې پلار په ځان وی مور په ویر
چه نصیب دَ بو لهب وُ نور څه نشو   محمدﷺ که نصیحت کړ یا تدبیر
عیسیؑ یو ناپوه هوښیار نکړ په عمر[١]   که ړانده ئې په نفس شول ډیر بصیر
محمدﷺ دَ ابو جهل خوی نور نکړ   نه خصلت دَ بو لهب بیا موند تغیر[٢]
یَو زمان به خالی نه وِی له عذابه   چه خپل خوی شی و سړی وته سعیر
لکه سرای دَکاروانونو تل پایمال وی   په نادان ده خپله پوهه غم بهیر
دَ نا اهل سړی کار دَ جاهل کوم دی   چه مهمل ئې عبارت خالی تفسیر
د ناقصی پوهی پدل په کار ندی   دَ دانا فکر خطر لَری خطیر
یو جهان هسی گډ وډ ما ته بیږیه   چه مغل پښتون په غم وبله خیر
بل می زویه نالایق خیخانه ورانه   زه په زړه له زمانې هسی دلگیر
درسته مخه[٣] تیر انداز سړی خطا کا   دَ ټکی په سر دَ اوړکی لگی تیر
واړه زړونه پهٔ انش سَره سم ندی   دَ چا زړه دریاب دَ چا عدیر
په نری آواز په تراه له هر څه درومی   د هوښیار سړی به کار وِی دَ غځیر
تفاوت د هر وجود لکه مرغونه   یَو همای شو یَو کارگه شو بل کجیر[٤]
د کوتاه ترونی نرسی لاسُونه   بیا دَ ونو دَ میوې کاندی تفسیر
په هنر د هنر مند پیچمی ناخوال کا   بې هنر چه په هنر نه وِی خبیر
کاشکې دا دعوا عالم کاندی منظوره   چه سهار پاځی دَ نمر کاندِی تحقیر
په صابون ولَلی زړگی دَ هغه کس دَی   چه په زړه کښ ئې نفاق نه وِی تزویر
چه په هسی زړه به گرد غبار پریباسِی   مکافات ئې لاس په لاس شی دا منگیر
زمانه دَ ربابی د لاس رباب ده   هر زمان نوی نغمې دَ بم و ځیز
چه په خوا په خاطر نه وِی را پیدا شی   په لحظه لحظه کښ چاری دَ تاثیر
په لحظه احوال دَ جهان نور شی   دَ سبا دَ چاری فکر پیه ضمیر
هَرَه ورځ دَ زمانې احوال بد لیږی   هَرَه شپه نوی خوبونه نور تعبیر

---

١. هوښیار په معجز نکړ.
٢. دَ ځای بخری له تبدیل نشته تتغیر.
٣. موخه.
٤. و کرگسو وته جوړ کا منگلی   په مرداری چه ناستې کاندی کجیر

په ساعت کښې رنګ و خوند دَ چارې نور شي
وينه پېۍ شي پېۍ شنوبې شنوبې پنير

فراغت دی مبارک شي دَ ګيدړُو
دَ مزرې دَ غاړې بخره وي خنځير

باد باران ساړه غارمه لَره پکار شي
عاقلان چه مشقت کا په تعمير

يا ئې ځای په سر درو چه ليده نشي
دَ مزريو يا وژل دِی يا ځنځير

چه ژلۍَ دَ دهقان په تول شي سازه
په زړه ډير له دهقانۍ شي زهير

دَ دولت دَ ناوی مَهر ککړۍ دَه
پلو غوټه ئې دنيا ده واروه ځير

بې دولت چه له دولته نه محروم دی
دا ئې واړه په همت کښې دی تقصير

عاقبت دَ ناقابل دولت برباد وی
په طالع که يا امير شي يا وزير

کله څرخ دَ ژرندی آرد دَ هغه ورکا
چه غنم په ناپوهی کښې شعير

مارچوبه دِ تن دَ مار په شکل ساز کا
پخپل ځان کښې به د مار کښيږدی تأثير؟

وکيمخاب وته ئې مه غږوه سترګی
په وريښمو کښې چنجی دی دَ حرير

چه ئې پاس په اوږو واچَوی پړانګ پش شي
په ټکی ټکی شالونه دَ کشمير

دَ ناکام دَ پاره پاسه په سر کيږی
لکه زيږ غنډِی په وخت دَ زمهرير

کله خپل نمود په رنګ دَ ميو وکا
کله خونه شي دَ ماشيو خرانجير

پکښې واړه بيهوده حبطه حشو
لکه فرد دَ لغمانيو دَ تقرير

نا هموار دی نا هنجار دی نا پکار دی
بد سيرت دی بد فطرت دی بد خمير

برامد وربانډِی صوت د غراب دی
خوشامد پرې دَ ببلی ښه صفير

قباحت ئې د فاسق د نالايق دی
ظرافت ئې دَ ياوه دی د شرير

په جهان کښې بې شعور رذاله طبعه
حميت غيرت ئې تللی له ضمير

نه د نوم دی نه دَ ننګ دی نه دَ شرم
دَ بخچې دی د صندوق دی د توفير

چه پيشو ورته په څو فکر ئې نشته
هوَسيږِی لکه مږک په دنانير

تربيت بې ځايه واړه حبطه دی
کښيده دَ زرو نشی په حصير

زه ئې هيڅ په تربيت نکړم تقصير
ولی څه کړم نا خلف دی بد ضمير

دَ نطفې اثر می ولاړ پکښې ضائع شو
واړه پېۍ د مرجانی لَری تأثير

که لوګی دَ اور فرزند دَی پدا څه شو
چه نه تاو نه لکه اور هسی منير

سر رشته د ما د چاری هغه خط شوه
چه بې فکره دا نشا کښلی تقرير

په مقدار دَ خپلی چاری فکر غم کا
په دنيار کښې که غنی دَی که فقير

دريغه يو پکښې شهباز شوی يا خوشحال شوی
شل پنځه لَرم همه صفير کبير

مشران ئې د شړیِ ګنده پشم
کشران دِی په مثال اومه حرير

زمانه دِ ئې په قصد په کينه نشی
چه يو څو پکښې ګوهر دِی بې نظير

سيم وزر مس و سر ويل ترې پيدا کيږی
دَ مور نس لکه بوته دَی دَ اکسير

چه قابل دی هغه زويه پاينده شه
نا قابل دِ لا هلک شی سرو تير

نالايق زويه له موره پيدا مشه
دا لا ښه که ځنی وزيږی خنزير

يو لايق زويه تر زرو زويو ښه دی
ډير به څه کا څوک چه نه وِی دلپذير

دَ شوال وروستنیِ ورځ کال د غفا[1] دی
ما چه دا شپيته بيتونه کړل تحرير

خپل تدبير دَ لاسه مه پريږدَه خوشحاله
که کارُونه حواله دِی په تقدير

---

١. غفا د ابجد په حساب ١٨٠١ دی.

## (ړ)

په پښتو شعر چه ما عَلَم بلند کړ
د خبرو ملک می فتح په سمند کړ
مدعی د توری شپې اور اورکی[1] وُ
دَ سهیل غُندِی می ځان باندی ځرگند کړ
راز دَ زړه نه ساته نشی په زړه کښ
په ساته کښ ئې استاذ و ما ته پند کړ
یو په حال او په ماضی کښ هسی نه وُ
چه ښکاره ئې دَ خبرو راته خوند کړ
دَ میرزا دیوان می ومانړه په گوډی[2]
مسخره می ارزانی خویشکی امن کړ
که دولت وُ که واصل وُ که دا نور وُ[3]
په خبرو می دا هر یوه ریشخند کړ
کتلمې می ورته سازی کړې دَ قندو
دَ اوربشو په ډوډیو چه چا شخوند کړ
لعل و دُر می ورته پییل د نظم
دَ مشکنیو بنجاره می مستمد کړ
هر کلام می واردات دی یا الهام دی
چه موزون می په تقطیع دا بحر بند کړ
په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کښ
عذوبت می دَ خبری چند در چند کړ
په تازه تازه مضمون دَ پښتو شعر
په معنی می دَ شیراز[4] او دَ خجند کړ
دَ بوستان ونی می واړه پیوندی دی
حقیقت می د مجاز سَرَه پیوند کړ
نه اندوه دَ مدح وذم نه هغه کس یم
چه دَ زړه په زور می شعر چا پسند کړ
په پارسی ژبه می هم ژبه گویا ده
په پښتو ژبه می خلق بهره مند کړ
دَ جاهل په بخره تش سر ښورَول وِی
آفرین می په خبرو دانشمند کړ
یا به درست په حسد ډک یا به جاهل وی
چا چه زړه پدا خبرو نا خورسند کړ
جاهلان لکه کارگه گندگی خواره دی
شنو طوتیانو به دَ زړه مهر په قند کړ
نه می سود نه می مقصود شته پدا کار کښ
محبت ځما په غاړه دا کمند کړ
که نور سود له شعره نه لَرم دا بس دی
چه حاسد می دَ حسد په اور سپند کړ
چا ځما مړوند ټینگ نکړ پدا کار کښ
ما دَ هر سړی نه خلاص په زور مړوند کړ
هم دَ زار دی هم دَ سخ که فهم وکړې
زړه چه تا دَ شاعریَ کار پسند کړ
سخ دِ دا چه سخندان دَ زمانې شوې
زار دِ دا چه دِ په فکر زړه نژند کړ
تر قیامته به یادیږِی په جهان کښ
هر سړی چه خدای په فضل ارجمند کړ

عشقه ته تر اورنگ زیب پادشاه بهتر یې
چه خوشحال دِ په عالم کښ سر بلند کړ

## (ک)

څه داغونه ږدې په زړه باندِی فلک
چه نظام[5] دِ لما بیل کړ خوا ئې ډکَ
خدایه ته خو ستمگر نه یې دا څه کړې
خلقه دِ پدا کار کړه هکه پکَ

---

١. یعنی کرم شب تاب.
٢. گوډ یعنی کنج او زاویه سید راحت لیکی چه گوډیَ بنیَ او مشک ته هم وائی.
٣. میرزا او ارزانی او دولت او واصل د پښتو زاړه شاعران دی، چه تر خان دمخه وه.
٤. مراد ځنی شیرازی حافظ او کمال خجندی دَی چه د پارسی نامتو شاعران دی.
٥. نظام د خان زوی وُ، چه دا د هغه مرثیه ده.

په لحد کښ هغه مخ خوري په چنجیو — چه دَ هیچا پرې پیرځو نه وه جوانکَ[١]
په غمونوو کښ دِ زوړ په دنیا پایی — دَ زاړه په ارمان ته ومرې کودک
کشکی ځوان دَ پښتانه په ننگ کښ مړ وَی — نه چه گور لَره روان شو له تولتکَ
چه دَ قام په ننگ کښ ومړ هغه زویه — په عالم کښ دَ خپل پلار غاړه کا لکَ
رنگ دَ اوښیو سَرَه ویوست ځما سترگو — نور به نه راشی ځما له مردمکَ
لاس و دست دې سَرَه درست درهم برهم کړی — دریغه دریغه لاس در نَرَسی فلک
نظام لس میاشتی بیمار زه په شل کروهه — دا شل کروهه راته لا ډیر شول تر لک
هغه وخت په بیارته نه راشی نظامه — چه به نه وتې دَ خپل بابا له وکَ
که حیا وه که وفا وه که صفا وه — ښایسته ستا په وجود وه هَرَه یکَ
اسماعیل غُندِی به دی راته تسلیم ؤُ — که په حلق می دَ نظام کښیښوه گزلکَ
که د پلار په رضا زوی درومی جنت ته — سکه نظام ور لَره وَرَغی بې شکَ
خدای می نور گلونه جوړ لَره پباغ کښ — که یو گل ور ځنی پریووت له خونکَ[٢]
زه به ولی هسی ژاړم یا به نه خورم — که په نه ژړا می مل شې زړه به څه کَ
څو ژوندی په دنیا پایم خدای دِ نکا — ستا څهره ځما دَ زړه له تختې حک
دَ نظام دَ غشی یو برابر نه دی — که خوشحال په زړه خوړلی ډیر ناوکَ

مگر زړه ئې دَ هاتی وِی چه زغمی ئې
دا شیتیءِ چه دَ خوشحال په زړه شوه لکَ

## (ل)

زه دَ شعر په کار هیڅ نه یم خوشحال — ولی خدای می کړه په غاړه دا مقال
نه په فکر نه په ذکر را برسیر شې — ناگهانه لکه وور دَ ښنگال
رنگ ځما دَ شعر هیڅ سَرَه ساز ندی — لکه سپی را پسی گرزی په دنبال
ښکاری[٣]سپی چه دَ نخجیر په ښکار کښ ښه شی — له خوشیءِ ئې په مخ مړی رویمال
که دَ شعر وَیل هر څو دَ صفت وی — بیا په شعر کښ پیدا کیږی انفعال
دا خبره بده نه ده چا ویلې — په تحقیق چه شعر حیض دَی دَ رجال
په جهان تر شاعریءِ بد څه نشته — خدای اخته مکړه سړی پدا جنجال
تفکر دَ شاعریءِ لړمون شین کا — دَ غلیم دِ په نصیب شی دا اشغال
یو ئې زړه له واړه خلقو نه جدا شی — بل اخته وی دَ خپل فکر ثه نکال
بل د هیچا ناخونده په جهان نه وړی — بل دَ هر سړی د خوی وی بد سگال
بل که هر څو دُر گوهر پیئی په شعر — عیب جویه جاسوسی کا دَ افعال
هر شاعر ئې په وَیلو گوت[٤]منړی کا — که په شعر کښ ته من یې دَی مثقال
بل په هسی شان دروغ پکښی ویل شی — چه پخپله دروغجن شې دم درحال
دَ یار مخ دَ لاله گل سَرَه نسبت کا — دَ لاله دَ یار له مخه څه مثال
دَ هوسیءِ دَ نافې وینی نابودی — برابری کا دَ یار له خط و خال
دَ یار قد له سبر ونی سَرَه سم کا — سبر ونه دَه په باغ کښ نو نهال

---

١. د دې کلمې اصل نسو را معلوم.
٢. دا کلمه حل غواړی.
٣. تازی سپی.
٤. یعنی انگشت زنی چه مطلب ځنی تنقید دی.

دَ معشوقی توری سترکی غمزه گری
په غزل کا لکه سترگی دَ غزال

سر هوا لکه تبجن هسې وئیږی
دَ خپل ځان سَرَه خوله پټه ځواب سوال

خلق خوښ په خوب اوده وی دَی بې خوب
دَ پالنگ دَ پاسه خوب وی پر محال

پټ په پټ وبله اوړی تر صباحه
دَ ښه لحظ دَ ښه مضمون په اتصال

چه د شعر فکر ورشی په مجلس کښ
نور عالم خندا هوس کا دَی ملال

چه د شعر فکر ورشی په نمانځه کښ
دَ اعوذ ذال بدل کاندی په دال

چه د شعر فکر ورشی په خواړه کښ
سپینی وریژی[1] په مزه شی ورته گال

کله کله ئې مخ پټ[2] شی په ډیر فکر
چه په ده دَ لیونتوب شی احتمال

دا همه دَ خپلی پوهی نتیجه دَه
چه شاعر له فکره نه وِی فارغبال

فلاکت دَ شاعرۍ سَرَه مل دی
که شاعر سرِی لَری جاه و جلال

دَ دنیا په مال ئې هیڅ نه وی وتَنه
راشه وگوره دا مال او دا منال

سمرقند و بخارا څه، هغه زه یم[3]
چه جهان بخشم دَ کښلی مخ په خال

ما دا څو توگه چه ولیدل دَ شعر
هی توبه دَ شاعرۍ دَ افعال

کشکه زه بې ژبه گنگ وَی شاعر نه وی
تر دا هسی گویایۍ ښه وم لال

که رشتیا وایم چه غور می پرې وکړ
شعرکار دَی د ملوک یا دَ هزال

که دَ شعر مذمت عیبو نه ډیر دی
دا هنر دَ شعر ښه لَرِی اقبال

در گوهر یا د لولۍ یا د بی بی دی
ښه قماش یا دَ بادشاه یا دَ رذال

چه دَ شعر په سبب سَرَه یادیږی
که حسَن دَی که خسرو دَی که کمال

دَ دوږخ لمبې به کار په عاشق نکا
چه ئې تاو دَ درونې دی په دا دال[4]

دانائی علم و حکمت پکښې زیاتیږی
څوک چه ښه وکا دَ شعر استعمال

دَ خبرو تنستې چه واو دې شې
څوک اطلس وو دِی په شعر ځنی شال

دَ هر بحر ئې په شمار واړه حرفونه
په تقطیع سَرَه ئې جمعَ انفصال

دَ صفت کښلی ټکۍ پکښې روغی
دَ تجنیس او دَ ترجیع او دَ اشکال

په غروض کښ کارستان و کا حیران شې
د خبرو ناوې کښینَوِی تمثال

کرامت دَی یا اعجاز دَی یا جادو دَی
چه په شعر را پیدا شی له قوال

په هر بیت ئې هسی شوَلِی وی چه پاڅی
لکه زیږی په ډیر درد سَرَه اطفال

دَ شاعر ویل اوبو سَرَه نسبت کړه
تور وې تریخی اوبه یا خوږې زلال

شعرکار دَ هر فاسق دَ فاجر ندی
نه دَ هر یو وړی سترگی دَ کنگال

شعرکار یا دَ سالک یا دَ مالک دی
دَ عاشق دی دَ دردمن دی دَ ابدال

د هغه شاعر دانې وشه په ژبه
چه دَ شعر دُر دانې پلوری په مال

چه دَ شعر و شاعرۍ مذکور وشو
څه خو غوږ باسه ځما په حسب حال

قصیدې لرم غرا له هَرَه بابه
په حکمت په نصیحت کښ مالا مال

په تعریف دَ دلبرانو غزلونو
په صفت دَ سترگو وروځیو زلفو خال

رباعی ده که قطعه که مثنوی دی
همگی واړه گوهر دِی دُر و مال

په پارسی ژبه که نور تر ما بهتر دی
په پښتو ژبه می مه غواړه مثال

طبیعت می عطائی نه دَ تحصیل دی
که خبر یم دَ املا په استعمال

یَو ساعت می به په درس شل می په ښکار وُ
کله ښکار پریښوم په کسب دَ کمال

---

١. بې مزه شی.
٢. مخبط شی.
٣. دا بیت د حافظ په دې قول قلمیح دی: بخال هندویش بخشم شمرقند و بخارا را.
٤. په ځنو نسخو کښ وال هم راغلی دی.

دَ جهان تحصیل به کل واړه ځما وُ
که اخته نه وَی دَ ښکار په اشتغال
غاښ وتِلی ږیره سپینه لا تر اوسه
باز په لاس ګرزم په غرونو په جبال
بند و بست دَ پښتو شعر ما پیدا کړ
ګنه شعر دَ پښتو وُ غیر سال
نه ئې وزن نه تقطیع نه ئې عروض وه
دوه مصراع ئې دَ خفیف بحر دوه طال
دَ غزل نه ئې مطلع نه ئې مقطع وُ
نه صفت نه ئې تشبیه نه ئې مثال
مګر زه ئې چه ګویا په شاعری کړم
پښتانه ئې پوهَوَل ایزد تعال
پدا بند و بست به نور تر ما بهتر شِی
پسله ما چه کا دَ شعر قیل و قال
نن ځما زویه یو څو دی برخوردار ښه
چه پدا هنر کښ نه لَرِی همال
که دَ شعر ویل عیب یا هنر دی
دَ ښه مخ له محبته ئې دَی حال
محبت دَ همای سیوره دَه که څه دی
که کیمیا دَی زرکَوِی سنګ و صلصال
دَ عاشق له رګه وبَهَوی وینی
چه جراح د معشوقې وهی قیفال
زړه چه خوږ دَکښلی مخ دَ مینی نه وِی
پکښی مات شه د تیره توبری سفال
عاشقان چه په ښه مخ کا هونبره مینه
مګر خدای وینی دَکښلیو په جمال
ګلستان ځما دَ نظم شګفته شو
پرې وهی شیدا بلبله پر و بال
ګلدستې ئې لور په لور په ملک خپرې شوې
تر کابله تر کشمیره تر بنګال
هر مضمون ته چه دَ زړه توجه وکړم
طبیعت ئې راکَوِی په استعجال
شبستان می دا بکارو معنو ځای دی
تی ئې نمونږم په غدو په آصال
دَ الهام غُندی خبر وی چه را درومی
چه ځما په زړه نزول کا لایزال
درست دیوان می لکه باغ د علم ګنج دی
پکښی هر رنګه ګلونه هر نهال
دَ دیوان می که بیت بیت سَرَه حساب کړې
تر څلویښت زره به تیر شی په سر کال
په غزل په رباعی می زړه مین دَی
چه مداح یم دَ دلبرُو دَ جمال
په هجران کښ ئې بلبل غُندِی فریاد کړم
که ئې نه موم ګلونه دَ وصال
چه به ما لیدل په سترګو هغه ولاړل
مخ ئې زه په تصور وینم په خیال
دَ هغو دلبرو پښې شوې توری خاوری
چه په پښو ئې ژرنګیدل راته خلخال
دَ څړیو به ئې ږغ لکه رباب وُ
په آواز به ئې د ما وُ وجد و حال
په دیدن به ئې له درده رغیدل وُ
جدائی ئې لکه درد وُ دَ اسهال
دَ ځوانیِ په وخت ښه سَرَه جوړیږی
ډیری جونه یَو زلمی سَرَه همسال
که یَو دم ئې جدایی وبله وشِی
زړه ئې بیا وِی و وصال وته کشال
په نوبت نوبت می ولیدې دلبری
یا دَ تورو ویښتو عشق وُ یا دَ خال
اوس دا نوی ښایسته که هر څو یار کړم
دَ ځوانانو څه پروا په پیر زال
که بوسه ورځنی غواړم ور نیژدې شم
په خندا خندا می غوڅ کا په ناخوال
دَ هغه یاری په کار نده د کښلیو
چه په مخ باندِی ئې نه وینی توروال
چه دَ کارو باره ووزی په زوړوالی
کوم صفت دَ هغه خره کا خر دلال
زوړ که سپینه ږیره توره په خضاب کا
ځوانی ښځی وته ځان کا ځوان رجال
نه د سپینی ږیری عیب په خضاب ځِی
نه دَ تیر عیب پټیږی په سعال
دَ سړی د عمر کار راته ښکاره شو
کله بدر کله سلخ کله هلال
په ځوانیِ کښ هر کار په سړی زیب کا
په پیریه کښ زشتی لَرِی هر خیال
دَ زاړه نه زړه دَ ځوانی ښځې خوږین دی
که ساتی ئې په نعمت او په نوال
دَ ځوانیِ وخته که بیا راتلی په بیرته
ما به ځار کړ تر خپل ځان واړه اموال

دا هم ښه چه می پرې سود دَ خاطر کیږي
په بوسه د شکر لبو زوړ ځوانیږی
باز د خپله ښکاره نه وزی چه زوړ شی
چه دلبری ظاهر بینی شوې بدکار دی
عاشقان په سپین ویښته کله زړیږي
دَ ایمان سلامتی دَ هغه کس ده
چه د کښلیو دَ جمال برکت ډیر دی
په محشر به مینه وړمه دَ زړه سنگو
زه مداح دَ هیچا نه یم بې دَ کښلیو
زه څه خدای په کښلی مخ باندی مین دی
نه می طمعه له چا ده چه مدح گوی شوی
که له هجوی له غندنی درته وایم
فردوسی لَرِی څو بیته له محموده
چه دَ دور شاهنشاه دَ ذم لایق شو
ما هم هیڅ تقصیر په ذم دَ چا ونکړ
که محمود بنده زاده وُ دَ خپل پلار وُ
چه په رنگ په خوی خصلت دَ بابا نه وی
درست عالم په خوی خصلت دَ خپل بادشاه وی
که له خپله حقیقته درته وایم
په آباوُ په اجداد خان و سردار یم
که بَرَی که هزیمت واړه لیدلی
پلار نیکه می شهیدان و گور ته تللی
که به ډیر په هزیمت را څخه توی شول
لکه دم پخپل همت بیا به هغه وَم
که دَ جنگ دَ پرهارونو درته وایم
یو پرهار می به لا روغ په وجود نه وُ
چه قضا دَ سړی نه وی سړَی نه مری
قدردان د ما دَ کار شاه جهان وُ
چه نیکخواه بد خواه همه ورته یکسان دی
چه دَ ده دَ بادشاهیِ دَور وشو
په دوران ئې درست جهان سَرَه گډ وډ شو
چه پخپل بابا ئې نده صرفه کړې
چه دَ ښو سړیو قدر باندی نشته
لکه دی ځما زوال وته ناظر دی
دا همه د ما دَ توری صدقه ده
نن به درست دَ هندوساتان دولت دَ دوی وُ
یگانه ځوانان که زر لما سَرَه وی
که هر څو ئې سازَوم رانه سازیږی

چه تازه دلبره وینم پدا کال[1]
دا خبره تجربه ده دَ خوشحال
تر زاړه مزری ځاریږه ځوان شغال
دَ انصاف رانځه ئې وشوی په کحال
لا په گورکښ به ئې هم نشی احوال
چه ښه مخ وینی په وخت دَ ارتحال
مخ ئې ځکه مبارک نیسی په فال
که پدا درنیږی تَله د اعمال
دَ نور چا په صفت نه لَرلم یو قال
گوره احسن القصص په استدلال
نه می چا سره لباس شته نه ټیټال
فردوسی می پدا کارکښ ندی سیال
زه لَرم دَ اورنگ زیب دَ ضم جوال
دَ غندنی گڼه هر یواق[2]سقال
دَ اورنگ پادشاه په غاړه دا وبال
په زوونه کښ خو نه وُ دَ بل آل
هغه زویه دَ بل آل لَرِی مآل
لکه دَی وِی دَ عالم وِی دا خصال
زه ځائی یم دَ مغل نمک حلال
کار نامې لرم دَ جنگ او دَ جدال
خوی خصلت لرم دَ قتل دَ قتال
پښتا پښت می هنر دا دَی آل په آل
وړاندی وروستو په یمین او په شمال
په بل جنگ کښ و نصرت ته په آمال
چه له درده می به تن وُ لکه نال
بل پرهار می به په تن شو یا په ډال
که ئې درست وجود په عشیو شی غربال
دَ اورنگ بادشاه ښکاره دَی خود احوال
نه تمیز نه ئې دَ عدل اعتدال
په دوران ئې لور په لور دَی اختلال
ته به وایې زمانه شوه دَ دجال
د جفا ئې په دا نورُو څه اهمال!
ځکه زه ور ځنی گرزم په جبال
زه لا نه غواړم دَ ده هسی زوال
پښتانه چه پر گنې خوری سیورغال
پښتانه که کم همت نه وَی جهال
نور ځما و په پنجاب باندی یرغال
پښتانه دی د تږو کاڼیو دیوال

---

۱. په هر کال.
۲. په تورکی یعنی سپین ږیری.

هونبره قام هونبره عالم سردار ئې هِسی
سرگرادان گرزه په تیښته دا منوال
دَ دانا سردار د تیښتی شرم نشته
چه علاج کا دَ غلیم دَ استیصال
تر اویا کالونو تیر شو د ما عمر
زړه هغه دَی تن پیریَ کړ پایمال
لکه ما به له مغل وهلې توری
دریغه دریغه په ځوانیِ وی دا حال
نوې میاشت دَ محرم غصه[1] ئې کال دی
په غلیم می غصه وریږه دا کال
خدایه هونبره مهلت ورکړه په دنیا کښ
چه کاږه کارونه سم کاندیِ خوشحال

هغه خدای چه بندی کړی دی خوشحال
هم هغه به ئې خلاصی کا په هر حال
مه منت دَ خویشکی میشکی باندی بار شه
نه منت دَ باقل زیَ دَ بقال
نیستی واړه په نصیب د بیگ محمد شوه
په نیکی واړه په بحره دَ جلال
نام و ننگ ناموس که دا دَ افغانی وی
چه ښکاره ئې شو پدا دور احوال
مخ دَ درست غوری دِ تور شِی په تبیَ
بیا دَ واړو پشتو ژبی په دنبال
دا ناسازی چه پما شوې که په دوی شوې
دروغجن یم که پرې نشوی سر و مال
که دَ سمی که دَ غره دی یوسف زیه
همگی مزری دی مه ئې وه زوال
ما د دوی سَرَه دَ ننگ پالنه ښه زده
که می عمر سَرَه تیر دَی په قتال
دَ حریف قدر حریف وته ښکاره دی
ښیښه گر په ښیښه گر زده کلال په کلال
قیمتی دَ قیمتی سَرَه جوړیږی
په یوه مزی پییل شی دُر و لال
که د ما دَ دوی سند و بله یو شی[2]
څوک د مور زویه لَری د مخ مجال
که خوشحال ختک ورابیا موند په جهان کښ
خود به ووینې دَدې چاری مآل
زه له خپله خدایه خوښ له خپله قومه
په عزت دِ لَری واړه ذوالجلال
هغه څوک چه دَ بدیَ دَ معرکې دی
خجالت ور لَره بس دَ خپل افعال
که کفران ئې دَ نعمت په جهان کړی
خود به بیا مومی جزا دَ خپل اعمال
دغه یَو خو کا لعدم دَی په معنی کښ
دغه بل دَ دجال خر دی یا دجال
خجالت لَره ئې خر وهی په گیډه
کله سالی چاری کاندی غیر سال
خو به هیڅکله دَ آس برابر نشی
که دَ آس غُندی پیدا کا سم ویال
مشگیرگ خو مشگیرک دَی باز به نشی
که اوږده لَری تر بازو پر و بال
دَ اُوړو پیشو خو سازه کړی میو څوک کا
هوښیارانو ته ښکاره دَی دا مثال
خال و خط پرې حبطه ځان دَ خندا کا
چه بد رنگه ښځه کښیږدِی په مخ خال
عاقبت هغه چندخ[3] په خواری خوار شی
چه واته کا له دریابه په جبال
حبشی دِ نوم په ځان د هلال کښیږدی
په دا تش نامه به هیڅ نشی هلال
په ړندو سترگو رانځه زیبائی نکا
نا قابل دِ هوس نکا دَ اقبال
چه لوئی غواړې هنر دَ لویيَ زده کا
بې زینې دی په محل خاته محال
دَ سړی لوئی په رنگ په پساله نده
په همت ده په هنر ده په خصال
نه د خلقو بد نامی نه جام دَ زرو
نه د خلقو نیکنامی په لاس سفال[1]
پدا هسی رنگه کار به راضی نشول
که ئې فکر اندیښنه وَی یو مثقال
که ئې زویه نمسی ما وَی په کور کړی
دَ غزت می به لا هم نه وکیال

---

۱. غصه دَ ابجد په حساب ۱۰۹۰ کیږی.
۲. که د ما د دوی منې سره یو شی.
۳. یعنی چنگوښه.

که یو څو ګاهه ژوندی وم پدنیا کښې
خو به واروم دَ مدو دَ بابا حال

که څه حق شته دَ نیکئ پہ جهان کښې
ناسپاس به ګرفتار شي په نکال

زهو زاد به ئې ښخیږی بې کفنه
په جهان کښې به رسوا ګرزی کنګال

ما پخپله په ځان کړی دی دا چاری
چه می ورکړه وَ نااهلو دا منال

چه همیش په یَوَه حال وی هغه خدای دی
په سرِیو باندِی تل نه وِی یَو حال

که په نحس طالع بند شوم عیب نشته
کله کله تندره هم نیسی هلال

څلوریښت کاله می خوړه کامرانی وکړه
څه شو چرخ که مخلف شو یَو نیم کال

نه پرکیږی نه فریاد کا نه چیچل کا
هر هوښیار مرغه چه لاندی شی تر جال

و تقدیر وته ځان وسپاری یکباره
راضی نه وی په پرخاش او په جنجال

دَ خدای حکم چاری ندی بې حکمته
هیڅ دَ دې خبری نشته قیل و قال

خپلو ورونو یوسف واچوه کوهی ته
مشرف شو دَی په جاه او په جلال

واړه چاری په قسمت په مشیت شی
باد په لاس دَ منجم دَی دَ رمال

دَ هغه چه زړه محکم په توکل دی
نه په خوب باندِی نظر کا نه په فال

څه یوائې په ما نَدَه که ژوندی وی
اورنګ شاه بادشاه به ډیر کاندی پایمال

ده په لاس دَ بخت نصر ظلم واخیست
زه دَ ده له لاسه بند لکه دانیال

حق ناحق ئې چه څوک راشی په منګل کښې
خواره وی ئې غم ئې نه وِی دَ وبال

چه په پلار باندی ئې نده صرفه کړې
په نور چا ئې څه صرفه څه ئې اشکال

که رشتیا وایم دا هسی بادشاه نه وی
واړه کار ئې دَ رهزن دَی دَ داړوال

یو په ظلم یو په مکر نور څوک نشته
که حجاج وی که یزید وی دَ ده سیال

دَ هغه بادشاه به نمونځ دَ غاړی طوق شی
چه دَی نه لَری دَ عدل اعتدال

نه انصاف شته نه تمیز نه نور د عدل
په دربار ئې تاریکی ده غول و غال

امرګان ئې همګی دَ ده په رنګ دی
هر خپله دَ خپل کردار کا استعمال

چه په اصل په نسب ئې نظر وکړې
لږ په دیو کښې اصیل دِی ډیر هزال

دَګدای له لاسه هم پوچک را نیسی
که په کور کښې ئې مهران سی په جوال

سید میر او میر بابا بادشاه هوښیار هغه دی
که د دې خبری غواړې استدلال

دَکابل صوبه خرابه هغه سګ کړه
د ابل شپی په بنارس کاندی دا چال

په دوران د دې بادشاه هوښیار هغه دی
چه وطن کا په فرنګ په پرتګال

مقرب ئې فدائی عبدالقوی دی
چه تل کاندی دَ بدئ اشتغال

یوسفیه دَګجرات دَ ده قاضی دی
چه دَ ده غُندی به بل نه وِی هزال

په دربار کښې ئې عزت د نور چا نشته
پیشګاران ئې دِی بد ذات و بد سګال

دَ نیکئ حکم ډیر په تأمل کا
دَ بدئ حکم کا په استعجال

اول دی بیا ئې دا نور دَ خدای دپاره
چه په پڅه چاړه واړه کړې حلال

په خوشحال باندی خو وار دَی دا دی راغی
خدای د درست جهان ساتی لدې جیپال

پدا هسی حال هم شکر کړی بویه
که ښه کال می کښه ولاړه تر هنګال

په بل کال می ویره شی ولاړه دِ نشی
په ملکو نو تر شهال او تر توروال

پښتانه لَره منصب ندَی عضب دی
چه تلاښ دَ اضافو کا لا بې دال

که هزار کاندی پښتون مغل به نشی
بویه دا چه له زړه وَباسی دا خیال

دَ هاتی دَ مزری روغه که څوک غواړی
هیڅ دَ دې خبری نشته احتمال

پښتانه لَره شرئ انډیرئ ښه دی
نه اغوستې د مغل دَ مجرې شال

ما وې زه به دَ مغل په نوکری کښې
رکیبونه کړم دَ سر، د سپینو نال

په ناحق ئې ځنځیرونه را په پښو کړل
واه واه هسی نوازش هسی آمال

امرگان می په دربار کښ ډېر نیکخواه دی
په خاطر دسَ سید میر دی واړه لال

آفرین دَ میر جمله په زویه باندی
چه نن دَی دَی میر بخښی په استقلال

که هزار توری چاړې غشی وریږی[1]
ده دَ ما په سر نیولی دَی خپل ډال

که بادشاه که اَمرا ځما دَپاره
دَ هر چا سَرَه دَ ده دَی جواب سوال

بل میرخان دَ خلیل خان زویه تلاښ کا
بل دَ نیکو نیت لیده شی دَ کوټوال

چه په نیم ویی ئې کار کیږی دَ خلق
دَ خلاصیِ می همیشه کاندی جدال

لا تر اوسه کار موقوف په اراده دَی
گوره څه دی لا دَ دې چاری مآل

چه له بخته یاری نه وِی پدا څه شی
که جهان دِ بیکخواهیِ کا میاشت و کال

دَ رنځور زحمت دَ خدای په حکم درومی
په طبیب باندی خو سعیه ده کمال

مخ دِ تور دَ سید شمس شی دواړه لوریه
چه هر گوره بې بدل دی په ټېټال

دَ خلاصیِ خلل ده گاه کړ په منځ کښ
چه ئې کړ په ماضیِ کښ اهمال

که دَ بند او دَ زندان مشکل آسان شی
وار په وار به خدای آسان کا کل اشکال

په څیله پسی گلونه دَ بهار دَی
په اهاړ پسی را درومی ښکال

چه په ژمی ښاخ بری وشی دَ ونی
په بهار کښ ئې لا ښه وِی پر و بال

لا به کله دَ خلاصیِ زیرَی وشی
چه ښادی می شِی په اهل په عیال

چه همیش په خوشحالیِ آموخته وی
هغه زړُونه دِ خدای نرلی ملال

انتظار د دې خبری ډېر عالم کا
ولی خوار ختک به واړه شی نهال

لا به کله هغه وخت هغه ساعت شی
چه به وینم دَ یارانو ښه جمال

دَ هجران محنت به واړه فراموش شی
که ښادی را باندِی وشی دَ وصال

څوک به خاندی څوک ژړا کا څوک به آه کا
په هر ځای چه دا بیان بولی قوال

زر پنځه اویا کالونه دَ هجرت وُ
په آغاز دَ نوی کال شو دا مقال

## (م)

څو وانخلی له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام

چه دَ ننگ او دَ ناموس اندوه ئې نشته
دَ هغه سړی به نه وِی احترام

که همت او حمیت غیرت پکښې وی
تر ښځښتنه نه بهتر گڼه غلام

په ورو ورو پر قدم بِدِی وربانِدی خیژی
په یَوه ځله څوک نه خیژی پر بام

په طلب کښ که سستی نه وِی باور کړه
دَ ژوندون اوبه به بیا مومی په کام

واړه ورځی سَرَه نه دِی برابری
کله درد کله دارو کاندی ایام[2]

دَ مردیِ دَ نامردیِ تر منځ میل ندی
تفاوت ئې په ذره دَی یا په گام[3]

چه دَ بل تر لاسه وَرَغی دَ بل شو
مرد به خپل لَری دَ خپل فکر زمام

چه په ذات ئې پلار نیکه توری وهلی
پرې جوړیږی کار دَ توری د صمصام

دَکنبت غصه می وَ وته له دِله
خدای چه را کړ په ډوډه دَ برِی کام

---

۱. که هزار توری چاړې په ما وریږی.
۲. کله دارو درکا ایام.
۳. تفاوت ئې یا په زړه دی یا په کام.

چه په مخ ئې برې درومی عابد خان دی ‌ ‌ ‌ په هر ځای د خپل بابا کا تازه نام
خدای ئې عمر دَ خپل پلار کړه کام و نام هم ‌ ‌ ‌ په غلیم دِ ئې لاس بر اوسی مدام
غلیمان دِ تر حذر خوری که پوهیږې ‌ ‌ ‌ تیره تیغ ئې اږدهار دَی خون آشام
چه دا هسی تورزن ورور ئې خدای پیدا کړ ‌ ‌ ‌ پرې دِ فخر کا همه ورونه مدام
دَ لښکرو کار څه هسی آسان ندی ‌ ‌ ‌ چه پرې هر سړَی به مومی انتظام
چه دَ بخت یو څو ویښته لَرِی په سر کښ ‌ ‌ ‌ دَ هغه په مخ ظفر درومی مدام
چه رښتینی تر سر تیر بخښل حوړل کا ‌ ‌ ‌ د هغه دوړاندې سر کښیږدی انام
دَ مزری بخره ور میږ دَ نیله گاو دی ‌ ‌ ‌ گیدړ تر وړی ئې مږیږِی په لحام
دَ میدان هوسیِ یو یو تازی نیسی ‌ ‌ ‌ ډوډیَ غپ په کلی ډیر گرزی انعام
د ډوډه حصار ئې درست په وینو شور کړ ‌ ‌ ‌ په ډوډه باندې چه وشو قتل عام
دَ ډوډې حصار څه هسی آسان نه وُ ‌ ‌ ‌ چه ئې فتح تیریدله په اوهام
پاس په غره باندِی محکم وُ چا وهَلی ‌ ‌ ‌ دَ کوهاټ تر کوټ ئې ښه وُ استحکام
دَ خاوند په حکم هسی فتح وشوه ‌ ‌ ‌ چه ئې کار شو په دوه ورځو سر انجام
دَ اووو کوټونو کار دَ خدای په حکم ‌ ‌ ‌ وار په وار شو په هفته کښ انصرام
له هیبته په اسمان کښ په لرزه شو ‌ ‌ ‌ چه دَ تورو خوپا وارویده بهرام
دَ ټوپکو دَ ویشتلو په لوگیو ‌ ‌ ‌ بل اسمان اتم پیدا شو کبود فام
دَ خټکو نیزې هسی تلې په زغره ‌ ‌ ‌ لکه ستن په خیمه درومی دَ خیام
دَ خټکو نیزه بازو سپرو توی کړه ‌ ‌ ‌ دَ بنگښو دَ سپرو فوج تمام
ډیر ځوانان غاړه غړیَ شول پدا جنگ کښ ‌ ‌ ‌ که تقصیر نه وُ دَ تورو دَ سهام
صدر خان لا چیری جنگ لیدلی نه وُ ‌ ‌ ‌ پدا جنگ ئې سر نیزه کړه په خصام
دَ شاهین مرغی چه والوزی له جاله ‌ ‌ ‌ په کاته کا نورو[۱] زانیو ته پیغام
شجاعت د هوښیارانو ښایسته وی ‌ ‌ ‌ بد جلب حبطه ومری بد لغام
دَ جهان ښادیَ واړه دَ هغو دی ‌ ‌ ‌ چه په حکم دَ یَوه لَری قیام
دَ گنبت ارمان می درست له دله وووت ‌ ‌ ‌ که شکست وُ که پرهار وُ که دشنام
په بد بوی دَ کشتگانو مځکه خسا شوه ‌ ‌ ‌ چه ریز ریز شوه په ډوډه کښ په حسام
عنایت سردار چه څه ملک میری وُ ‌ ‌ ‌ دَ ډوډې په جنگ شول مالگه دَ طعام
دَ بنگښ بخره دَ پالی دَ څوکیَ ده ‌ ‌ ‌ نور دی ننباسِی توره په نیام
څوک چه خپل کسب پریږدِی بل کسب نیسی ‌ ‌ ‌ تر هغه نه به بل نه وی عقل خام
که گاوز په جنگ باتور دی جنگ ئې هیر دی[۲] ‌ ‌ ‌ چه په سړو خوری څپیړه دَ ضغام
که بنگښ څخه څه ننگ وَی پرې به نکړی ‌ ‌ ‌ ما دَ ده له ډکه باغه یَو بادام
چه بې ننگه چاری کا په واړو ورشه ‌ ‌ ‌ لکه راغَی په بنگښو دا هنگام
چه دَ فکر بدرقه ور څخه نه وِی ‌ ‌ ‌ پخته کار به په لار نه اخلِی یَو گام
دَ بنگښو شامت خپل سزا ئې دا ده[۳] ‌ ‌ ‌ چه په غوښو ئې مږیږِی ددو دام
هر کهتر چه دَ مهتر سَرَه ستیزه کا ‌ ‌ ‌ دَ عمل سزا به مومی په انجام
هسی غم الم ماتم ور باندی راغی ‌ ‌ ‌ ړنا ورځ شوه دَ کوهاټ په عالم شام
دَ کوهاټ په عالم واړه عالم ډک شو ‌ ‌ ‌ دَ بنگښو کهه ولاړه تر بگرام
بد مذهب رافضی ډیر دِی په بنگښ کښ ‌ ‌ ‌ چه خبر ندی دَ شرع په احکام

---

۱. نو و زانیو.
۲. جنگ ئې هیر شی.
۳. د بنگښ د خپل شامت سزا ئې دا ده.

ناسنت په مردګانو کښې هم ډېر وُ
پدا جنګ کښې چه عالم شو انعدام

بنګښ کله پښتانه دی ګوره څیک دی
نه ئې ذات نه ئې مذهب نی ئې امام

دَ بنګښ له بده بویه به خلاص نه وی
که په ملک کښې سړی وَوینی تمام

دَ بنګښ په زړه کښې ډېره شیطانی ده
که په خوله و تاته شیخ شی دَ بسطام

که می پښه په ګنبت ونیوه هیده څه شو
په همت می ثابتی وه دَ اقدام

د ډوډه په جنګ کښې بیا له میوه ډک شو
په ګنبت کښې چه خالی وُ هغه جام

ښه چه مخ دَ هغه سوبی را ښکاره شو
چه لیدله می په خوب او په الهام

هغه کار چه تر سر وَرسیبږی بخت دی
چه په زړه ګرزِی په ویښه په منام

دَ سړی مراد هاله ورشی په غیبږ کښې
چه راضی شی ذوالجلال و الاکرام

تل تیره توره وهه که حکم نه وِی
یو ویښته به کښلَو نکا دَ اندام

که تری دی که بولاق رحمت پرې باندی
په سیالی توری وهلی واړه قام

چه اول ئې خپل نښان په غونډیٔ لک کړ
په رحمت دَ اڼو خیلو وُ ناکام

دَ تیری دَ منډ هڼو ښه تنبیه وه
پدا کار کښې دَ یوسف په اهتمام

شاهی بیګ مزرا دارو یو څو سپاره وه
نه وه نور د څو تیرې نمک حرام

پدا هسی وخت یو دوه ایسوړی نه وُ
نه خورم نه درویش خیل وُ بد فرجام

شابی خیل وُ که مکوړی به اولجه شول
دَ خورمو تبنې ښه وکړ خرام

عالم خان صاحب اولاد جمال الدین دی
په ساغری په بنګیخیل کښې د اکرام

شاهی بیګ ساغری په تن ملک میری دی
تر شیرا اول دَ ده کړی کار تمام

پدا جنګ کښې اولجې وشولې بې شماره
دَ ښو جونو دَ آسونو دَ انعام

توری زغری که لیندیٔ وې که درستې وې
په وسلو سَرَه معمور شو هر کدام[1]

شپېږ اوه زره خټک وه پدا جنګ کښې
په اولجه سَرَه خو شنود شو هر کدام

دَ ګنبت جنګ می په ننګ دَ پښتانه وُ
بل غرض می په منځ نه وُ نه مرام

یَو په لس ورباندِی وشوه یو په شل وه
که لښکر په ډوډه کړَی وَی مقام

د دې جنګ نارې به درومی په ملکونو
پرې خو ښېږی به همه پښتون په نام

چه د دې سوبی آواز وشی په هند کښې
بیا به ږغ شی دَ بادشاه په خاص و عام

چه په نام پښتون غوځیږی پرې خوښیږی
اورنګ زیب هسی بادشاه دَی دَ اسلام

دَ اسد تحویل زر یَو نوی رجب وُ
په دریم دَ جنګ آغاز شو دا کلام

په کاغذ کښلی خبری پاتو کیږی
دا بیان په بیاض ځکه شو ارقام

په غلیم باندِی د هسی فتح تل وه
لکه دا فتح چه وشوه و السلام

زمانې له ښو یارانو نه مهجور کړم
څه بلا ئې مبتلا په ډېر ضرور کړم

دَ بڼو اوښی می پاسه پر تارُونه
بیلتانه په تن په مثل دَ طنبور کړم

اوس پما دَ خوشحالیٔ نوم جوړ ندی
چه دا هسی زمانې له غمه پور کړم

ما وې ترق به سَرَه وچوم له غمونو
ولی لا تر اوسه پایم خدای صبور کړم

نوره واړه پښتونخوا په ځای میشته ده
خو یَو زه دې زمانې پکښې منصور کړم

اشرف خان په ناپوهی په غم کښې ونښت[2]
زه د ده غمونو لا په زړه رنځور کړم

۱. یو په سل سره معمور شو درست احشام.
۲. کښیووت.

جدائی دَ صدر خان لکه سوراور وه	که دَ واړو فرزندانو غم چور چور کړم
سل تناکی می هر آه سَرَه په زړه شی	په درون ئې لکه وړی دَ انگور کړم
هغه وخت مگر دَ خدای په وعده راشی	چه به بیا دَ خیلخانې سَرَه سرور کړم
دَ هر مخ خالونه داغ ځما دَ زړه دی	زه حیران ئې یادول په کوم دستور کړم
دا ارمان می هیڅ ارمان سَرَه سم ندی	که په زړه کښې ارمانونه نامحصور کړم
مرگ هونبره مهلت راکړه په جهان کښې	چه جمدر دَ مدعی په وینو سور کړم
چې می اوس له لاسه دَوتې اسمان شوې	د هغو خبرو څه لَره مذکور کړم
که ئې درست دَ متهو زور راته ښکاره کړ	بیا فلک سَرَه کشتی پخپل دستور کړم
نه به بیا په غاړه کښیږدم دَ ننگ توره	نه به بیا په قوم کښې کښینم نه به هور کړم
عجب مار می جار وتلی تر دوو پښو دَی	مگر لوی پاړو پیدا شی چه ئې دور کړم
مست هاتیان خونی مزری په خنځیر کیږی	بویه دا چه ځان فلک وته تربور کړم
پخپل آه می باور شته اثر به وکا	رقیبان به اور لړونی دَ تنور کړم
یَو دوه سری مار می پروت په دواړو پښو دی	په دیدن ئې له نشاته نه نفور کړم
پاړوگان دَ پیښور واړه ناقص ۇ	دایم هند لَره روان شوم که ئې دور کړم
چه می فکر دَ ازل په توری وشی	پدا کار کښې خپل پردی واړه معذور کړم
دا بیان می دَ غعد[1] په کال ویلی	په شعبان چه دَ لاهور په سیند عبور کړم

واړه خلق دَ خوشحال په پت وَلاړ دی
بخته تا له کومه لوریه را حضور کړم

پرورده که دَ مغلو په نمک یم	دَ اورنگ له جوره هم له غریوه ډک یم
په ناحق ئې په زندان کړم یَو څو کاله	خدای خبر دی که پخپل گناه زه شک یم
پښتنو سَرَه زړه تور دَی دَ مغلو	خبر دار ئې په نیتونو یک په یک یم
که سره که ناسره راته معلوم دِی	پدا کار کښې په معنی لکه محل یم
یا زه باز وَم یا شاهین شاه جهان ته	وَ اورنگ وته کارگه یا مشگیرک یم
هغه زیست چه دَ عزت له مخه نه وِی	چه ئې کا په هغه زیست پوری هک پک یم
اور ئې پوری په منصب په نوکری شه	چه تر فهم و تر نظر دَ مغل کک یم
پخپل نام و ننگ چه راشم لیونی شم	خبر دار که له په سود و زیان دَلک یم
چه په طعمه دَ اُوړو زغلی وَ شست ته	گمان مکړه چه هغه ناپوه سمک یم
تر قضا پوری دَ هیچا چاره نشته	او کنه تر زاړه ذئب لا ځیرک یم
و بینا وته سور مهر یم دَ زړو	په دلیل دَ نا بینا لکه یو چک یم
هیڅ[2] له قدره می وَگړی خبر ندی	که رشتیا وایم دَ سترگو مردمک یم
دَ چنبې تر گلو ډیر دَی ځما قدر	و بې شناختو وَته گل دَ پیزک یم
لکه باز په لوی لوی ښکار ځما نظر دی	نه چه گرزی گونگټ نیسی باد خودک یم
چه په غوښو ئې روزگار هغه مزری یم	نه چه ولی وښو خوری هغه مېرک یم
پدا سپینه بِریره شرم عزت ښه دی	څُه به نوری چاری کړم مگر خوردک یم
که عالم راته کُن تاو کا غم می نشته	په رشتیا وَیل د ډیرو پول پولک یم
پدانش په شعور نده په قسمت دَه	چه دا هسی سرگردان لکه پتک یم
هر پښتون چه دَ مغلو نوکری کا	که دِ زده دَ هغو واړو بهترک یم

۱. غعد ۱۰۷٤ کیږی، چه په دغه کال خوشحال خان د اورنگزیب په لاس بندی شوی دی.
۲. خو له قدره.

چه منصب می دَ مغل خوړ یو ملک وم[1]
چه منصب دَ مغل نشته اوس ملک یم
دَ فرمان دَ پروانې حکم ئې نشته
شکر دا چه پخپل حکم پخپل وک یم
نه می کار په خاص و عام نه په دیوان دی
نه په وَر ولاړ دَ هر یوه مردک یم
نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر دَ سند نه دَ دستک یم
هر گیدی به چه لما سر کوزی غوښته
دَ هغه دَ سر یا توره یا کوتک یم
که په بدو باندی شوم شوم زه ئې سو کړم
لکه ښه ستوری په اصل مبارک یم
هر ساعت را باندی عید دَ استغنا دی
که په نور عالم ژړا زه په خرسک یم
پښتانه لَره شړیَ انهٔپری بس دَی
نه په فکر دَ مسند نه توشک یم
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښ
خلاص له غمه دَ زربفت او سَ آهک یم
دَ رښو جونگړیَ هسی راته ښې شوې
وایې ناست په محلونو دَ آهک یم
که اوگره دَ بټو شته په شلونبو شپینه
دَ مغلو پلاو پاتو ډیر پرې ډک یم
چه نیولَی می دا هوډ دَ ننگ و نام دَی
که له خپله هوډه واوړم کنیرک یم
په بل غشی ټوپک هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل ټوپک یم
چه شهپر می بټی خیل ؤ کنهٔکپر شول
پروا دار په لنهٔو پرونو دَ بارک یم
دَ کریز بڼی می تویېِ لکه باز کړې
گمان مکړه چه بې پرونو ښاپیرک یم
سکه ورونه می تری دی جال ئې دا دی
له بولاقونه لا لیری یو څپک یم
په دروغ دروغ وعدې نفاق آمیزی
ما غلوِی ورته په مثل دَ کودک یم
تف په ږیره دَ همه واړه بارکو
لا ځما په ږیره هم که زه بارک یم
که دَ واړو پښتنو راته تسلیم دی
زه خو بیا دَ سباکیَ انا خښتک یم
نن خو قام را سَرَه ډیره جفا وکړه
کانده بیا دَ خدای و حکم وته ځک یم
که خټکو راته شاکړه مخ ئې تور شه
زه یوائې په تکیه دَ خدای شیرک یم
که څه حق یا د ورورېَ یا دَ نیکیَ شته
وپاداش وته په طعمه دَ هر یک یم
مهمندی ځما دَ کهٔی لاس وپښې دی
راضی من دَ افریدویو په کومک یم
ډیر چینې چه تراوش وکا دریان شی
چه لیده شم اوس خو دا یم یو بولک یم
کرلانی ځربنی څو پښتانه دی
زه دَ ننگ پکار له واړو مشترک یم
دَ هر چا سَرَه چه کښینی هم هغه شی
اوس می نیمه ژبه خوښه شوه شیتک یم
چه دا هسی رنگ ځما په سیله گرزی
منت دار په گرزیدنه دَ فلک یم
که می عمر په شماره تر شپیته تیر دَی
لا پکار دَ سواریَ لکه ازبک یم
دَ افغان په ننگ می وتړله توره
ننگیالَی د زمانې خوشحال خټک یم

چه قانع دَ زمانې په خشک و تر یم
که می پیژنې بادشاه دَ بحر و بر یم
نه می تخت نه می افسر نه می سپاه شته
په تسخیر دَ درست جهان ختلی نمر یم
په درون کښ می پراته دِی ډیر گنجونه
په معنی کښ لکه کان دَ سیم و زر یم
که می لاس لکه دریاب خالی لیده شی
دَ تپر دننه ډک په دُر گوهر یم
دَ طالع په سود و زیان می نظر نشته
سر تر پایه درست وجود واړه هنر یم
که می حلق له تندی وچ سی په همت کښ
پروا دار کله په حوض دَ کوثر یم
لا یو شور را ځنی لاړ نه وِی بل راشی
مگر زه پیدا په ورځ د شور و شر یم

۱. دلته لفظی تجنیس شته، لمړی ملک یعنی دَ اولس خان دوهم په معنی د فرښتې دی.

که لوئی می دَ اسمان سَرَه سیالی کا — په پستی تر تورو خاورو نه بتر یم
په سپین والی که می زړه تر واوری سپین دی — په تور والی دَ دوږخ دَ اور شرر یم
څوک می پرې موزه دَ قهر تر کمر و — که په حکم په سکون لکه تور غر یم
و باطن وته می گوره که دانا یې — په ظاهر صورت که هر څو محقر یم
دَ حاتم غُندی می خیل و حشم نشته — په عطا که له حاتمه برابر یم
سخاوت می په تقلید په رسم ندی — زه له ځایه دَ سخی بابا پسر یم
نه دا یَو عیب ځما نه ډیر هنره — چه بهرام ځما پسر زه ئې پدر یم
په وگړی می خبری دَ مردئ شی — په همت کښ په هر لوری نامور یم
دَ یاقوت دَ اوبو غم نشته له اوره — که دایم دَ زمانې په اور کښ در یم
خپل پردی سَرَه ډیر حلم هم ښه ندی — زه دا هسې درمانده په درگذر یم
څوک دِ هیڅ گمان په ما دَ روغو نکا — چه په ملک کښ لیونی دِی زه ئې سر یم
لا پردی را سَرَه بړ گړندی وکا — زه د خپلو په سلام کله په چر یم
څوک دِ لافی دَ خپلوالی راته نکا — چه په حال دَ نیک و بد و ښه خبر یم

زیست روزگار به می له خلقه سَرَه نشی
زه خوشحال له واړه خلقه مرور یم

زه پخپلو گناهونو توبه گار یم — چه می کړی دی په واړو شرمسار یم
پدا سپینه بږیره ما فضیحت مکړه — که په توره بږیره هر څو بزه گار یم
اوس و ما ته توان توفیق دَ طاعت راکړه — ستا و فضل و کرم ته امید وار یم
ستا له لوریه همگی فضل و کرم دَی — زه دَ خپلو شامتونو نه په ډار یم
نور عالم می په کردار خبر دار ندِی — زه پخپله خبر دار په خپل کردار یم
په عمل به هسی گبر و جهود نه وِی — لکه زه پخپل عمل کښ خوار و زار یم
هندو هم په نیمی شپې پاڅی خپل جپ[1] کا — تر هدونه دَ عمل په کار لا خوار یم
زړه په سلو فتنو ولاړ په سجده سر بږدم — همگی عمر دا هسی نمونځ گذار یم
نه ثواب دَ جماعت نه سود دَ نفل — دَ قضا نمونځونو هم لا تاوان دار یم
که حلال وِی که حرام مزه ئې بویه — په بزه دَ گولې کله پروا دار یم
خلقې ځما په فعل گور ته ولاړې — لا دَ نورُو وَوژو ته په تلوار یم
نفس و ماته حق ناحق کا ناحق حق کا — تل دَ ده تر فرموده پوری نا څار یم
راکښی خوی خصلت دَ دو اویا فرقو دی — په ظاهر دَ مؤمنانو په قطار یم
دَ هوا په دریابونو کښ غوټې خورم — دَ حرص په حصارونو کښ حصار یم
که په رسم په تقلید مسلمانی شِی — سخ د ما مسلمانانو سَرَه شمار یم
نفس شیطان راته په هره ساه په څو دی — تر وروستئ ساهی زه ځنی پډار یم
حمیده می لکه زر ذمیمه شگی — توری خاوری می په سر دی که زردار یم
اعتقاد ئې دَ خاصانو و ما راکړ — که زه هر څو په عمل کښ خوار و زار یم
دَ کونین پیدا کړونی لا شریک یې — پدا هونبره اعتقاد کښ استوار یم
که فرښتې که کتابونه د اسمان دی — په همه پیغمبرانو په اقرار یم
دَ قیامت په ورځ قائل یم بې گمانه — نیک و بد واړه لتا دِی خبر دار یم
پسله مرگه به ژوندُون دَ خلایق وِی — په دا واړه کښ له شر که نه بیزار یم

---

۱. یعنی ذکر.

پیغامبر می محمدﷺ دَ عبدالله دی — مینه دار ئې په اصحاب په چهار یار یم
امامان ئې دَ اولاد واړه پر حق دی — تر مهدی پوری دَ واړو خدمتگار یم
چه دښنه[1] ئې وَ اولاد او دَ اصحاب دی — په وکښنه ئې دَ بیخ او دَ تبار یم
دَ مذهب څښتن څلور دِی پنځه نه دی — حنفی سنی مذهب دَ دین په کار یم
دَ عذاب طاقت می هیڅ نشته بخښنه مِی — و درگاه لَره دِ درغلم طیار یم
چه هم ډک له گناهونو هم مغرور وی
زه خوشحال هغه بنده دَ خپل غفار یم

دَ نوروز منت په باغ دَی په صحرا هم — نو رانی ئې شی له فیضه هغه دا هم
چه په باغ کښ رنگا رنگ گلونه وا شی — غنیمت ده دَ گلونو تماشا هم
لخلخې دَ نو بهار په هر مشام ځی — گلدستې ئې څنډوِی پیر و برنا هم
دَ گلونو هار په غاړه دَ دلبرُو — شرمَوی لعل و یاقوت لؤلؤ لالا هم
دَ معشوقُو په زلفینو کښ ځای وکا — ښایسته گلونه پاس په وربل لا هم
ارغوان که بنفشه که شقایق دی — زیبائی لَری یَو ځای جدا جدا هم
په هر گل باندِی ټټو مړی بلبلی — بیا له شوقه په هوا کاندِی نوا هم
دَ هر گل په مخ چه سر کښیږدِی بلبله — پرې غلطان غلطان راځي باد صبا هم
په گلزار پسی بلبله زړه کباب ده — په ارمان ئې ځگر خون دَی دَ مینا هم
څوک په عیش په عشرت کښ څوک په غم کښ — ځنی څه چاری لیده شِی پدنیا هم
دَ قفس بلبله ژاړی گریانی کا — چه به چیری په گلگښتت والوزو بیا هم
په هغو د ما سلام ما دِ هم یاد کا — په گلزار کښ چه نگار لَری صهبا هم
څو بهاره می بې میو معشوقه ځي — دا خود رای فلک څه چاری کا په ما هم
ما وې ژر به څرخ د ما په کام راوخوری[2] — ولی ډیر تعطیل ئې وکړ لا ئې کا هم
چه و خپلی کامرانیِ ته می شا کړه — غم اندوه دَ فلک نه لرم پروا هم
دَ سفله منت به هیڅ دانا وا نخلی — چه خبر ئې په خصلت شِی په عطا هم
دَ منت دارُو که مرم په کار می ندی — که علاج لُره می راشی مسیحا هم
دَ فرښتو آمین منت دَی پدعا کښ — لا جرم ورځنی پټه کړم دعا هم
دَجهان غمونه واړه پکښی ځای شول — شکر دا چه زړه ئې لوی وا کړ و ما هم
چه لیدلې دی وفا دَ هغه یار وِی — په دوه سترگی قبلوه دَ ده جفا هم
ښاپیرئ مخ په خوب کښ را ښکاره کړ — لیونتوب می ور سَرَه مونده سودا هم
که خوشحال دَ یار وصال په دنیا مومی
تمامی دنیا ترې ځار شه ما فیها هم

## (ن)

راته درست دَ دهلی ښهر وُ بوستان — چه بکښې وُ باز باقی سعادت خان
په هغه زمان چه دوی لما روان شول — بلا سخت یم چه ئې نه مرم په هجران
چه دَ دیو له دییدنه نه محروم شوم — که رشتیا وایم زه اوس شوم په زندان
خیلخانه می لکه باغ زه ئې باغوان وم — څه عجب و بله جوړ وُ باغ باغوان

---

۱. دښنی د دښمنیِ مخففه او مغغنه ده.
۲. ما وې ژر به چرخ په کام د ما څرخ وخوری

زمانه چه باغ باغوان وبله بیل کا   دا بیلتون په دواړه توګه دی خزان[۱]
چه یَو ګل دَ هغه باغ وینی په سترګو   په باغوان باندی ښادی وی هر زمان
دَ مجنون څهره تصوریر په کاغذ ګوره   زه هم هسی هډ و پوست یم استخوان
په جهان کښی هر څوک یَو ځله په مرګ مری   زه بې مرګ مرم نه یَو ځل زمان زمان[۲]
په ناحق دَ اورنګزیب په بند بندی یم   خدای خبر دَی په تهمت او په بهتان
زه په ځان کښی ګناه نه وینم په خدایږو   ولی نور خلق خبری کا شان شان
دَ ګناه می سرښته نده معلومه   مګر خپل هنر دَ ځان وینم تاوان
لکه زه دم په راستی په درستی کښی   دَ مغل په خدمت نه وُ بل افغان
بادشاهانو لَره ترس دَ زړه بایده دی   مروت، غوررسی، عدل و احسان
څوک به چا لَره په داد او په فریاد ځی   چه په ظلم راضی من شول بادشاهان
چه ځما په خیلخانه په اولس وشول   وَ دِ نشِی په هندو په مسلمان
چه د خپل پردی تمیز ور باندی ورک شو   بادشاهان دَ خپل دولت کاندی نقصان
اورنک شاه بادشاه که تل کا هسی چاری   لکه اوس ئې په لاس وینوې امان
یا سبږ کال یا په بل کال به خلق واروی   چه جویونه شی دَ سرو وینو روان
زه لا څه یم نور به هم ځما په رنګ کا   څو خانان دِ نوم په نوم دَ کوهستان
چه زړه سوی په پلار په زویه باندی نکا   دَ هغه به څه صرفه وِی په جهان
له غروره هسی مست بې خوده ولاړ دیی   چه نظر ئې هورې پاس دیی په اسمان
دَ داد خواه ځواب لا تہِ یا کوتک دی   په دربار چه ئې غوغا کادادخواهان
و بی نه وایی چی ولی دا دِ څه کړل   که په ملک ئې قتل عام کاندی خانان
نه یو حرف دَ خوبدار نه شل محضره   چه رقوم ئې پخپل مهر کا قاضیان
رفتګی بډی رشوت حمایت بویه   که څوک غواړی دَ خپل کار سر و سامان
دَ هر چا څخه چه دا خویونه نه وِی   په دربار به سرګشته ګرزی حیران

طبیبانو ته هیڅ مه وایه خوشحاله
قادر خدای به وکا ستا دَ درد درمان

راشه واوره دا داستان   نیک و بد پکښی بیان
هم عبرت هم نصیحت دی   پرې دِ پوه شی دانایان
زه خوشحال دَ شهباز خان یم   چه تورزن یم کان په کان[۳]
شهباز خان دَ یحیی خان وُ   چهبل نه و هسی ځوان
یحیی خان دَ اکوړی وُ   چه په توره شو سلطان
هم په توره مړَنی وُ   تیر انداز وُ شخ کمان
چه غلیم ئې پیدا شو   ژر ئې ځای وُ ګورستان
هم ئې تیغ وُ هم ئې دیګ[٤]وُ   هم ئې خلق وُ هم احسان
په هغه ستوری پیدا وُ   چه پر زیړی بادشاهان
لا پیدا په جهان نه وُ   پرې خبر وُ درویشان
دَ اکبر بادشاه په دَور   شو دَ خپل اولس تور خان[٥]

---

۱.   دا بیلتون په دواړه توک دی خریران.
۲.   زه بې مرګه مرم څو ځل زمان زمان.
۳.   محشی ورته لیکلی دیی یعنی پښت په پښت.
٤.   لکه تیغ چه کنایه له تورزنی او شجاعته ده، دیګ هم پر سخاوت او میلمستیا دلالت کوِی.
۵.   یعنی چه په توره او میړانه خان سوی وی.

چه له ده سَرَه به ناست وُ    هغه واړه وُ مزریان
همت ناک باسل باذل وُ    په هر کار کښې صادقان
گورته ته رنگ په وینو لاړل    چه همه وُ سرداران
قبیله شوه سَرَه ډیره    اکثر ښه لایق ځوانان
متفق په هرَه چاره    نوم ناموس په واړو گران
دَ هجرت زر دوه ویشت سن وُ    چه زه راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس وُ    چه شهید شو شهباز خان
دَ هغه دَور بادشاه وُ    قدردان شاه جهان
دَ پلار ځای ئې و ما راکړ    په اولس شوم حکمران
که دَ توری که دَ ورکړو    هیڅ می پرې نه ینې ارمان
لکه خرڅ می دَ بابا وُ    دَ مالا وُ دو چندان
واړه دیرش زره خټک دی    درست ځما وُ په فرمان
په لښکر به ځما خرڅ وُ    یا می خرڅ وُ په مهمان
که ځما کره به سل وُ    زر به تله په خاندان
درست خټک ځما په دور    نامور شو په دوران
که خټک په مځکه پروت وُ    پاس می یووړ په اسمان
که څه عیش که عشرت وُ    زړه می سوړ کړ په هر شان
که آسونه که بازونه    گنبت دَ باغ او دَ بوستان
زر و ما ته هسی خوار وُ    لکه خاوری دَ بیابان
نه زکوة په ما واجب شو    په درست عمر نه قربان
چه ئې خپل عزت پکار وِی    زر به خوار کا هغه ځوان
تر اورنگ بادشاه می ویوست    تا و دَ بند او دَ زندان
نقش می کښیناوه دَ توری    په هندو په مسلمان
دَ خپل ځان صفت به څه کړم    مگر نور ئې کا بیان
ښې ښې ناوی په کور راغلې    پلار نیکه خانان میران
دَ اویا کالو نو اوس یم    پدا میاشت دَ رمضان
کال یو زر نوی هجرت دی    هم تحویل دَی دَ میزان
واړه دیرش زویه لرمه    اوس حاضر پدا آوان
چه په عمر شوم اتلس    دَ شباب په غنفوان
را کره راغله جینئَ    پلار نیکه ئې بد ذاتان
بل هنر کسب ئې نه وُ    سفیهان وُ پاده[1]بان
بد سرشت په څو کرسئَ    احمقان په خوی ددان
سَکه پلار په تیغ وژلی    هم دَورونو قاتلان
پخپل کور کښې سَرَه وژنه    تل نفاق شدت تر میان
نه په شرم پوهیدلی    نه په دین نه په ایمان
خپل قسمت کړه را تر غاړه    د دې هسی خاندان
مشران زویه می واړه    خدای له دې نه کړل عیان
څه بلا ده چه راتله به    دا د ما په شبستان
خپل بابا کړه را تر غاړه    گنه هیڅ نه وُ گمان

---

۱.    یعنی شپنیان او حیوان څرونکی.

د دې هسی به څه حال وی    چه دا شان لَری نیکان[1]
زړه می خوږ په یَوه نشو    خوږ د زړه دی خوږ دَ ځان
واړه یَو تر بل اخته دی    پخپل کور کښ جنگجویان
یَو وَ پلار نیکه ته نشو    همگی دَ مور په شان
په سپلمی په گنډیری کښ    که پیوند شی تاک رمان
په میوه به ئې خوږ نشِی    دَ چا کام دَ چا دهان
څه بې ځایه تربیت ؤ    چه به ما کاوه ارمان
چه په بد بوټی محنت کا    غرامت دی په باغوان
نه ئې ننگ شته نه ئې شرم    څه نابود دی دا سگان
زه غلیم دَ اورنگ زیب یم    سر په غره په بیابان
زه په ننگ د پښتانه یم    دوی نیولی مغلان
لکه سپی هسی جار وزی    دَ مغل په آش و نان
دَ منصب په اضافو دی    تل پما پسی روان
د ما لاس ور باندی رسی    را واهه نشی خپل ځان
پدا هونبره رسوائیَ    بیا بد مه گڼه خپل ځان
چه ئې پلار سَرَه غلیم وِی    هم هغه ئې زړه او ځان
چه په واړو کښ ارشد دی    نن یادیږِی اشرف خان
د مور پلار نیکه ته نه دَی    دا ناکس دَی لا بل شان
په ژوندُون می خپل ځای ورکړ    باندیی زه شوم مهربان
زر ئې ټول کړه په لکونو    طبیلې ئې عراقیان
لوی ځما په نوم په توره    خواروِی می فرزندان
دَ خپل ځان په شیرازه دی    تار پتار برادران
بد خواهانو سَرَه خاندی    په زړه چوی نیکخواهان
ښه کارونه چه ځما ؤ    یا د ما دَ دودمان
یو په ده کښ پیدا نشو    ورته خلق دی حیران
که ئې بولم گلستان ته    باندی اور دَی گلستان
د گونگټ غُندی جار وزی    په سرگین او په گودان
دی نامرد دَ نامردیَ    تل له ورونو نه ترسان
دَ گلونو په پټی کښ    کره ځان ته خارستان
ښه لایق زویه می نور دی    ولی خدای کړل کشران
زین دَ زرو په خره پروت دی    په ښه آس باندی پالان
قسمت کاندی خپلی چاری    نه علاج شته نه درمان
تربیت ځما په ده ؤ    په ښوره باندی باران
که می ولوستل و ده ته    کتابونه د لقمان
نه اثر ورباندی وشو    نه ئې ځای شول په جنان[2]
د پنډ اور په سوخته لگی    نه دَ پشم په ریسمان
که سرود روته آغاز کړې    سرود څه اَروی کران
آئینه که ورته کښیږدې    پکښی څه گوری کوران
له قرآنه که وَیل کړې    خو انکار کا کافران

---

۱. نیکان یا نیگونه، جمع د نیکه.
۲. یعنی زړه.

حمیده به پکښې لږ وِی    ذمیمه چندان چندان
لکه دَی دَی په حسد کښې    بل به نه وِی هیڅ انسان
سر تر پایه و هم ویره    پخپل زویه بد گمان
دَ مردیٔ په کار و بار کښې    تر زنانو شه قربان
تر څلویښت کالونه تیر شو    باندی څرخ نشو پیکان
په هر ځای چه په جنگ پیښ شی    تل ئې تیښته په میدان
مرصع توره تر ملا کا    تیځی ښه ښه عراقیان
نه ئې توره چرته سر کړه    نه ئې خوږ شو برگستوان
که په کور لَری لکونه    ځنی شوم درومی مهمان
که څه لږ و ډیر ئې خرڅ شته    په هزال په قلتبان
دَ دنیا په حساب تللَی    همیشه لکه هندوان
ذکر فکر ئې دَ زرو    ټولَوِی روپیٔ مهران
شوم منحوس لئیم سفله دی    مصاحب ئې همچنان
ځای دَ مرد ورځخه نشته    ورته ناست دی نامردان
ځان ستایه په ډیرو زرو    نا دار بوله خپل بزرگان
شوم مکار محیل بې شرم    ډیر وَیونکی بد زنان
دَ لویئ پکار خبر نه    په زور کړه دَ لویئ شان
بر آمد ویل پرې اور دی    خوشامد باندی ریحان
ځنی زشت کارُونه نور دی    څه ئې سخلم په زبان
یا خو دَی مه وَی لمانه    یا زه مه وَی په جهان
چه ځما څه بند و بست وُ    ده بد بخت کړ واړه وران
هنگامه دَه لا په منځ کښې    دَ مغل او دَ افغان
زه په نقش دَ خپلی چاری    که څه شی سر و سامان
دَی په وهم په وسواس کښې    تل لما دَی هراسان
خپل شامت دَ بد فعلیٔ    ورته ناست په هر مکان
چه د ما سَرَه څوک ټول شی    دَ ده زړه شِی نور لرزان
چه د ما دَ لښکر غږ شی    اوبه کښیږی دَ ده ځان
زه په لویو اندیښنو کښې    دَی په کور کښې دی غران
پدا دوه کاره خوښیږی    دا احمق سفله نادان
چه ځما سَرَه څوک نه وِی    بل چه سوړ می وِی دیگدان
ځما زویه لما نیسی    اقربا، برادران
و مغلو ته مجرا کا    چه خپل پلار مِی کړ دا شان
زه دَ ده په کار خندان یم    دَی ځما په کار خندان
چه ځما له غمه وار وِی    بې حسابه شی شادان
چه ځما سَرَه بدی کا    پرې رحمت کا مغلان
په چمته کښې لوی غر ځای کا    په کوزه کښې ږدی عمان
دی لا هر څه ورته وائی    ور سَرَه شی پارسی خوان
دَ مغل په زور ئې لاندی    ځما ملک کړ درست تر ځان
نه ئې مال و ما ته پریښی    نه نوکر نه غلامان
نه په ملک یم نه په نور څه    خپل عزت دی پما گران
خدای ئې خوار په دین دنیا کړه    دَ عزت می کا نقصان
ځنی سپی ئې را پسې کړل    په تیری کښې ردهان

چه نا پوه ئې پخپل ځان کا
هسی نکا دښمنان

رسوائی شوه تر منځ پيښه
نه څه ورک نه ئې څه زيان

دَ سزا په سنگ ئې مات کړ
دَ همه واړو دندان

نظام پور لَره اوس راغلم
دغه گوی دغه ميدان[۱]

چه مې وار وربانده ساز شی
بيا را وړاندی کا دوستان

وار دَ هری چاری تير شو
فکر لوی دَی دا زمان

هر چه دی هغه به وشی
څو لا حول په شيطان

قافيه شوه سَرَه تنگه
دَ زغملو نشته توان

اوس همه چاری تر شا شوې
خو هم[۲]دا مهم تر ميان

حماقت ئې لکه اور شو
ځما زړه ئې کړ بريان

چه اساس دَ توری کښيږدم
دا نامرد ئې کا غلطان

چه ځما کره پيدا شو
څه آفت دَی د اسمان

نن به هيڅوک هسی نه وِی
لکه زه په زړه پريشان

که کښينم نام و ناموس ځِی
که باڅم پاڅی طوفان

په دې کش مکش کښ تير شو
په ما عمر رايگان

ښښتنو وکړې گټنی
د ما کور دا هسی وران

دَ يوه سړی شامت دَی
چه خواريږِی درست جهان

دَ گټنی وخت تيريږِی
وا ويلا افغان افغان

ځوانی لاړه پيری راغله
په پسرلی راغی خزان

چه به ما وربانده مټ کړ
مشکل کار به شو آسان

پدا کار باندی مې مټ دی
که آسان ئې کا سجان

مفاجات دِ ئې نصيب شی
يا ئې تور مار ځارنستان

چه هيڅوک پرې بد نام نشِی
هسی گور ته شی روان

لکه عاق دَی عاق دِ درومی
دين دنيا دواړه خسران

چه تحويل شِی دَ ميزان
توغ څرگند کا زمستان

توغ ئې څه دَ سهيل ستوری
چه ښکاره شی په اسمان

دَ غارمه په رنځ رنځور وی
بيا تندست شی دا جهان

د خوړو لذت پيدا شی
اوبه ولگی په ځان

غيږ په غيږ سَرَه نماستې شی
لب په لب شی مشتاقان

دَ جامې قدر څرگند شی
زين قبول کا عراقيان

نه په زغره ځوان خبر وی
نه آس دروند په برگستوان

چه دَ ښکار هوسناکی کا
پرې ښادی شی دا آوان

دَ شمال مرغونه واړه
په جنوب شِی را روان

نوی باز راشی له سواته
لکه ښه سيلِی جوگيان

دَ سپوږمئ په شغله يون کا
ږغ کا زانې په اسمان

قاز او بتی را خپرې شی
هم هيلئ صد چندان

زرکی کوزی شی و سَم ته
په دانه دَ دهقانان

---

۱. دغه چوگان.
۲. خو دَ ده مهم تر ميان

تغدری لکه دوړنی[1] ځان څرګند کا په میدان
که شاهین که څرخ کا ناز وی را ئې واخلی میر ښکاران
دَ صد برګ ګلونه وا شی په رنګ ښه وِی تر زعفران
څوک دَ ښکار په هوس ګرزی څوک په سیل دَ بوستان
عباسی په دوه درې رنګه سپین او زیړ وِی ارغوان
دَ چنبې دَ ګلو بوی ځی دَ هر بوټِی تر ګریوان
دَ سبزې ئې تماشا شی لا په تیره دَ ریحان
په تنکی تنکی ښاخونه هره ونه شی شان شان
که بلبلی که طوفان دی لور په لور کاندی فغان
دَ دې هسی وخت هوا به مګر مومې په جنان
که رشتیا وایم دا وخت می په پسرلی لَرِی رجحان
د دې وخت په مخ خلاصی وی دَ پسرلی په مخ زندان
په خوشحال دِ قدر ډېر دی یمانی ستوریه جان جان
چه دیدن دِ ور ښکاره شِی
نور په ده کړې خط پریوان

## ( و )

دَ دهلی دَ ښهر ښه شان و شوکت ؤُ لور په لور ئې کښلی کښلی عمارت ؤُ
ښایسته ئې بازارونه وه دَ ښهر مهیا ئې په بازار کښ هر نعمت ؤُ
دَ شانهر فوارې دی په هر کور کښ دَ بازار به ئې څه کم بیګه وسعت ؤُ
په دهلی باندی ګواهی د جنت وله که راغلی پدنیا چیری جنت ؤُ
دَ بادشاه دَ خاص و عام به څه تعریف کړم و خوابګاه وته ئې عقل په حیرت ؤُ
چه به جوړ دَ شاه جهان بادشاه دربار شو په دربار کښ به ئې دوه اویا ملت ؤُ
که هوا ئې دَ عراق دَ خراسان وَی دَ جنت به دَ دهلی سَرَه غیرت ؤُ
دا زینت چه شاه جهان و دهلی ورکړ بل بادشاه کله ورکړَی دا زینت ؤُ
دَ دهلی بنا دَ چا په لاس ده شوې په نوبت نوبت دَ چا پرې سلطنت ؤُ
همګی به نوم په نوم درته بیان کړم چه دَ هر یوه څه خوی څه خاصیت ؤُ[2]
دَ دهلی بنا اول وکړه څو هانو پر دَ دیو تیر سو کاله سلطنت ؤُ
د اسلام بادشاه اول مغزالدین ؤُ چه یو کال ئې په دهلی کښ اقامت ؤُ
چه دهلی ئې را نیوه له پتورایه په دا کار کښ ئې ډېر کړَی مشقت ؤُ
چه ئې سر دَ پتورا پریکړ له تنه شپږ سو دولس کاله کم سن دَ هجرت ؤُ
بیا له پسه قطب الدین دَ ده مریَی ؤُ چه پریښی ئې په هند په نیابت ؤُ
بیا له پسه شمس الدین دَ ده پالک ؤُ چه په خلقو ئې اواز دَ عدالت ؤُ
بیا له پسه فیروز شاه د شمس الدین ؤُ چه په هند کښ بې نظیر په سخاوت ؤُ
بیا له پسه رضی لور د شمس الدین وه چه راضی ځنی سپاه او رعیت ؤُ
بیا له پسه ناصردین د شمس الدین ؤُ چه مشهور په عدالت په عبادت ؤُ
بیا سلطان معزالدین کیقباد ؤُ چه ور څخه هم صورت او هم سیرت ؤُ

---

۱. دا کلمه په ځنو نسخو کښ مختلفه ده، ممکنه ده چه (دروی) یعنی نل، نی، قصب.
۲. چه دَ هر یوه څه خوی څه ئې خصلت ؤُ.

بیا سلطان جلال الدین په سریر کښیناست
چه په اصل کښ غلجی دَ ولایت وُ

بیا نمسی دَ فیروز شاه علاء الدین وُ
چه په خلق او په کرم دَ ده شهرت وُ

بیا له پسه قطب الدین دَ علائی وُ
چه همیش ئې مخ په عیش او په عشرت وُ

بیا له پسه تغلق شاه چه امراء وه
پرورش ئې دَ غلجیو په دولت وُ

بیا سلطان محمد شاه دَ تغلق شاه وُ
چه دَ ده په عصر خلق فراغت وُ

بیا له پسه فیروز شاه چه د ده تره وُ
چه په هند دَ ده دَ چاری خاتمت وُ

بیا سلطان محمد شاه دَ فیروز شاه وُ
چه دَ پلار په زندگی ئې سلطنت وُ

بیا سلطان غیاث الدین دَ فیروز شاه وُ
چه نیولی ئې له وروره مملکت وُ

بیا له پسه ابا بکر په تخت کښیناست
چه دَی هم دَ فیروز شاه له ذُریت وُ

بیا له پسه سکندر شاه دَ محمد شاه وُ
چه په تخت ئې یَوه نیمه میاشت مهلت وُ

بیا ئې ورور ناصرالدین په سریر کښیناست
چه په ده دَ ښو ځوانانو ډیر قیمت وُ

بیا له پسه چه تیمور په هند را کښیووت
خضر خان ته ئې ور کړی حکومت وُ

بیا سلطان مبارکشاه دَ خضر خان وُ
چه ښکاره ئې له جبینه سیارت وُ

بیا سلطان محمد شاه دَ ده وراره وُ
چه پښتون داً ده په عهد په عزت وُ

بیا سلطان علاءالدین وُ دَ ده زویه
چه اکثر ئې دَ نساء سرَه صحبت وُ

بیا بهلول لودین بادشاه شو دَ دهلیٔ
چه په تخت ئې نه ویشت کاله سکونت وُ

بیا له پسه دَ بهلول زوی سکندر وُ
چه عمل ئې موافق په شریعت وُ

بیا له پسه ابراهیم وُ دَ ده زویه
چه بابر سرَه ئې جنگ په پانی پت وُ

بیا له پسه دَ دهلی بادشاه بابر شو
چه ئې کار دَ پښتانه په برکت وُ

بیا له پسه دَ بابر زوی همایون وُ
چه بیحده ئې لښکر ډیر ئې دولت وُ

بیا له پسه شاه عالم دَ حسن سور وُ
چه همایون دَ ده له لاسه هزیمت وُ

بیا له پسه اسلام شاه دَ شاه عالم وُ
چه له پلاره نه هم زیات دَ ده جرأت وُ

بیا له پسه عادل شاه دَ ده تربور وُ
چه پښتون دَ ده په دَور فضیحت وُ

بیا له پسه دَ همایون زویه اکبر شو
چه وَ هر لوری ته مل دَ ده نصرت وُ

بیا له پسه جهانگیر دَ اکبر زویه
چه دَ ده په دور هند لکه جنت وُ

اوس بادشاه شاه جهان دَ جهانگیر دی
چه په بلخ په بدخشان دَ ده نوبت وُ

زه خوشحال چه دا شمار کړم شاعر نه یم
پدا کار می ازمیلَی طبیعت وُ

که میِ شعر شاعری څرگندوَلَی
ما به ډیر کړی دَ خپل بادشاه صفت وُ

چه دَ هند سیر می وکړ اوس می ووې
گڼه دا تاریخ لارغه ځما په نیت وُ

که د دې ویلو کال غواړې لمانه
په حساب کښ واوره کال دَ قرشت وُ

ابتداء د دې بیان په نماز پښین وُ
دَ ماښام په وخت ئې شوی نهایت وُ

## (هـ)

بیا دِ فتنې آغازی کړی اسمانه
چه عباس[1] دِ را روان کړ له ایرانه

شاه جهان لا په اندوه دَ ترکستان وُ
تا نا گاه بله چار کړه ور عیانه

۱. شاه عباس صفوی د ایران چاچا وُ.

منصوبې دِ هونبره ندی چه ئې شمار شِي    هی توبه توبه له تا ستا له دورانه
کله کله ستا فتنې لا په څه رنگ وې    ولی دا ځله څو کړې نکړې ودانه
يو سختی او رنځوری دِ په ملک زور کړه    بل دِ بر برکت واخيست له جهانه
در پورهيږم چه هغه دِ لا په ياد دیی    چه خلاص شوی وُو دَ واروی له طوفانه
څو همه واړه کسکړ[1]و بله نکړې    خوا به ستا نشی سړه په يَو څو خانه
دَ کابل ميوې خوراک دِ دَ طوطيانو    پرې خپاره شول تور کارگان له هندوستانه
يَو شدت دَ بادشاهانو تر منځ پريووت    بل دا ملک شو يَو څو کاله بې بارانه
دَ آوی څښتن دعا کا چه نرخ گران کړې    للمی کار په زړه پريشان مينه ويرانه
غه سړی چه به په زور ميلمانه غوښتل    اوس سر پټ کانديی تيريږی تر مهامانه
ما په عمر هسی کار ليدلی نه وُ    نه می کله اوريدلی وُ له چانه
چه پسر له لوږی مری پدر ئې گوری    دَ پسر اندوه ئې نه وِی بې له ځانه
هندوستان به گوره څه شی ستا له فعله    خدای دِ ورک کړه رافضی علی مردانه
له هغې ورځی چه راغلې پدا ملک کښ    غم دی راوړ تر سپاهه تر دهقانه
چه دا هسی شوم قدم دِ په ملک کړ کړ    چه دِ گورم څه ناپوه يې شاه جهانه
که دا ملک له اوليا وُ نه خالی وَی    پدا ملک به تر دکن پيښه و گرانه
که دِ حکم دَ عالم دَ ورانۍ نی وِی    زرق دَ هر چا ورکوهَ دَ رزق ضمانه

خوشحال تل شکر وگاړی خوښ لتا دَی
تا چه ده له هَره توکه کړه پريوانه

زه مدد غواړم له تا نه اې يوه خدايه احده    که مدد دی را سَرَه وِی چار به نشی ځما بده
زه عاجز مريی د تا يم تا به ستايم ستا په فضل    ستا ثنا صفت به وايم څو زه توان لَرم بې حده
ستا ثنا ده تر حد تيره دا بيابان تر شگو ډيره    هسی څوک دَی چه خبر شی دَ ديو شگو له عدده
نه ته زوړ يې نه ته ځوان يې لکه هسی يکسان يې    لکه وې هسی به وينه له ازله تر ابده
مځکه سبع سموا ته دواړه کَونه کائناته    واړه تا گُنبی پيدا کړل بې دَ نورو له مدده
دا همه واړه ملکونه تا زوول له کاف و نونه    هم والد يې دَ ملکونو منزه يې له ولده
که سپيد دی که سياه دی په وحدت د تا گواه دی    ته محيط له هَرَه څيزه له سفيد و له اسوده
د تا کار واړه خوبی دی، په خوبی او په نيکی دی    دا و موږه ته رسيږی کله نيکه کله بدَ
دا شامت دَ موږه خپل دی چه مو کار هسې مشکل دی گنه ته څه هسی نه يې چه خپل ورتړې له رده
هر چه نه دی وُ په نغوته تا لبيک ووې هغو ته    چه په ياصنم ويل کښ دا غلط دَی يا صمده
ته پوښتنه کړې له حاله چه ئې حال ښه وُ تر قاله    دَ بلال اسهد قبول شه دَ ديو نورو له اشهده

د خوشحال وَيل اومه دی، لايق ستا دَ صفت ندی
ستا په فضل به پخيږی دا اومه وَيل احدَه!

همراهانو دِ کوچ وکړ واړه ولاړل تر منزله    ته لا کلک په خوب اوده يې اې ځما دله غافله
له نيستۍ و هستۍ ته له هستۍ ونيستی ته    کاروانونه دِ ځليږی قوافله قوافله
لار می واړه گل ولای ده ته په سهل ټټو سپور يې    ښه سپاره دی پکښې تللی واروه تښته لدې گله
د دنيا په درياب ډوبه دَ پاياب طمع وَ مکړه    دا پاياب دَی ډيرو غوښتی خبر نشول له ساحله
وِ کنار ته به وَ نوزې لدې هسی شان دريابه    په ساحل ئې خبر ندی بې له اهل سواحله
دَ دنيا حاصل ئې واړه ناکامی او رنځوری ده    که دَ چا پکښې حاصل شِي هم ئې مگڼه حاصله

---

۱. برباد، تباه.

له قسمته به نه کم نه به څه زیات په ډېر کوښښ کړې     هم هغه به در رسیږي چه دِ بخره اوائله
دنیا څو د بله آسپی چه مقصود دَی پدنیا کښ     خو یو نغن یَوه شړیه نوره واړه دَه فاضله
په فضا ئې رضا وروړه هر چه ستا په باب ئې کړی     په هیڅ به رنگ به دفعَ نشی په تعویذ په حمائله
خپلو لاسو خپلو پښو وته وگوره نظر وکړه     دا همه واړه دَ خدای په معرفت دی دلائله
همیشه وایې چه خدای می پیژندلَی په یکی دَی     که دِ خدای و پیژندلَی مینه مکړه په باطلَه
بې له خدایه راته وایه بل یَو کوُم دَی چه پیدا کا     آدمی له تورو خاورُو پدا شکل و شمائله
په خوړو او بیدیدو کښ له څاروی برابر مشه     دَ عمل په کاروبار کښ مشه کم تر عوامله
دَ دنیا په کار و بار کښ په څو بې حده بیدار یې     دَ ښه دین په کار کښ څه رنگه اوده یې سست کاهله
پخپل حسن غره مشه که په حسن لکه گل شې     زمانه به د څهره په یَو څو ورځې کا زائله
په دولت کښ په حشمت کښ که سنجر شې یا طغول شې     یَوه نخښه را ښکاره کړه له سنجره له طغرله
دَ بدانو نه دِ هیڅوک دَ نیکیۀ امیدونه کا     دَ عسل خواږه به نه مومې له زهر هلاهله
دَ هغه عالِم خبره چه عمل په ده کښ نه وِی     په مثال لکه براق دَی چه جدا ځِی له عامله
غه عالم چه عمل نه لَرِی په مثل لکه خر دَی     بانِدی څو کتابه لښلی مشقت ئې بې حاصله
چه گفتار کردار ئې واړه موافق سَرَه یَو رنگ شِی     هاله هر رنگه خبره اثر کاندی له قائله

په زیبا گفتار دی هیڅ تقصیر ونکړاې خوشحاله
که کردار دی هم زیبا وَی چار به ولی وه مشکله

پارینه چاری چه ښه نشته خوشحاله     دا دَ سبږ چاری به هم نه وِی تر کاله
دا سبږ کال چه د غصج[1] دَی چه غضد شی     امید وار اوسه له بخته له اقباله
بخت اقبال که و تا درکا هسی ناوې     چه مهتاب ئې منفعل دَی تر جماله
ستا به دوه اویا کالُونه وِی دَ عمر     سود فایده ئې راته وایه له وصاله
دوه اویا به دِ هاله دَ زړه په کام وُ     که ځوانی ورسَرَه هم وَی اتصاله
دَ پیریۀ په وخت کښ هر هوس گنده وی     لا په تیره عشقبازی ده غیر ساله

دَ دلبرو مینه چا دا هوښره راگړه
چه ئې هیڅکله خالی نه یم له خیاله

ځما زړه له چا نه روغ ندَی بهرامه     دَ هر چا سَرَه می زیست دَی له ناکامه
نوکری ځوانی دا دواړه لکه بام دی     په پیری کښ له ما ولاړل دواړه بامه
اوس دا دواړه بامه ستا دِی ننداره کړه     غافل مشه یَو زمان تر صبح و شامه
پدا اوښ باندِی چه ستا کجاوه ایښې     رسوه ئې چه پرې نوزې تر مقامه
څو دِ دا ننداره شِی شکر وکاږه     په چا نه وِی دا خوښی علی الدوامه
تولا تبرا بویه په اسلام کښ     چه ئې نه وِی هغه ندَی له اسلامه
اهل شر ته دَ شاهین منگل پیدا کړه     اهل خیر وته حلیم شه تر حمامه
څو دِ توان توفیق رسیږی بیرون مشه     په هر دم دَ پښتانه له ننگ و نامه
په فرمان دَ بادشاهانو څه باور دَی     چه بتر دی دَ قاضیانو تر اعلامه
د مغلو دولت خواه اوسه څو ژوې     و نفرو ته ئې هم کړه سل سلامه
د هغه به فیروزی په جهان نه وِی     چه ئې وَخوری دَ چا مالگه کا حرامه
که دی زړه وِی چه به پاېې لکه حضر     دَ نیکیۀ نوم ژوندی دی تل مدامه
ته دَ چا و جام ته هیله امید مکړه     حریفان دِ باده نوش وِی ستا له جامه

---

۱. غضج په ابجد کښ ۱۳۰۹ کیږی، له غضد شی یعنی ۱۰۹٤ هـ شی.

دَ کنگاش دَ پرخاش ښه ځوانان پیدا کړه — چه پر چا دَ ملک و مال شی انتظامه
خوره خوروه گټه[1] ساته د کار دَپاره — کامرانی شِی دَ دنیا له سر انجامه
ښه سردار وَته دَ نوم خزاه بویه — که نور هیڅ ور څخه نه وِی بې له نامه[2]
ورکوَل توری وهَل دا دواړه بویه — چه پرې چار دَ سرداریَ شِی انصرامه
یا تکیه دَ یوه خدای دَه یا دَ توری — په جرگو مَرکو به نشی کار تمامه
که سردار دَ خلقو زر لَرِی هنره — بند و بست دَ عالم نِشی بې صمصامه
رخنه گر دَ ملک په خونه کښ ماران دی — چه ماران دَ خونی شته خوبی کدامه
که دِ نقش دَ توری کښینی راته غوږ کړه — کامروا به شي هاله له هَرَه کامه
رعایت له رعیته سَرَه ښه دَی — دا هاله چه بیرون نه وِی له احکامه
چه خلاف دَ حاکم کا خلاصی ئې نه وی — رعیت په لږ گناه له قتلِ عامه
دَ خټکو نه می هونبره زړه ناخوښ دی — چه توبه دَ همگی خټک له نامه
د نعمت په قدر هیڅ خبردار ندی — نوم خټک می په خلاص نه وِی له انعامه
دَ وفا په ځای همه واړه جفا دَه — چه به ما ته رسیده له خپله قامه
خټک واړه ددو دام دِی که ئې گورې — څوک به غواړِی خپلوی له ددو دامه
چه ئې خویښ کړې یا ئې دوست کړې لا بلا شی — دَ ددانو څه غرض له احترامه
که دَ موږه خانه نوی خټک ورک وه — دَ خواجه په نوم اصیل دِی څو غلامه
که په توره خټک خپل کړې گُندی خپل شی — گنه هیڅ به ئې خپل نکړې له اکرامه
اول خپلی خیلخانې وته نظر کړه — چه په لاس واړو نیولی دی څه خامه
اتفاق دَ خیلخانې عجب دولت دی — په نفاق ئې واړه ووزی له آرامه
همگی شهد و شکر قند و نبات دِی — هیڅ بر هم مشه دَ وروڼو له دشنامه
چه په شرم نام و ننگ سَرَه شریک وی — په هر کار وبله نه وِی بې آلامه
څو جفا دَ خپلو وړې هونبره به ښاد شې — که دَ خپلو جفا سخته وِی مدامه
ښه ځوانان به خپل هوډ پرې نږدی له لاسه — که ئې سر شِی دَ خونی مزری تر زامه
که تل توری غشی خوری ماتی دَ جنگ وړی — مرد به سوړ نشی په زړه له انتقامه
کلیله دمنه به سو کړې راشه گوره — چه څه دُرومی درته توی کړه د کلامه

چه دی زړه هغه گوهر به پکښی مومې
که پرې پوه شې له آغازه له انجامه

دَ خدای منت را بادِی چه ئې هست کړم له عدمه — بل خلقت ئې نکړم را پیدا شوم له آدمه
پښت په پښت راغلی مسلمان محمدی یم — چار دَ چاریارانو سَرَه واړه منم سمه
درست پدا پوهیږم چه څلور مذهبه حق دِی — زه دَ حنفی مذهب دعوا لَرَم محکمه
مینه ئې په زړه کښ دَ علماوُ راکړه ډیره — مینه ئې دَور دَ شیخانو راکړه کمه
نه خراباتی نه قمار باز نه زنا کار یَم — نه قاضی مفتی چه ئې نظر په څو درمه
بخره ئې دَ تیغ راکړه په اصل کښ پښتون یم — پلار په نیکه نه یم بې دولته بې حشمه
پلار می سُور کفن وَگورته ولاړ نیکونه واړه — ډیر خلق پرې وَمړ خون ئې ولاړ شو تر عالمه
پلار می شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وُ — زړه ئې دَ مزری په توره تیر وُ تر رستمه
ټینگ ولاړ په شرعه تل ئې کار وُ په رشتیا کښ — خط سواد ئې نه وُ نور دانا وُ له فهمه
څو به نیکه ستا یم یحییٰ خان جنت ئې ځای شه — روغ لکه یوسف وُ درست تر سَرَه تر قدمه

۱. غوټه.
۲. بې چدامه.

بل سړی که سپور وَی دَی پیاده سَرَه به سم وُ　　قد قامت ئې هونبره دَ مړانی چار پرې تمه
بل نیکه ځما ملک اکو چه په خټک کښ　　دَه راوړه دا بخره دَ لوئیِ مقدمه
دیرش کالونه وشول چه می پلار دَی شهید سوی　　مړ کړ یوسف زیو ما هم اور کړه باندی سمه
نور پښتانه ډیر دِی خو یو زه پکښې توره یم　　واخلم ورکړم بند کړم پریېږده وَوژنم تر دمه
ډیرو اولسونو غلیمی را سَرَه وکړه　　سر ئې راته کوز کړ هاله خلاص شول له ماتمه
یو یوسف زئی دی چه پما ئې منت بار کړ　　لا په اکوزیو دَ ننگ چار دَه مسلمه
زه چه دَ غعد[1] په کال بندی دَ اورنگ زیب شوم　　کور او خیلخانه می پکښې ډیره وه له دمه
څو کاله بندی کړم اورنگ زیب په هندوستان کښ　　روغ راغلم تر کوره بیا ئې خلاص شوم له ستمه
هر چه زه ئې وژلم په زندان کښ هغه واړه　　وَ مړل خوار شول ورک شول خالی ندی له المه
زه لکه یوسف له بندَ خلاص شوم کامرانی کړم　　پاک پاکیزه زر وم اور مې نکړه بها کمه
زوی می اشرف خان دَی چه خپور شوی کور پرې تړول دی[2]　زه چه په بند ولاړم خیلخانه می شوه برهمه
څلیرویشت زویه نور لَرم یو دی پکښې چه لوی دَی[3]　واړه بر خوردار شه خدای ئې وساته له غمه
اوس پنځه نمسی لَرم افضل دَ اشرف خان دَی　　خدای ئې بر خوردار کړه په ده ډیره لَرم تمه
یو می سکه ورور دَی چه ئې لار دَ حق نیولې　　دوه وروڼه می نور دی یو په نم دوهم بې نمه
ځای می ملک پور دَی چه ئې سرای بولی وګړی　　قام اولس می پروت دَی لکی په غره په سمه
شل زره ځوانان لَرم همه له یوه ذاته　　واړه یگانه شا په خدمت کښ راته خمه
څه شو شمشیر خان ترین که پوخ پنجهزاری دی　　ما وته هیڅ ندی مگر بې اُومه شلغمه
څو به دَ منصب په زور ځما برابری کا　　څه مجال دَ گړهی[4] چه سیالی کا له ضیغمه
خوار شه یوسف زئیِ چه ترین ئې حاکمی کا　　اوس که ښکار دَ بازکاندیِ هیلیِ نده گرمه
زه دَ شاه جهان بادشاه دنَنه دَ زړه سر وَم　　چار مې اوورنگ زیب په نادانیِ کړه برهمه
دم وهلَی نشم څوک می ډاډ دلاسا نکا　　داغ لَرَم په زړه کښ بې طبیبه بې مرهمه
څو زره سپاره دِی سرگردانه په څُو کاله　　زه که په زړه روغ وَی چار به ولی وه درهمه
سل کاله که تیر شِی دا مهم به فیدل نشِی　　دا رنگه چه کیږی گوره څه وشی له همه
څو چه په څو کاله شمشیر خان ترین کار کړی　　ما به په څو میاشتی واړه چار کړه مستحکمه
دا مکر فریب چه دَ حیات ترین هنر دَی　　کله دا دَ مرد دَی دا دَ ښځی دَی عالمه
پوهه تمیز نشته دا فلک په سترگو ړوند دی　　ښځه دَ خانیِ په خطاب کا مکرمه
دا انشا املا واړه چه دَی دَ شیطانیِ کا　　تل باندیِ نفرین اوریِ له لوحه له قلمه
حال حقیقت وایم چه هر چا وته معلوم شی
زه څه شاعر نه یم هَی توبه له مدح و ذمه

حجت دَ ورځو شپو دَی ته ئې و نغوږه همدمه[5]　　که ښه فهم پرې وکړ زړه به خلاص کړې له المه
چه ورځ و شپې حجت کړ یَو دَ بله ئې صفت کړ　　وَیل ئې منتشر شول هم له مدحه هم له ذمه
شپې ووې چه اې ورځې ځما فضل تر تا زیات دَی　　په دا سبب چه زه یم په ازل تر تا قدمه
دوستان دَ خدای طاعت او بندگی ډیره په شپه کا　　دَ شپې سجده پقدروِی دَ ورځې له قیمه
موسیٰ عليه السلام وکوه طور وته له قومه تله په شپه کړل　　هم لوط په شپه جدا شو دَ بیداد او له ستمه
احمد عليه السلام می له اسمانه په شپه کړله میاشت را کوزه　　معراج وته ئې تلنه هم په شپه وه له حرمه

---

۱. غعد د ابجد په حساب ۱۰۷٤ وی.
۲. چه پرې خپور وکړی تړول شو.
۳. نن دوولس پکښې لوی دی.
٤. سید راحت لیکی چه اوږد او ژغونی او زگړی.
٥. دا قصیده په چاپی کلیات کښ نسته.

یو څو وخته په تا کښې دی چه نمونځ دَی پکښې منعه زه درسته په طاعت په عبادت یم مکرمه
تر زرو میاشتو بهَ دَه په فضل و په شرف کښې یَوه شپه دَ شب قدر خبر واخله له عالمه
اسمان وته چه وګورې په ورځ یَو شین ګنبد دی په شپه چه ورته ګورې ښایسته دَی تر ارمه
زه شپه یم ستر پوښه عیب فاشه می ته ورځ یې راحت مومی له مانه ته می ډکه ئې له غمه
چه ورځی می له شپې نه دا دَ مدح ویل غوړ کړه په ورو ئې ورته ووې چه خوله چپه کړه له ذمه
لړ وار و ماته راکړه چه زه هم درته ووایم څو ته هسې ګډیږې په خبرُو نا محکه؟
روژه چه مؤمنان سړی لَرِی واړه په ورځ ده مجمع په عرفات باندِی په ورځ دَی له اممه
اختر دَی که جمعه دَه که عمره که عاشوره دَه همه واړه په ورځ دَی دا له عقله له فهمه
په ورځ دَ قیامت به د عالم حشر په ورځ وِی ایجاد دَ واړه خلق هم په ورځ وُ له عدمه
پما سترګی رُڼا شی دَ عالم پتا تاریکی یادیږم په وَیل کښې رُڼا ورځ له توره تمه
ځما څهره ګونه ده له اسلامه ستا دَ کفر دَ عید جامه د ما ده، ستا جامه دَه له ماتمه
ته په مثل دَ بادشاه یې میاشت و ستوری دِ لښکر دِی لښکر دِ تار پتار شِی چه ورځ و خیژِی له همه
که پټ وی په وریځ کښې هم تر میاشتی نمو تیرَی کا همه عالم خبر دَی چه زر ښه دِی له درمه
چه سیر دَ ګلونو دَ ګلزار کا یا څوک ښکار کا هغو وته په قطعَ نده شپه له ورځِی سمه
پما کښې فریضه نمونځونه ډیر پتا کښې لَږ دی
پتا کښې ځکه حکم شو چه ته یې له ما کمه

خبر مشې دَ فلک په ستمونه په خاطر کښې لَرم څ رنګه غمونه
چه همیش به ئې سر پروت ځما په پښې وُ اوس هغه ځما په سر ږدی قدمونه
چه به تل ځما کرم ته په امید وُ بارَوی په ما منت په کرمونه
چه ځما په مرهم روغ پدنیا پائیِ هم هغه خاندیی ځما په مرهمونه
زه ئې چا لَره و هم قدر ئې چا زده په اور وَ سیځه دا توری قلمونه
څه یواځی ننګ پما راغلی ندی پښتانه ډیر دی په غرونه په سمونه
یا به واړه دَ مغلو درم پریږدی یا به زه هم په لاس واخلم درمونه
چه ښوروا خوری دَ مغلو واړه سپی دی دَ سګانو په خوله څه اخلم نومونه
که خټک دی که بنګښ که ورک زی دی وار په وار ئې په کور وشه ماتمونه
یا می خپل قهر ارمان تر هر چا وکی یا می پرینښوی دا دَ ننګی شیمونه
له پردیو نه په څه لَره مانه کړم چه خپل هم را باندی باسِی اړمونه
نا خلف زویه دَ چا کَره لوی مشه چه و پلار وته ګندی کا قسمونه
هسی زویه می نه ولیدل په ډیر کښې چه په مخ می ئې دَ اور ځی علمونه
چه شاعر پخپل غلط شعر خبر شی پرې څکوی دَ غلطئ رقمونه
چه ځما سَرَه ئې کا پوری حیران یم خپل پردی فن او فنُون سحر دمونه
ګوره هم په ژړا سر کړم که ئې وروړم
زه خوشحال دَ زړه دا هونبره المونه

خپل استاد و ما ته ووې څو پندونه هر یَو پند ئې مرغلری دی لاونه
وَئې هره بدی کړه هغه بد مکړه چه له لاسه دِ آزار شِی دَ چا زړونه
که دِ زړه دَی چه بد نه مومې له چانه اول ته پریږده دَ بدو خصلتونه
دَ شهروت په نغوته مه څه شهرت اور دَی پدا اور دَ ډیروُ سِوی دی کورونه
ته کینه رخه حسد له هیچا مکړه دَ ازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
دَ هر چا سَرَه دَ ښو سلوک بایده دی په بدی کښې څه فائده ده کوم سودونه

| | |
|---|---|
| دَ دنیا په مالِ دَ نیکو نوم حاصل کړه | تل جهان و چا ته نه پریږدي مالونه |
| دَ هر چا سرَه نرمي ملایمت کړه | گُندیي وِي چه پیدا خپل کړې دَ چا زړونه |
| خپل پردي ته دَ زړه راز بخره مکړه | دَ بخچې دننه ښه دي خپل رختونه |
| خوشخوئي هر گوره ښه ده نه دا هونبره | چه په باغ کښ د خرتیزي وهي خرونه |
| هغه کار چه په نرمي تر سرَه کیږي | څه حاجت چه رساوه شِي تر جنگونه |
| و هغو وته که قهر کړې روا دیي | چه لَري دَ بدو فعل بد خویونه |
| دَ هغو په مرگ ثواب گټلي بویه | چه ئې سپخي له شامته غاړي غرونه |
| که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړ | په یوه بڅري وسوځي ښهرونه |
| دَ دښمن په تملق غلطي مکړه | دَ رستم غنُدي هم مړه دي په مکرونه |
| عاقبت به خپل ورغوي په غاښ پرې کا | هر چه کار کا دَ دښمن په ورمونه[1] |
| چه دِ لاس په دښمن بر شِي پرې ئې مړده | عاقلان به ژوندي نه پریږدي مارونه |
| که پخپله دَ خپل ځان په بدیي نه یې | دَ مارونو په غار مه منډه لاسونه |
| په خپلوانو باندي هونبره خشم مکړه | چه پردي در ځني ثښتي په ملکونه |
| دَ بادشاه په مهر مینه غره مشه | زورَور په لږ گناه وهي سرونه |
| بادشاهان چه په چا مخ کا دَ بدیِ | و سیندونو ته تړل نشي بندونه |
| په هغې معشوقې څه باور دَ کړو دي | چه په هر لوري یاران لَري زرگونه |
| دَ پیپلو پاڼي خوره نه هغه پاستي | چه ئې خورې دَ نوکریِ په شرطونه |
| که عمل که وکالت که پیر و پلور دَی | دَ هوښیار له لاسه ښه یسي کارونه[2] |
| له بد خویه سرَه هیڅ بدي ته مکړه | غلیمان ور لَره بس دي خپل خویونه |
| دَ کمذات په ښو خبرو غلط مشه[3] | دَ گنډیرو نه خواږه لَري گلونه |
| په هر کا کښ چه در پیښ شِي بیره مکړه | په تلوار سرَه ورانیږِي جوړ کارونه |
| چه دِ قول له چا وکړ نور ئې مکړه | تل په عهد، قول ټینگ وِي ښه میړونه |
| په رشتیا که په دروغ وِي سوگند مخوره | منافق دي چه ډیر خوري سوگندونه |
| دَ حرص سترگي مَړې په قناعت کړه | چه په کور کښ دِ انبار شِي معمتونه |
| که هر څو دِ علم ډیر چه عمل نکړې | ته حمار یې په تا لښلي کتابونه |
| دَ ښه دین دَپاره علم دانش ښه دَی | نه پیدا چه پرې لوټیي[4] پردي کورونه |
| په جهان کښ که مردان دي هم هغه دي | چه و سختي وته ونیسي ځانونه |
| په لښکر کښ دِ هم ساد وِي هم دِ غله وي | کله غشي پکار کیږِي کله گزونه |
| چه بدانو سرَه ښه کړې قباحت دیي | دَ بدانو خو هم تور ښه وِي مخونه |
| عاقبت به ملگیري در څخه پریکا | چه په لاري تر تا تیر درومي ستا ملونه |
| که دِ ورور دَی که دِ زوی دَی چه بد کار شو | په څپیړه ئې کاږه کا ورمیږونه |
| چه بد فعل بد غرض و بله ناست وِي | دَ هغو له ناستي ښښته په کروهونه |
| چه په کالو مشران ته ئې حرمت کړه | بیا هغه چه دِ په ځای دي لکه ترونه |
| چه د ښځو تر آواز پوري زبون وِي | په جهان کښ هغه ډیره دَه زبونه |
| په هغه کور کښ چه ښځه چرگه بانگ لي | دَ هغو خونو نه ځِي برکتونه |
| هر چه شرعَ فرمائي په هغه کار کړه | مه عمل کوه په رسم په دودونه |
| نیکو کار په فقراوُ خیر خیرات کا | هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه |

---

١. د ورم مجع په معنی د صلاح مشوره، شیطاني،پند او نصیحت. په یوه نسخه کښ داسی دی: د دښمنو په درمونه.
٢. د هوښیار له لاسه ښه شي دا کارونه.
٣. په کمذات باندی ښیگړه حبطه ده    په ښوره مځکه کښ مه کره گلونه
٤. لوټول یعنی چور او تال کول.

که دِ زړه له وینو ډک شی و دښمن ته — لږ و ډیر په زبان مه راوړه غمونه
په هر کار به دِ لاس بر وِی په ځوانی کښ — که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځوانی کښ چه دِ کار له لاسه ووزی — په پیری به دِ ورنه رسی لاسونه
درته وایم چه په کوم توکی به دروند شې — چه دَ هر چا سَرَه نکړې ځوابونه
همیشه اوسه خوله پټه لکه ناوې — چه ضرور شی هاله وکړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان څوک وی — چه همیش په خندا سپین لَری غاښونه
که خبره که خندا کړې جگی جگی — هَره چار تر حساب مه کوَه بیرونه
که دِ زړه دَی چه دِ عیب ښکاره نشی — چا ته مه شماره دَ خلقو پټ عیبونه
که تر تا نه په قوت دَ متو زیات وی — که هغه سَرَه حجت مکړه بحثونه
چه توانیږې دَ هغې خبری لاف کړه — او که نه په دروغ مه وهه لافونه
په دښنو[1] کښ چه دَ جنگو خرخښې وِی — ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دِ وارویدل چه بیا و بله روغ شول — نور پخپله وسله وَ وهه لاسونه
چه دَ ښځو نه بتر دی هغه څوک دی — چه دَ ښځو سَرَه کا مصلحتونه
په جهان کښ چه په نام و ننگ گاټه شِی — که پوهیږې ځاربه مړونه دی آسونه
خدای هغه په دواړه کونه دی نمنځلی — چه په ورځ ئې عدل و داد پشپه نمونځونه
چه په زړه پتا مین دَ هغو ناز وړه — تل نیازمنو سَرَه وړی دی نازونه
دَ اصیل ښیوه خپل اصل نه لباس دی
په زربافو کښ یا ډم وِی یا مریونه

که هوس دَ باز دَ ښکار لرې پسره — خبر دار ئې شه له عیبه له هنره
څو دَ باز وزر نری مهین باریک دی — دروند په وزن هونبره چا ئې دَه بهتره
رنگ ترکیب وته ئې مه غَرِوَه سترگی — چه څه لوی وِی هغه باز نیسه په غوره
دَ هر باز چه سترگی سرې وِی ژبه توره — هغه نه وِی بې مړانی بې سیره
څو ډیر اوږد غاړه اوږده اوږدې هم پلنی — دَ ترکیب وینا ئې دا ده مختصره
تر سپین باز نه قدر ډیر دَ څښتن باز دی — چه دَ پاسه شا ئې شنه سینه احمره
سپینه ژبه په شاتور اوږې باریکی — خوړند لم لکیور گران دَی په گاځره
دَ میزان نیولی ښه دی یا دَ قوس — په عقرب نیولی نه وِی بې ضرره
خپله مینه ئې په دام په جال بندی کا — که دَ باز په ځان بلا شو له کوتره
میزانی نیولَی دم در حال ښکاری کړه — دَ عقرب نیولی پرانزه په ویره
په درست ژمی ئې ساته په تاوده ځای کښ — تماغه ئې په بهار واخله له سَرَه
دَ بازونو هنر هسی آسان ندی — چه ئې طمعه سړی کا له یوه هره
نوی باز چه اول ښه په چرگ تیار شی — بیا باولی ور لَره بویه هنر وَره
چه یو څو باولی وخوری ستا له لاسه — بیا ئې ښکار لره روان کړه برادره
چه پگه پگه ئې سیر کړه څلویښت لاسه — نور په ښکار ته غاړه کښیږدی برابره
نوی باز د دَ سبا په وخت الوزی — یا چه پاتو شِی پنځه گړی له نمره
خوی خصلت دَ ښو دَ بدو څه پگښې دَی — همگی دَ باز ښکاریږی له بصره
هر یَو باز گُښی خپل خوی لَری خپل فعل — خبر دار ئې شه له اصله له جوهره
چوز هاله صاف کړی بویه چه فربه وی — دَ صافیِ تکلیف واخله له لاغره
دَ صافیِ دِ اووه حبه نبات وِی — تر یوه دِ مالگه نه وِی افزونتره

---

۱. دښنی د دښمنی مخففه او مفغنه ده، دښن عیناً په معنی د دښمن دی.

که چړه نبات دِ ورکړ عیب نشته دا هاله که ئې پیدا کړه لره بره
چه دَ باز په هر علت زحمت خبر شی میر ښکاری دَ هغه کس دَه معتبره
باز چه ښه تر ګرُیز وَ باسی میر ښکار دی کنه واړه دَ ده چار ګنه ابتره
باز چه ووزی له کریزه هاله پوخ شی په چوزی کښ اومه خښته ده نیم تره
دَ چا باز د په دارو اموخته نشی د ستکشیۍ ورلَره بس ده منر وره
سیه چشم لَغه ډیره پهره بویه کال چشم لره بس ده دوه دوه پهره
لږ خوراک دَ باز صحت ډیر ئې زحمت دی یکخوره طعمه ئې نده بې خطره
دار چینی د پر مهرې سَرَه لازم دی دَ سیږمو نا سوار ئې یوسی رنځ له سَرَه
دَ ساړه دارو ئې مښک او مومیایی دی هم دیږې تریحی باز ساتی بې ضرره
که دارو دَ خوشخویوۍ خوری په ژمی دَ بد باز به بد خوئی ووزی له سَرَه
دَ اغیږ دارو ئې دا دی نور څه ندی چه یوه دوه ورځ ئې منعه کړې له خوره
که تازه طعمه ئې رد کړه پدا څه شی چه دَ ګیډې طعمه وَ جار باسی ویره
په ساړه ژمی دَ باد دَپاره ورکړه دَ کوکری طعمه درې ورځې مکرره
دَ حلوان غوښی دِ خووری دَ وړې چرګی دَ تارو تمځری یا دَ کور کوتره
چه دَ زرکی غوښی تل خوری کریز نکا مرغاوی ده و کریزوته بهتره
په ساړه د چکس نغښتی په نمد وِی چه فارغ وِی دَ ساړه له هره شره
باز چه موږ په چکس واچوې که ورایه پدا کار به پاتو نشی بې ضرره
ډک تغار دَ اوبو تل کښیږده وَ باز ته په ساړه غارمه دا چار کړه مقرره
دَ مږه ګوری غوښی ښې دی په کریز کښ یا هاله چه باز بابښه شی کلنجره
چه په شپه په ورځ فریاد په هر ساعت کا دَ هغه علاج څرببنت دَی له لاغره
هغه باز به تر بابښې نه لا تیز پر وِی چه مهین دَ لکۍ بال نری شهپره
هغه باز چه څاړې نه نیسی ناقص دَی له هیلۍ یا سرخاب نیسی بې مره
که دَ ژمی په وخت ښې نیسی بټیری تر بابښې نه هغه باز ګڼه تیز پره
تریناک بُزم تولک تر چوز کم ندی په وهنه تر چوز لا دی افزونتره
دَ شاهین په ښکار به کاندی هغه مینه چه ساتی په هر شاهین پنځه نفره
د مرغونو مزری چرخ دی که ئې ګورې خو میر ښکار ور لَره ښه بویه پسره
که دَ باز مینه په ښه جره ماتیږِی
ولی ښه بابښه ترې لا ګه‌ه بهتره

خدایه ته ځما پرده مکړه پاره بد می مکړه و عالم وته ښکاره
هغه لار چه د نیکۍ دَ نیکنامۍ ده په هغه لاره می بیایه همواره
چه دَ دین دَ دنیا ښې چارِی پګښې دی همیشه می په هغه چارُو ګماره
په دنیا کښ می همیش لَره زړه جمعَ پریشانی دِ ځنی اوشی کناره
نفس شیطان د واړه قرین دی په شماره کښ را ښکاره لَره دَ دواړو مکاره
ما لره په ملهمه په لوامه کښ ته می وژغوره له نفس اماره
که هر څو می لوی ګناه له لاسه وشی په توبه سَرَه ئې ته کړه آواره
په توبه کښ هسی رنګه ثبات راکړه چه تونه می ماته نشی دوباره
کبیره راته ګنده غوښی دَ خوک کړه صغیره کړه راته غوښی دَ فاره
ذمیمه می وار په وار له دله واخله چه په زړه کښ ذمیمه دی خونخواره
دَ بدبخته ستاره می امان وکړه را سَرَه لره نیکبخته ستاره
توان توفیق دَ عبادت دَ طاعت راکړه زه خاکی بنده عاجز یم بې چاره
په حساب کتاب می رنګ دَ خلاصۍ نشته ما یک لُخته خپل کرم ته وسپاره

چه اروا می له قالبه نه جدا شی نور می بیایه دَ جنت په ننداره
چه کراماً کاتبین را څخه خوښ ځِی هسی رنگ می گورستان ته وسپاره
مخ می سور لَره همیش په استغنا کښ په طمع می زیړه مکړه رخساره
تر ایمان چه می چا پیر دَ یقین کوټ دی سلامت ئې وساته برج و باره
پدنیا کښ می غزیز لَره تر تلو آل اولاد می پیدا مکړه هیچکاره
وخت آخر شو غافل مه اوسه خوشحاله
یَو څو ورځی شپې باقی دی په شماره

عاقلان چه پدنیا نکا و تنه دَ یقین په سترگو وینی ترې وتنه
پدنیا وتنه دانده هوښیاره چه دی هیڅ په دنیا مال نه وِی وتنه
دَ دنیا مالونه واړه سره آسپه دَ دنیا په مال د زړه نه وی تړنه
دَ سلیمان غُندی ئې پاسه په سر کښیږده نه قارون غُندی ئې ږده د زړه دننه
زیست روزگار دَ چاریارانو غُندی وکړه په روزکار دَ هر یوه وکړه پوښتنه
ابا بکرؓ څخه هیڅ نه وُ بادشاه وُ که عمرؓ دَ خزانو وُ په ساتنه
دَ عثمانؓ تونگری غنا ځائی وه دَ علیؓ په خرڅیده واړه گټنه
ډیر اصحاب دَ پیغمبرﷺ غنی مالدار وُ اما هیڅ ئې په دنیا نه وه وتنه
مؤمنان دِ پیروی کا دَ اصحابو دَ اصحابو وه دَ شرعی په لار تلنه
په هر کار کښ چه بې شرعی سړی پل ږدی هغه پل به ئې سریږِی په بوښتنه
شریعت وائِی چه ښه خوره ښه آغونده په حلال او په حرام کَوه پوښتنه
چه دَ چا په باغ کښ گډ شې فهم وکړه نا روا نظر ئې مه وکړه په ونه
ښې محبوبی لوبوه په پالنگ خوب کړه ناروا مکړه دَ سترگو اړونه
که دَ تخت دَ پاسه کښینې مبارک شه خو ثابت به شریعت اوسه مینه
سل خونونه په فتوا په روایت کړه خوله له شرعی نه بیرون مشه مؤمنه
دَ باغوان په اذن واړه ونی ستا دی چه روانه وی نظر مکړه په ونه
که دِ چیری ناروا له لاسه وشی په توبه وکړه و حق ته جارونه
څوک به هسی پاک معصوم لکه فرښته شی د سړی جامه گه سپینه گه ریمنه
دَ توبې صابون به هیڅ باندی پرینږدی که دَ ځان جامه دی هر څو وِی خیرنه
په هر کار کښ هسی کار کړه جگی جگی چه څوک نه وائی و تا ته دروغجنه
د سړی خو اعتقاد او ترس دَ خدای دی یا چه هر زمان دَ مرگ کا یادَونه
چه دا درې توکی لَرِی اټکل می نشی چه به خدای رسول راضی نه وِی له ده نه
دانایان به غافل نه اوسی له مرگه دَ مرگی دَ فوج نا څاپه ده وهَنه
مرگ پتا پسی دائم هسی طلب کا لکه څوک دَ ورک کالی کاندی مرستنه
که دَ اوسپنیو په کوټ کښ ځان خوندی کړې عزرائیل به دی خبر واخلی دنَنه
زیارت وکم به دی یَو دم دَ ژوندُون نه وی هغه دم چه دِ پوره شِی دَ مرک ژمه
بار تړه تکل دَ تلو کوه خوشحاله همراهانو دِ غوغا وکړه په لښنه
لیری ملک وته سفر دَی فکر وکړه بیا په بیارته دَ چا مه کڼه راتلنه[1]
چه سفر بې توښې کا ارمان به یوسِی
گورستان لَره له دې ځایه دَه وړنه

1. به دِ نه کیږی راتلنه

یار می ذوق دَ تماشې کا له اغیاره[1] زه فریاد نارې وهم چه یاره یاره!
دَ خاطر طمع می هسی رنگه نه وه چه به هسی رنگه ظلم کا یکباره
چه یک لخته می وباسِی له خاطره فراغت به شی د ما دَ زړه له زاره
مگر خون ځما په شرعَ کښې روا شو چه جلاد می ویره نکا له آزاره
زه حیران وم پدا کار نه پوهیدلم چه گناه می ثابت نه زه گناهگاره
هو دا یو گناه لَرم زه گناهگار یم چه پټا باندی خاوند کړم مینه داره
که دا ستا مینه گناه زه گناهگار یم که دا ستا مینه بدکار دَی زه بدکاره
گنه بل گناه زه نه وینم په ځان کښې نور ستم را باندی مکړه ستمگاره
زه سینگار دَ صورت وکړم په امید شم چه به ته په ما پیره راوړې دلداره
ته پیره په ما و نه کړې دل مانده شم وشرمیږم دَ همه خپله سینگاره
لکه بند بلبله تا وخورم په قفس کښې چه جدا یم ستا دَ وصل له بهاره
په وگړی ځما ستا مینه ښکاره ده چه مین دَی په فلانی فلانه بې شماره
دا چه اوس پما جفا جور همیش کړې تر وگړی پوری زه یم شرمساره
دَ وگړی د پیغوره می به خلاص کړې که له خپله وصله ما کړې دلقراره
که ته وگورې دا شرط دَ مینی ندی چه په مینه کښې ته روغ یې زه بیماره
دَ لیلی او دَ مجنون مینه په یاد کړه مگر نه ده دا خبره در اظهاره
چه فصاد ئې په لیلی نشترگزار کړ دَ مجنون له رگه تله دَ وینو داره
په معنی کښې سره دوه تنه یو تن کا محبت هسی اثر لَری اې یاره!
معشوقې می و عاشق وته وَیل کړه دا دَ دوی له حاله وشول څو گفتاره
ما خوشحال څه دا اشعار ویلی ندی
یو اسرار می هویدا کړ له اشعاره

## (ی)

مخ دَ هغو تور شه چه ئې مینی نفسانی دی یوه مینه باقی ده[2] نوری کل مینی فانی دی
نس یَو کوټه سپی دی نور څه نکاندی خو غواړی هر چه ورکوَل کا هغه خیر په سگبانی دی
مکړه دَ نس نغوته دَ هوا په لوری مه ځه واړه دَ نس چاری شیطانی نه رحمانی دی
زړه په چا ښه مکړه که دِ زویه که دی ورونه مله د تنگځې نشته هیڅوک واړه ځان ځانی دی
رنگ د دنیا ورک شه څو ډیر جمع کړې مالونه هونبره ډیر پریشان شې جمع ندی پریشانی دی
غم دَ هغو نشته چه هیڅ نلری په کور کښې غم کاندی هغه چه دا دنیا په ودانی دی
ما نَدیی ویلی له کتابه دی ختلی غوږ دِ باسی خلق دا خبری حقانی دی
کر دَ بدو مکړه بدکاران دَ بدو کر کا هر چه نیکوکار دی دَ نیکۍ په دهقانی دی
هر چه نیکی وکا بیا بدی ور باندی کاندی کور دَ عمل روغ کا بیا ئې خیر په ویرانی دی
نشته هسی زړونه چه اخلاص لری په زړه کښې وخت دَ آخر راغی آشنایۍ زبانی دی
نه په چا کیږی نه ئې کار دَ زیاتیدو شته نوری به ئې نکا هر چه بخری اسمانی دی
لږ عبادت وکړې نور هر گور په ځان غره شې هر چه ډیر طاعت کا هغه لا په حیرانی دی
درست تحصیل تمام کړه پدا کله دانشمند یې حرف ور لره بس دَی چه عالم ربانی دی
کانده به په گور کښې وی ریمن کفن آغوستی نن دِ سر تر پایه که جامې زر افشانی دی

---

۱. دا قصیده لکه هندی اشعار دَ معشوقې له خولې څخه خطاب دَی و مین ته.
۲. د خدای مینه باقی ده.

ما قرآن منلی چه نازل دَی له اسمانه
نورو ته بخښلي که خبری یونانی دی

وخورې څملې پاڅې نه دِ فکر نه دِ ذکر
ته څه سړی نه یې دا خویونه حیوانی دی

مه اوسه بې ذکره همیشه اوسه په فکر
ذکر و فکر واړه دَ زړه کار دی روحانی دی

راغلم پدا عمر چه می سپین دَ سر ویښته شول
لا می دَ زړه توری هغه هسی شیطانی دی

ډیر همزولی لاړل توری خاوری شول په گور کښ
لاړل کاروانونه یو څو پاتو کاروانی دی

ډیر شاهان خانان وُ چه دعوې ئې دَ جهان کړې
راشه که ئې گورې اوس په گور کښ زندانی دی

روغ کړه محلونه پکښی کښینوه ښې جونه
مرگ به د ترې بیل کا نه چه دا جاودانی دی

پروت به یې په خاورُو تر سر لاندی اومه خښته
اوس که د سر ویړدی نهالئ کا شانی دی

ډیر خلق ناپوه دی چه ئې ډار نشی له مرگه
خاندی هوسیړی په څو خوښ په نادانی دی

ډیر منبود ئې وکړ دَ دنیا په ودانئ
تش لاسونه لاړل نور ئې ناست په ودانی دی

دا فکر و مکړه چه زه ځوان یم مرگ می نشته
ډیر تنکی زلمی و گور ته تللی په ځوانی دی

مرگ لکه یَو باز دَی په هوا وَهی کوتره
فهم فکر وکړه چه دِ بلښی طولانی دی

چا وته ویل کړم ترجمان نشته په منځ کښ
زه سمرقندی یم یاران واړه ملتانی دی

امر کړه خوشحاله په ستنه اوه له نهی
هر چه نهی کاندی هغه ژر په پښیمانی دی

چه په وخت ئې دَ بهار عشرت په مَی دَی
بادشاهی ئې مبارک شه لکه کَی دَی[1]

پدا باغ کښ ډیر گلونه شگفته شِی
دَ لاله غنُدی دَ چا په زړه کښ کَی دی

چه په کور کښ ئې جار وزی یو څو کښلی
دَ هغه په انگڼ هر کله پسرلی دی

مجنون غاو په عشق کښ وکړ زه خاموش یم
که انصاف وِی تر مجنون لا تیری دی

هغه هوډ هغه دماغ راپاتو نشو
که زړه سوی را باندی کړې ځای د زړه سوی دی

خط دَی ستا په مخ که پښې په منبک ککړی
دَ چنبې دَ گل په بانِی ولاړ میړی دی

په یوسف باندی دا هونبره غوغا نه وه
خریدار ئې په لکونو یَو زلمی دی

خدایه ته چه ښایسته له دنیا بیا یې
مگر ستا هورې دَ حورو څه کمی دی

دم، دعا، توری، تاویز، ستانې، رویونه
چه په هیڅ کښ مونده نشی هسی شی دی

دا خپل ځان می چه پیښکی کړو خپل یار ته
و سلیمان ته دَ میړی په لاس ملخی دی

همیشه دَ هغه سخ چه باندی وشی
تش نظر ئې په معنی دَ همای پی دی

سپینه خوله ئې و ما راکړه وې می موړ شوم
وئې خواره وړیه دا خو نیمریځی دیی

یار می هسی رنگ ځائی وکړه په سترگو
چه و هر لوری ته گورم واړه دَی دَی

که هر څو شیرین اشنا وِی چه جدا شی
په هجران ئې نور څه هیڅ نشته یو هَی دَی

حسن، ناز، مهر، نیاز، فتنې، جنگونه
پدا څو توکه دی کوم سړی مخی دی

شکر دا چه نه می یو سر کړ نه بل سر
که په دوو سترگو می یښی یار تلی دی

که فرښتې دی که پیری دی غم ئې نشته
چه ئې غم لَره پیدا کړه دا سړی دی

دَ غافل په سپینه ږیره غلط مشه
دا هلک غُندی لا په خوله کښ تَی دی

ما چه ستا دَ مریی والی لافه وکړه
د اورنگ غُندِی بادشاه ځما مریَی دی

دا لوئی را لره بس دَه په عالم کښ
که دِ ووې چه حیران عاشق می سپی دی

دَ هغه یاری په نه یاری شمارلې
چه ئې نن لتا خندا کانده مانِی دی

یا دا درست خلق هوښیار زه لیونی یم
یا یو زه هوښیار دا خلق لیونی دی

واړه مینه ده پوهیږم چه ئې زیړ کړم
عام عالم راته ویل کا ستا زیری دی

---

۱. په دې بیتو کښ لفظی تجنیس دی، لمړی کښ نوم د بادشاه او دوهم کښ په معنی دَ داغ دی.

که هر څو ئې پوهَوم پرې نه پوهیږی　　　زیست روزګار ورسَرَه مه وشه څاروی دی
یوه ورځ به نوبهار راشی بلبلی!　　　هونبره ډیره اندوه مه کوه که دَی دی
چه چا دم وهلی نه شو و هغه ته　　　راشه ګوره چه دَ چا باندی غورځی دی
زمانې دَ خلقو حال راته څرګند کړ　　　په یوه زمان دِ خپل په بل پردَی دی
که جزا سزا ور نکړې په ځان خاندې　　　چه له رایه دِ بل رای کا که دِ زوی دی
خو چه والوزی له ځالی منګل سرې کا　　　په وَهلو آموخته دَ باز مرغی دی
مزری توب بویه دَ تورو په میدان کښ　　　په خالی میدان هر یَو ګیدړ مزری دی
که دَ جنګ په کار کښ ډیر دی حکمتونه　　　چه دَ سر صرفه ونکړی نور برَی دی
هغه سر چه زیب ورکړې وُ افسرو　　　اوس ئې ګوره چه دَ کوم پالیز کودی دی
ځان دَ پت دَپاره سیځی هندوګیه　　　چه ئې هونبره همت نه وی نور سوپری[1] دی
په طلب ئې سر ګشته په کلیو ګرزم　　　که ئې خدای را لَره را کا یو کالی دی
چه ګوندیَ جنبې وشوې غم پیدا شو　　　هغه ځای دَ اور لمبې شی چه لوګی دی
جال مرغونو لَره پټ په وښو یښی　　　په سوګند ئې باور مکړه تنولی دی
بند په بند ئې نظره کړه خوند ئې آخله　　　دَ دانا دَ خولې کلام لکه ګنی دی
خاص و عام دِ طمع کا بخره به مومی　　　لوی واده لویه خوړه لوی ئې خونی دی
نه یم هیڅکله خالی له یوې مینی
ما خوشحال چه پیژندلی کېن او ښَی دَی

تروخته تر پریوته څو ښځی پیدا کیږی[2]　　　څو دی په جهان واړه څلور ذاته حسابیږی
ګل فامی، نیک فرجامی، د دودا می فیل اندامی　　　هم دا دی چه می ووې پرې دِ هر څوک و پوهیږی
ګل فامی دِ هغه چه نیلوفر غنُدی ئې تن وی　　　له تنه ئې ښه بوی درومی بورا باندی څو خیږی
ښې غټې توری سترګی لوی بانَه نریَ ورځی　　　که پان خوری که شراب خوری تر مری ئې ښکاره کیږی
غنچه غُندی خوله تنګه سر ئې ګرد نریه پوزه　　　بارخو ئې لکه دَ چینې سپین نازک ځلیږی
پلن وچولی سرې شونډی هلک ځاه ئې په زنخ کښ　　　واړه هموار غاښونه په خندا کښ سپین بریښیږی
ښې سپینی ډکی لیچی ګرداور غوی اوږدې ګوتو　　　هر ځای ته چه ئې ګورې هیڅ لقب پرې نه جوړیږی
د تیو سر ئې تور تی ئې هلک سینه کشاده　　　په قد سمه ثابته سم الف شی چه ودریږی
د سر ویښته ئې تور نریَ اوږدې ولول ئې زلفی　　　په ځان لکه باغکه[3] چه ویښته پرې نه نمائیږی
دَ سپوخځی ویښته ئې هم نری په نښت شمارلی　　　ورنونه کوناټې ئې ښه لیدل شی چه خوځیږی
ډیر خوب لږ ئې خوراک ګیډه ئې ناسته ملا نریه　　　آلت پکښې نامه څخه په ګوته څوګندیږی
لږ قهر عقل منده کم د خوله مهربانه　　　ساده لږه خندا خو هم په شونډُو کښ موسیږی
ګلفامه خو می ووې، نیک فرجامه درته ستا یم　　　په حسن په ښایست کښ و ګلفامو ته رسیږی
دا دوه توکه ئې نه وِی چه بورا باندِی څرخیږی　　　یا پان خوری یا شراب خوری تر مری یئ ظاهریږی
ویښته ئې په وجود باندی هم لږ و ډیر لیدل شِی　　　نه ځږه وی به بدرنګه په وجود ئې ښه خوریږی
خوراک په اندازه خوری خوشبوئی ئې لکه ځان وی　　　لږ خوب کا ډیره لانبی تل په ستر سحو ویښیږی
مَیَنه په هوس وِی خنده رویه شیوه ناکه　　　په اوبو په سندرو په سر ودئې زړه خوښیږی
نه غم نه دلګیری کا همیشه ترو تازه وِی　　　پخپلو سهیلیو مینه کا باندی خوړیږی
د خپل میړه په بد په ښه په هر چاره ئې نازیږی　　　که بل سړی سره زر وِی ورته خاوری څرګندیږی
په نیت جوړه په پت جوړه ظاهر باطن یَو رنګه　　　دَ یار دَ پت دَپاره دَ کباب غُندی وریتیږی

---

۱. یعنی نامرد، اصلی معنی ئې کونی ده.
۲. وخت، پریوت یعنی مشرق او مغرب.
۳. د یوه مرغی نوم چه وزر ئې ډیر ښکلی وی.

رشتیا خبره هم په ډېر ضرور په ډېر ناکام کا / دروغ خو ئې هرګز په خوله په ژبه نه جوړیږی
په خوله پاکه په زړه پاکه بې ویری بې وسواسه / په غولی په جوس ئې هیڅ نا پاکه نه تیریږی
له ځایه ئې ښه بوی دَ ګبینه غُنډیی خوږ درومی / دخول وته ئې زړه دَ خپل میږه په رضا کیږی
تعریف دَ ددو دامو درته وکړم راته غوږ کړه / په زړه کلپه ناغسه په خبره نه شرمیږی
بد ګویه بد زبانه ډیرَوِی لږه خبره / ځان تود بوی ئې له ځانه دَ لیوه غُنډی بهیږی
مَینَه په چیچله وی په سکونډل وی په داړل وی / له تاوه ئې هم هر کله خښتک منښتک لنډیږی
ویښته ئې دَ سر ځږه دَ تن هم ځږه ګرلنډ بدرنګی / یکدله ګیډه وره په خوړلو نه مړیږی
میوه لونګ جائفل لاچی پدا ئې غرض نه وی / تروه ترخه شونډ مونډ بلا بتر ته ئې زړه کیږی
چه تاو خاربښت ور پاڅی نا قراره شی ښوریږی / که لوی وِی که هلک وِی و هر چا وته قهریږی
نه پت ګوری نه شرم نه ئې حق وته نظر وِی / دَ خپل میږه په غیږ کښې زړه ئې نورو ته پړکیږی
دَ کلی دَ محلت ناپاکی ښځی ورته ناستی / دَ بدو بد کارونو قصې وائِی مشغولیږی
چه خپل میږه ئې بولی ورته ځان کا لکه حیزه / بل ځان چه بد کاری کا په شل ځله نه سړیږی
زیارت میارت بانه کا دَ رنځور منځور پوښتنه / چه لاړه په هر لور شی دَ هر چا سَرَه خواریږی
اوس غوږ باسه و ما ته مخ ئې تور دَ ددو دامو / بیان دَ فیل اندامو هم ضرور دی بیانیږی
کټه مخ بد کولکونه ورځی پلنی وړې سترګی / لوی سر ویښته ئې ځږه تیره سرونه سَره ځلیږی
درست ځان کټه لاس پښې کټه، کټه دَ لاسو ګونی / بد شونډی داړه وری چه سړی ځنی ویریږی
یون دروند آواز هم دروند په زړه هم سخته ناشولته / کم مهره قهر ځنه چه بل خاندیی دا پخسیږی
هاتی غُنډی خوراک کا دَ هاتی غُنډی ترې بوی ځی / په عشق په محبت په مهر مینه نه پوهیږی
خواړه ماړه چه وخوری اړړمئ په وازه خوله کا / لاس پښې په بیارته بیارته هر ځای پریوزی وغزیږی
د چین او دَ ماچین په ملک کښې ډیری دی ګلفامی / د هند په لته[1] هم خال خال په چوته څرګندیږی
کشمیر فرخار کابل قندهار څو چه خراسان دی / پدا کښې نیکفرجامی ډیری ډیری مونډې کیږی
هیڅ ملک کشور اقلیم له نیکفرجامو خالی ندی / په هر لوری نوبت د وردَ دوی دی چه بږغیږی

اسمان چه ورځ و شپه قراری نکا هسی ګرزی
تر سر دَ نیکفرجامو زه خوشحال وایم ځاریږی

چه په خوا په خاطر نه هسی عیان شی / ځنی څه چاری پیدا پدا جهان شی
په لاچی په څو تره و ګرزیدلم / اوس می ګښت دَ افریدیو په میدان شی
لکه باز په یو غر ګرزی په بل لوری[2] / بیا ځما نظر دَ سوات په کوهستان شی
دَ مغل منصب می پریښو هسی خوښ یم / لکه خلاص دَ لویه بندَ بندیوان شی
دا نادره عقیده لکه ځما ده / لا عجب که بل پیدا هسی افغان شی
که می چیری ننګیالی په لاسو کښیوزی / پرې به لیری دا ځما دَ زړه ارمان شی
د مغل وته به هسی کار ښکاره کړم / چه راضی را څخه روح دَ فرید خان[3] شی
په اعوذ به ئې فتح کړم که خدای کا / په دا کار کښې که څوک ما وته شیطان شی
په هر کار چه همت وتړی له دله / که اغزی وی هغه کار ورته ریحان شی
که فرښته وی بې بدئ به پاتو نه وی / چه قرین ور سَرَه هر کله بدان شی
چه ئې خپله پوهه نه وی ښه هغه دی / چه دَ بل سړی په پند پسی روان شی
هیڅ بهبود خبره وا نورې له چا نه / بیهوده خبری ډیری تر دا میان شی
زه به نن غرض و ګانده ته پرینږدم / که د ګانده د ژوندُون سړی ضمان شی

---

۱. یعنی علاقه او سیمه.
۲. لکه باز په یوه غره ګرزی بل ګوری.
۳. د شیر شاه سوری اصلی نوم فرید خان ؤ، چه له مغلو څخه ئې دَ هند پاچهی ونیوله.

چه خندا په خوب کښ ووینې وژاړې
دَ نادانو یاری سود گڼې دا زیان شی
په یوه بخری وسوځی درست کلی
په یوه خبره ولاړ واړه ایمان[1] شی
ساقی نن ځما په دَور جام گردان کړه
گوره کانده به دَ چا دور گردان شی
اورنگزیب بادشاه زړه ډک په لاهور راغی
گوره گانده به څوک وران څوک به ودان شی
لکه کښت لَره باران او باد پکار دی
دَ عالم تولی په خلق په احسان شی
درومه هیڅ دَ میاشت و کال خبری مکړه
هره ورځ پیرې څو شانه دَ اسمان شی
ډیر و تا وته نن لافی دَ یاریٔ کا
گانده ستا و سر ته کښنینی غلیمان شی
په جهان دَ ننگیالی دی دا دوه کاره
یا به وخوری ککری یا به کامران شی
دَ بازونو د کارگانو مصاف وینم
تر دا منځ به ئې دَ وینو رود روان شی
عاقبت به خدای ظفر کا دَ بازانو
تار پتار به آواره واړه کارگان شی
چه و کار ته ئې حیران دی دا خو لږ دی
ډیر عالم به و خوشحال وته حیران شی
چه په داغ باندی ئې ږدې څه خو پنبه ده
نور به کوم دَ لیونی پاتو سامان شی
دَ مزریو مړنتوب په لښکر نه وِی
مټ ئې هر کله یوازی پخپل ځان شی
آزادی تر بادشاهیٔ لا تیری کا
چه دَ بل تر حکم لاندی شی زندان شی
چه په څه دِ زړه مشغول شی هغه واړه
په سلوک کښ ستا دَ لاری رهزنان شی

انبیا تر محمدﷺ پوری معلوم دی
لکه ستوری تر آفتاب پوری معدوم دی
مرتبه ئې تر اسمنانه دَه بلنده
دَ براق ئې دَ اسمان دَ پاسه سوم دی
که تورات دی که انجیل دی که زبور دی
دا همه دَ ده په نام سَرَه مرقوم دی
محمدﷺ ئې دَ غبرا خلقه بولی
کروبی ئې ذاکران دَ احمد نوم دی
په تفیل ئې پیدا شوی دوه جهانه
په ما زاغ ئې و نظر وته مذموم دی
په معجز ئې د قمر کمر دوه نیم کړ
په اعجاز کښ که پولاد و چا ته موم دی
چه د عرش ئې په نعلینو ښائیٔ شوه
چه دَ پښو ئې خاوری نشول هغه شوم دی
یک تنها ئې دَ جهان مهم آغاز کړ
دَ دښنو فکر ئې نه وُ چه هجوم دی
بادشاهان ئې واړه ځان گڼی مریونه
که دَ چین دی که دَ هند دی که د روم دی
په افلاس کښ به دَ جهل خوار و زار شی
چه دَ شرعی له دولته ئې محروم دی
سر گشته دَ ضلالت په تیه کښ گرزی
چه دښنه ئې دَ خسرانو یا دَ زوم دی
هر اصحاب ئې لکه ستوری دَ هُدی دی
دَ هدای دَ لار ښیون کاندی نجوم دی
که خلاف ئې دَ اصحاب په منځ کښ وشی
دَ مفهومو کار هغو زده چه مفهوم دی
چه په جنگ کښ دَ علیؓ له لوریه ومړل
په هغه باندی گواهی وله مرحوم دی
په یزید باندی لعنت شه په اعوان ئ
چه په تیغ ئې دَ نبی نمسی مظلوم دی
دَ امت ئې برگزین دی اثنا عشر
په بزرگی کښ دَ همه جهان مخدوم دی
دَ خوشحال ختک دِ حشر له هغو شی
چه دوستدار دَ پنجتن پاک چارده معصوم دی

چه موسم می دَ گلونو دَ گلزار شی
نرم نرم ترشح په مرغزار شِی
دَ هغه له بخته څوک برابری کا
چه په هسی وخت ئې سیر په گلزار شی
نن ځما طالع لما سَرَه مدد کا
بخت دِ هر کله دا هسی مدد گار شی

---

۱. کښلی ایمان.

چه می ناسته دَ صورت په هسی ځای دَه
چه ثنا ئې په لته دَ هندو بار شی

پدا ځای چه دَ ابدالو نظر وشو
عاقبت به په همه جهان اوځار شی

په چمن کښ ئې اُوبه درومی روانی
په سبزه باندې نارې دَ جویبار شی

پدا هسی پاکیزه اوبو سلسالو
شماتت ئې دَ کشمیر په شاله مار شی

دَ سړی سترگی روښانی زړه خوشحال کا
چه اوبه دَ فوارو سرَه تار تار شی

چه له پاسه نه اوبه راځی په کښته
وایې سپینی مرغلری دی نثار شی

هغه ځای چه دَ مرمرو فوارې دی
ترغه ځای د دې ارم تماشه ځار شی

ته به وایې دَ اسمان تنا غوزار شوه
چه اوبه ئې را روانی دَ آبشار شی

که په سر ئې دَ حوضونو څوک گذر کا
وایې پاس په آئینو باندیی رفتار شی

مرغاویِ په حوضونو کښ غوټې کښ
دَ محل په مخ کښ ناست دَ بازو ښکار شی

ته به وایې دَ نمرود دَ اور لمبې دی
سره لاله چه په چمن کښ انتشار شی

سه برگه ئې عجائب سرَه وودلی
فرق ئې لا دَ یراقونو تر کنار شی

په اطراف دَ هر چمن شگفته شوی
دَ زنبقو دَ سوسنو هم دیدار شی

پدا باغ کښ دَ گلونو کمی نشته
دَ همه واړو دَ چا په ژبه شمار شی

که سل برگ که بنفشه که ارغوان دی
دَ هر گل په ننداره خاطر قرار شی

دَ هغه صانع تر صنعه صدقه شم
چه ئې هسی دَ قدرت په لاس نگار شی

واړه ونی ئې اسمان سرَه سیالی کا
ولی فرق پکښی دَ ولی دَ چنار شی

په هزار رنگه نوا شی دَ مرغونو
هغه دم چه په چنارو کښ چغار شی

دَ مرغونو دَ نوا له موجه ښوری
نه له باده ښوریدنَه دَ اشجار شی

عمارت ئې گچ وهلی پکښی کړی
په هر کور کښ دَ جویونو شرهار شی

دوه سو تیر هور هروان دی پکښی طرح[1]
د سپین والی ئې تیری په سپین چوتار شی

لطافت ئې دَ هوا تر حده تیر دَی
پکښی روغ به دَ اتیا کالو بیمار شی

که زاړه په ده کښ کښیناستَی زلمی شوی
په هوا ئې ځما هسی اعتبار شی

دا مکان به دَ بهشت سرَه داخل کا
که رضوان ئې له نشاطه خبر دار شی

همگی صفت ئې تیر دَی تر حسابه
له همه وو که ویل کوَم طومار شی

دا بنا د آصف خان له لاسه شوې
اوس په حکم دَ خورم پکښی دا کار شی

زر اته پنځوس کلونه دَ هجرت وه
دَ نوروز په دوولسم چه دا گفتار شی

په خوشحال ۇ هم دا هونبره چه ویل شول
نور دَ عقل حکم ندی چه تکرار شی

معطر می دغه گل په بوی مشام دی
چه جمال ئې دَ بلبل دَ زړه آرام دی

دَ گلونو حسن ښه دَی بلا دا شوه
چه ئې وصل په آغاز پوری انجام دی

دا دَ گلو خوی خصلت دَی په چمن کښ
چه راتله ئې ډیر لارغه لږ ئې مقام دی

گله ته چه له بلبله مخ جار باسې
مگر ستا په خپل ښایست امید مدام دی

دَ بهار دَ سرو گلونو صفت څو کړم
ولی بې یاره هر گل دَ زهرو جام دی

دَ اجل ساعت که هر څو گران یادیږی
نه چه سخت دَ جدایی تر هنگام دی

جدائی می به هر گز قبوله نکړه
ولی څو کړم دَ قضا په لاس زمام دی

چه هوس می دَ وصال په وخت ۇ کړی
هجو خیر په هغه هونبره انتقام دی

ظاهری صورت په تن سړی لیده شم
ځان او زړه می دی هورې چه دلارام دی

---

۱. دا مسریَ په بله نسخه کښ داسی ده: دوه سو تیر سو رهروان دی پکښی طرح، حل غواړی.

خوب خندا می له خاطره فراموش شه      په ویشتلو باندی خوب خندا حرام دی
هغه خاوری تر عنبرو لا تیرَی کا      چه خوبا پرې قدم ینښی په خرام دی
گرفتار ئې څو ځان کاږی لا ټینگیږی      دَ شهیٔ دَ زلفو لا دَ بلا دام دی
زړه می بې دَ عشق له کاره نه خوښیږی      دَ دنیا روزگار می واړه په ناکام دی
دَ زړه درد او محبت زړه لَره بس دی      دَ آتش می یو بځری هم تمام دی
عندلیب می په قفس کښ گریانی کا      زاغ په څو په زیړو گلو کښ انعام دی
دوه مین چه سَرَه ووینی په سترگو      هم دَ سترگو په کاته کښ ئې اکرام دی
نور عالم سَرَه په خوله سلام علیک کا      دَ یارانو هم په زړه سَرَه سلام دی
اې چه طمعه دَ تور سترگیو له واریٔ کړې      دَ صحرا آهو هم کله چاته رام دی
چه په قندو په گلابو ئې پیغور شی      یو ئې ښې خوږې ښکنځلی بل پیغام دی
طبل څه لَره پنهان وهی له خلقه      دَ هغو چه پریوتلی طشت تر بام دی
نور چه تل ډکی پیالې تشوی ښه دی
په یَوه پیاله خوشحال خټک بد نام دَی

تور گیسو دِ په چندنِ باندی ښامار دی      توری زلفی دِ سنبل دَ نو بهار دی
توری سترگی دِ هوسیٔ دَ خطا شوې      چه و څه وته پرتې په سنبل زار دی
توری ورځی دِ لینده بانړو دِ غشی      عاشقان ئې زخمی شوی په گزار دی
مصفا تندی دِ ښه دَی تر بلوره      بیدلان ئې په سَرونو خریدار دی
دغه خال چه دِ دَ ورځیو په پیوند دی      دَ خطا دَ ملک اصلی نافې تر ځار دی
سپینه پوزه دِ غوټیٔ دَ زنبق ده      چه جاپیر ترې نور گلونه دَ گلزار دی
بنا گوش دِ نسترن دَی غوړیدلی      دَ چنبې تر گلو به دواړه رخسار دی
سپینه خوله که دِ غنچې سَرَه نسبت کړم      دَ غنچې غوټیٔ کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډی دِ ښې دی تر سرو لالو      سپین غاښونه بې بهادر شهرار دی
ښایسته ځنې دِ سیب دَ سمرقند ده      چه خواږه ئې تر نباتو نه بسیار دی
صراحی دَ سپینو زرو سپینه غاړه      سیم آسا اوږې دِ هم په دغه شمار دی
واړه تن دِ دَ حلب تر ښیښې صاف دی      چه رازونه دَ درون ترې نمو دار دی
سپینی لیچی دِ مصریٔ توری تیرې کړې      چه خونونه ئې په غاړه سل هزار دی
دَ یاقوتو نگینی دِ سره نوکونه      ځای په ځای دِ په اوږدو گوتو قرار دی
چه می ستا دَ تیو ښه ننداره وکړه      هغه کلک په لذت ډک خواږه انار دی
دَ نامه دِ کښته دم وهلی نشم      کینِ اوښی دَ گلو پانړی پرې انبار دی
دَ نامه دِ کښته دم وهَلی نشم      هم هغو زده چه خبر پدا اسرار دی
چه وَ ملا و کوناټیو ته دِ گورم      آویزاندی پاغوندې په نری تار دی
دَ پنډیو تر صفت دِ نه رسیږم      ولی سپینی په سپین والی تر چوتار دی
سپینی پښې دِ دَ زنبق دَ گلو پانړی      د پښو گوتی دِ گلیٔ دَ انار دی
تمام قد دِ په مثال دَ سبرونه      ولی سم ولاړ دِ عین دَ چنار دی
سر تر پایه ننداره یې ځان دِ جوړ کړ      تر تا ځار واړه رانړیٔ د هندو بار دی
ستا مثال په هندو بار کی را ښکاره شو      دَ لوبیا دانه یوه مټر خروار دی
دَ ټیکی د دُکدکیٔ لعل او دُر دی      گوښی گوښی واړه کښل وته تیار دی
ته خو ډیر مهر کوې عمر دِ ډیر شه
دَ خوشحال خټک د تش مهر په کار دی

چه بهتر تر هر نعمت دَی      که نعمت دی روغ صورت دَی

چه ئې دا نعمت روزی دی
سر ترا پایه عنایت دی
که ئې پیژنې نه قدر
روغ صورت لوی غنیمت دی
ستا د گوښی ځان یواځی
تر جهانه زیات قیمت دی
که دِ ځان نه وی جهان وی
په عدم ئې اشارت دی
دا جهان لکه معنی شو
ستا وجود ئې عبارت دی
چه په ځای ئې عبارت وی
دَ معنو هونبره قوت وی
دَ صورت دَ خوشحالۍ
مدار واړه په صحت دی
چه صحت دَ صورت نه وی
ورته خس مال و دولت دی
رنځ په کور کښې هم بلا وی
لا څه نور څه په غربت دی
آس چه ورو درومی په لاری
پریواته ځنی آفت دی
پښه می هسی رنگ په درد شوه
چه تیریږی یو ساعت دی
چه دَ سر بلا په پښو شوه
دا لا خیر خیریت دی
پدا هم شکر بایده دی
یو بتر تر بل زحمت دی
ما وې تیر شو ولی پوه شم
لا څه پاتو مصیبت دی
ما وې اوس خو مهربان شو
لا ئې ما سرَه شدت دی
هند په ما باندی دوږخ شو
که په نور عالم جنت دی
بندیوان ور لَره راغلم
دا یو څو میاشتی فرصت دی
هغه شان لکه بندی وم
ترې می لا بتر محنت دی
هره ورځ روتله دربار ته
گوره دا څه مشقت دی
دَ بل حکم پرې زندان شی
چه پر خپل حکم عادت دی
نه شیرین خواږه یاران شته
نه دَ چا سرَه صحبت دی
نه خپل ورکړل را نیول شته
نه خپل حکم حکومت دی
نه دَ ښکار هوا هوس شته
نه دَ نورو مصلحت دی
یو په بل پوښتنه نه کا
هسی ښهر بد خصلت دی
په شماره یو څو سړی دی
چه ئې جوړ را سره نیت دی
یو اکبر په غم شریک وُ
هغه هم پخپل عشرت دی
که بادشاه دی که خانان دی
را ښکاره ئې حال حالت دی
دَ هیچا برکت نشته
ځان ځانی شوه قیامت دی
ما چه دا قصیده ووې
په ډهلی می اقامت دی
څلورمه دَ رجب وه
زر اُوه اویا هجرت دی

نور څه مه وایه خوشحاله
که څه وایې قباحت دی

تور ویښته ئې ندی په وړوکو څو اودلی
واړه ښاماران دی په چندڼ باندی ختلیِ
سترگی وروځی ندی نه مژگان نه ئې زلفینی
دا ئې و دعوا وته فوځُونه دیی ترلی
سپین بارخو ئې ندی نه خولې پرې بریښیدلی
گل دَی دَ گلابو دَ سبا پرخی وهلی
تنگه خوله ئې نده چه ئې نه وینې په سترگو
درج دی د گوهرو لعل و دُر پکښې ساتلی
هیڅ په منځ کښې نشته چه ئې دم گڼې یا سحر
واړه ئې د سترگو په جادو زړونه وکښلی
دوه سترگی ئې هسی چه څو مینی پر تاراج شوې
خدای دِرو چه آخر لما به لوټ کاندی گټلی

وگوره و ما ته دَ شهسوارو روش دا دی
نښی[1] ته نظر کا بیا له پسه ښنه ولی

ځیر چه و جمال ته کتی نشم سبب دا دی
ځیر می هیڅا ندی و آفتاب وته کتلی

ستا دَورا حرام می ستا دَ مخ په نیت تړلی
ندی بې مقصوده و کعبې وَته څوک تللی

تل که دو دسته تندی وهی څه فائده ده
ستا دَ عشق په غم کښ عاشقان په زړه نتلی

دا خبره مکړه چه ځما له لوریه واوړه
هر چه راته وایې نور می واړه دی منلی

څه به دِ په یاد کړم څه منت به په چا بار کړې
ووایه چه څوک دِ په ښکنځل هم دی نمنځلی

پند وایم و تا ته گله نه گړمه دا ښه کړې؟
ستا په سر چه لوړی هغه تا له وَر رټلی

ما سره دِ نیت که دا اخلاص او یاریَ ندی
تش لباس خو شته دی تا څه لږ ندی غلولی

تل که هسی مینی په اغیار کړې لکه اوس دی
تل به دی په گوز وی دَ خپل یار مغل ختلی

ما سره که تل جنگ و غوغا کوې پرې خوښ یم
مرم چه رقیبان به دِ اوربل کاندی په کلی

مړه ئې دَ غمزې په تیره تیغ څه هونبره ندی
یا ئې چه څوک ښخ کا یا ئې روغ کاندی څوک څلی

کوک په کوک که ژاړم ستا په کوی کښ عیب مکړه
درد چه بې دوا شی خو نارې وهلی ویشتلی

خال دَ نیلو کښیږده چه په گلو باندی پیر کړې
اور دِ ډیری سترگی لور په لور په یوه کښلی

یَو دِ ستا دَ مخ غُندیی هم څوک راته ښکاره کا
هر چرته په باغ کښ که ډیر گل دی غوړیدلی

خدایږو زه به هیڅ بلا و تا وته پرینږدم
چیری په جهان لکه یَو دَ بل بلا آخلی

ځار ئې تر همت شم چه ئې ستا دیدن اولجه کړ
ستا په ورچه ناست دی په سپیرو ایرو ولړلی

سترگی دِ گواهی په نوی خون لی دَ خوارانو
په دروغه بهانه کړې چه شراب می دی نوشلی

نه زړه لرم نه دین لرم نه صبر شته نه عقل
دا کل واړه لا کله په ښه مخ دی ما ښندلی

خوبا چه دَ رنځور په بهانه میل وهی په سترگو
امداد کاندی دَ سترگو چه که ښې له زړونو ننبلی

خوبا په آئینه کښ چه خپل ځان وته نظر کا
حساب غواړی له مخه چه د زړونه دی لوټلی

دَ شونډو په ارمان ئې ځما ځان په شونډو وراغی
چه مرگ کا دَ حیات اوبه چا هم دی ارویدلی

دا څه شعر ندی چه خوشحال خټک بیان کړ
واړه لعل و دُر دی دَ بیان په تار پییلی

په ځان او په جهان کښ ما دوه څیزه دی وکښلی
په ځان کښ دواړه سترگی په جهان کښ واړه کښلی

دَ زلفو په هوا ئې بې خودی ځما نصیب شوه
له ځانه له جهانه تل بیخود دی مار خوړلی

د کښلیو په جمال په ننداره کښ ما خدای بیا موند
لږ ندی له مجازه حقیقت ته رسیدلی

ښه مخ وته چه گورم په دوه سترگو نه مړیږم
دَ تن وینښته واړه وازی سترگی دی ختلی

سیه دل دَ محبت له سوزه سازه خبر نشول
په کار دَ پتنگانو مچان ندی پوهیدلی

دَ هغه خونی له تیغه دَ خلاصی فکر ومکړه
چه دَی له ناترسیَ زړه وکاږی دَ وژلی

دَ خدای ملامتونه گوښی گوښی تهمتونه
په عشق کښ له وگړیه ما څه لږ ندی زغملی

ښه مخ په مثال گل شو زړه ځما لکه بلبل شو
شیدا بلبله هر چرته چه گل دی هورې یلی

مدد وکړه دَ وینو دَ ژړا په وخت اې دله!
نور اوښی پاتو نشوې چه ډیر ډیر می دی ژړلی

دَ شعر څه ثنا کوم چه دَی حیض الرجال دی
بد کر کا چه څوک په شعر کښ ویل کا ناپسندلی

که شعر ته نظر کړې پخپل اصل کښ ند ندی
بد دا چه څوک په شعر کښ ویل کا نا پسندلی

چه چا دَی شعر کړی بې میزانه بې عروضه
دا هیڅ شاعری نده یو څو سپی دی ټمیدلی

پارسی شعر می هم زده سلیقه لرم دَ واړو
پښتو شعر می خوښ شو هر څوک خپل گنی ښاغلی

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کښ
پښتو ویل می عین تر پارسی دی رسَولی

پښتو ژبه مشکله، د دې بحر مونده نشی
هم ما لَره یو څو بحره په ډیر مښود راغلی

---

١. نخښی.

له چا نه په پښتو کښې ما میزان لیدلی نه دی
میرزا پیدا زبان که ویل کړی دی تللی

مخزن می دَ اخوند په تمامی په نظر کښیووت
پده کښې نه عروض شته نه ئې بحر ما موندلی

دانا به پرې پوهیږی دَ ناپوهو کار پرې نشته
دا دُر چه دَ بیان په تار خوشحال خټک پییلی

کذاب دی که دا شعر لکه ده پښتو بیان کړ
که هسی وَیل اوس شِی یا پخوا دی چا ویلی

د شعر په ویلو ډیر خوښ نه یم ولی څو کړم
چه زړه می بې اختیاره کله کله ورته زغلی

په شل کاله کښې دیگ ځما دَ شعر په اور بار شو
پدا دَور می پوخ کړ چه شپیته کاله می تللی

حاسد می که په شعر له حسده گوته کښیږدی
چه دَی مومی له عشره واړه ده وته بخښلی

دَ شعر په وَیل کښې که مقصود لَری هم دا دی
پدا بهانه گُندی چیرې یاد کا نازولی

په تور کسوة کښې پټه رنگینه معنی وگوره
زر شو یو می سره زر له تورُو شگو دی یستلی

دوه بحره دوه مطلع لَری که دا قصیده گورې
زر یو اتیا کالونه په صفر کښې ما ویلی

هر احمق چه په دنیا خاوند دَ جاه شِی
نور وتلی ځنی نشی جاه ئې چاه شی

په وَیل دَ مرسلانو نه گروهیږی
دَ فرعون او دَ نمرود غُندی گمراه شی

دَ دنیا دَ مال او ملک هغه لایق دَی
چه سلیمان غُندی ئې خوی شی که بادشاه شی

خو که ډیر عیب لَری عیب ئې پټ شی
آس که لَږ عیب پیدا کا دَ پایگاه شی

سپین چوتار دِ ځان ساتی له توره ټکیه
دَ ماش زنگو عیب کوم دَی که سیاه شی

دَ عسل خواږه مچیۍ زده نه چه مچ زده
چه عسل وته نیږدې شی نور تباه شی

بدان سل بدیِ کا پروا ئې نه وِی
په یوه خطا نیکان په غم په آه شی

د نیکانو په خطا عفوه لازم ده
دَ بدانو چه گناه بخښی گناه شی

پند هوښیار وته پکار دَی و نادان ته
چه دَ نیکو نصیحت کړې لا بدراه شی

درست جهان ئې که نیکخواه شی سود ئې کوم دی
دَ هر چا چه خپل خصلت دَ ځان بد خواه شی

د کلاه لایق یا باز دَی یا شاهین دی
پدا څه که دَ کارگه په سر کلاه شی

هر جولاه په تنسته کښینی څه وویې
نه خاسه وو دل په هر یوه جولاه شی

په زرگونو پکښې کښیناستل ترې ولاړل
گوره ځای به لا دَ څوؤو دا خرگاه شی

دَ یوسف غُندیی په خوب بنده عزیز کا
محمدﷺ وته دَ غنِی تار پناه شی

سببونه ئې په غم کښې اندوخته شته
مبتلا دی دَ اندوه پدا آگاه شی

رنځ محنت چه په سړی باندی ور درومی
دا پدا چه اوده نه وِی انتباه شی

دَ عاقل صحبت عاقل لَره راحت دَی
دَ جاهل سَرَه ئې ناسته په اکراه شی

دَ هغې مځکی نه لیری لیری گرزه
په هغه مځکه چه تل زهر گیاه شی

اعتماد په رفیقانو پاتو نشو
یو دِ مال و ملک تالا که نرو گواه شی

دا مستی دَ خرابات په منځ کښې نشته
دا مستی لکه په منځ دَ خانقاه شی

دا کوتاهی پائځې هاله پکار دی
که ئې لاس دَ بدو چارو نه کوتاه شی

شپه دَ هر چا عیب پټ کا چه بیگاه شی
تور و سپین هاله ښگند کا چه پگاه شی

دَ سړی قدر قیمت په اعتبار شی
چه خواږه ور ځنی ولاړل گنی کاه شی

دا غر غر فکر چه ته لرې خوشحاله
ستا به کومه چار تر سَرَه په بیگاه شی

که په زړه کښې می دَ یار مهر وفا وَی
کله دا رنگ به نصیب خواری ځما وَی

زه چه هونبره پسی ژاړم خلق خاندی
دریغه مخ ځما دَ یار لیدلی چا وِی

چه می وَوینی غرڅه غندی ترهیږم
که په خوی را سَرَه لږ غُندی آشنا وَی

دَ هجران شپه می یلدا شوه نه تیریږی
یا په خوب څه خواؤ ده شوی یا سبا وَی

دَ دورۍ اندیښنې له منځه ولاړې      بیا دَ یار په مخ می ذوق او تامشا وَی
دَ قصد منو په وَی له ما مانی کا      ما بهحال ورته عرضه کړ که پخولا وَی
تر نقاب ئې مخ ښکاره کړلی و ما ته      دین دنیا می ورته واړه رونما وَی
هوښیاری دَ دنیا مال دولت دَ نورُو      چه ملنګ دَ مسلې شوم خو هم دا وَی
اې چه وایې ښیښه ماته کړه پارسا شه      ښه وَیل کړې دَ بهار په وخت پارسا وَی
دَ شرابو جام په لاس توبه په شونډو      یا یک لخته لایعقل وی یا تقوا وَی
دا کشور له سر تر پایه کفرستان شو      یا می ځای کړی غاړی غرونه یا غزا وَی
نه به سپک نه به بدنام نه به بدبوی وۍ      که بورا غُندی ګونګټ په ګل شیدا وَی
د رقیب دَ مرګ آواز وشو په کلی      سخ په دا ساعت که دا وَیل رشتیا وَی
خوږه خوله ئې دَ خوږو شکرو خوان ده      پدا خوان باندی زه وږی یک تنها وَی
سونتی می به د نورو هونبره نکړه      که په ما باندی نظر مهر د تا وَی
دَ کاکلو تر نافې به ئې خجل شوه      که حاضره اوس هوسیه دَ خطا وَی
د شندی د نرګس فرق به سره نه وُ      که ګلونه دَ چمن واړه زیبا وَی

همیشه دِ مخامخ ورته ښکنځل کړَی
دَ خوشحال ختټک و تا وته دعا وَی

تجربه شوه راته جار دَ بازدارۍ      سررشته ده دَ تمامی میر ښکاری
په ورو ورو ئې مزی لیره کړه له سترګو      چه ونه پرکیږی باز په هوښیارۍ
په سبا بیګا ئې تل په غوښه بوله      هم په غوښه ئې کار کړه دَ تیاری
په تاوده منی اول چه په لاس راشی      هغه باز ته ور کړه څو شپې بیدارۍ
چه تمام تناب په غوښه ښه تیار شی      بیا دَ چرګ سَرَه ئې کار کړه دَ یارۍ
درې څلور چرګان چه وخوری نور پرې ښکار کړه      یَو یَو لاس ئې سیروه په دلدارۍ
په طلب په ښکار ئې هسی رنګ تیار کړه      چه ئې نه وی کج خلقۍ نا هموارۍ
که څلوېښت لاسه یکه یکه ښکار وخوری      هغه باز لَره به ور نشی خوارۍ
په ساړه ژمی که باز راشی په لاس کښ      فکر مکړه دَ هغه دَ تیارۍ
تمام ژمی ئې ساته په تماغه کښ      په هنر کړه په پسرلی دَ باز دارۍ
باز که دی خانه ګریز دی په ساړه      کله چوز پیښی دَ ژمی بیمارۍ
له لوګی نه له ساړه نه له غارمه نه      څو پتاشی باز ساته په بې شمارۍ
هر باز دار چه باز خیرن کړ دَ سزا دی      په سزا ئې کوتک مار وګمارۍ
باز چه ښه وِی ښه بازدار ور لَره بویه      جګی جګی په بد کس ئې مه سپارۍ
تغدری[1]دَ باز معراج دَی چه پرې سیر شی      په کلنګ په قاز ئې هیڅ مه ګزارۍ
دَ چوز باز صافی ضرر دَه صاف ئې مکړه      دَ انار اوبی پرې خوره په نهارۍ
پر مهر دَ دارچینی سره ضرور دَه      هم دِ تل کیږی دَ باز طعمه دارۍ
باز نه څورب نه ډنګر په مقدار ښه دی      کج خَلقی واخلی دَ ګوشت په بسیارۍ
باز چه ښکار خطا کَوِی ګناه ئې نه وی      دا ګناه دی دَ باز دار دَ بد کاری
ښه باز دار به ښه کریز و باز ته ورکا      بد باز دار لَری څو رنګه بیکارۍ
دار چینی زعفران چه دوی سَره پاخه کا      په کریز کښ دَ غوا غوړ دارو شمارۍ
باز چه صاف کړې په کریز کښ بیا ئې واخله      بې پروا مشه دَ باز دَ غمخوارۍ
دستکښی طعمه داری شب بیداری ده      دا درې توکه دِ دَ باز د هموارۍ

۱.  محشی څاړی ترجمه ورته کښلې ده.

همیشه دِ ئې له حاله خبر دار وی    چه بازونو سرَه کاندی څوک یاریَ
ښځه باز په یَوه خوی سرَه پیدا دی    ځنی مه غواړه هرگز وفا داریَ
دَ باز ښکار دِ ملوک کله کله کاندی    هرَه ورځ ئې دَی خلل دَ سرداریَ
مخ په ښځو یا شراب یا چه ډیر ښکار کا    دا درې توکه دی دَ مرد هرزه کاریَ
څه خو صبرِ سقوطری دَ وخته ورکړه    که خطا کا باز طعمه په بد خواریَ
د دومی علاج ئې تریخی دَی دَیړی    خو هم دا دارُو و باز وته څاریَ
نه تمامه باز نامه نه دا دیرش بیته
که ئې یاد کړې دَ خوشحال دَ یاد گاریَ

مخ تور دَ کاسیریَ چه دا کار دی شیطانی[1]    خوښی دَ یوه درنگ دَ همه عمر پشیمانی
کاسیر سړی هغه وِی چه ئې نه وِی عقل پوهه    یا دی په ذات په اصل کښ پیدا وِی نقصانی
شهوت بده بلا ده چه پدا بلا قادر شی    همدا ده که ئې گورې دَ سړی پهلوانی
دَ بدو همراهانو په صحبت که سړی خوار شی    یا غل شی یا رهزن شی یا بنگی قمار زانی
په ملک ورځنی تښته بد همراه دی هغه کس دی    چه ستا تر فهم ښې کا بدی چاری نفسانی
دا دوه سړی غلیم دی دَ هر چا په حقیقت کښ    که فهم فکر وکړې جگی بد تر غله زانی
چه نه پسندې پخپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان    هم دا ده که ئې گورې په صحی مسلمانی
چه بل وته نظر کا یا آواز دَ بل غوږ باسی    دَ ښځی زنا هم دا ده نور پرې کړه بد گمانی
سپیه چه سپیمې شی سپیَ خپل ځان لَره پیدا کا    څه سود که بده ښځه په دیوال کړې زندانی
چې مور بد کاره نه وی لُور ئې کله وران کاری کا    دَ مور له ځانه راوړی لور دَ خونی ویرانی
که گډه په بازار شی په کوڅه کوڅه جار وزی    دَ پاکو باکدامنو ستر جوړ دَی ربانی
چه پاکه پاکدامنه په حیا په دین مَیَنه    دَ مرد په کور کښ کښینی مرد دِ کاندیی کامرانی
چه بې خپله حلاله ځان و بل وته برمنډ کا    دَ مرگ دَه هغه ښځه نور ئې څه زندگانی
څو حیزه په میراث دی زه ئې وایم له کتابه    زحمت دَ مویښی[2] بوی دَ تخرگ قلتبانی
که هر څو خطا وینې بیا خو ښه پرده پوښی ده    عطا په خطا بویه سهوه کیږی انسانی
نیکانو سرَه زیست روزگار په مهر محبت کړه    بدانو سرَه زیست روزگار هم بویه لسانی
چه عقل شعور راغَی بده چار شوه راته بده    افسوس په هغه چارو چه به شوې په نادانی
خوشحال که نبی ندی نصیحت خو ئې خوار مکړه
الهام دَی چه ئې وایې دا کلام په افغانی

لاری دی بې شماره هر دیار لره ور درومی [3]    تلی په هغه لاری چه خپل یار لره ور درومی
څوک ئې بې ریباره پخپل بخت کا ورکناره    څوک په زړه ورژلی وَ ریبار لره ور درومی
سل جشنه نوروزه تر هغه ساعت ځاریږه    هر چه دلداده عاشق خپل یار لره ور درومی
څو رنگه نافې ئې به هر چین کښ دی د څینو    خلق په ناحقه چین تاتار لره ور درومی
نور عالم ئې واړه وار په وار په ځان مین کړ    اوس په شین شین پرهیزگار لره ور درومی
زړه می دَ دلبرو تورو زلفو هوس کا    گوره دا په ځان خونی تور مار لره ور درومی
مرم دَ خدای دَپاره په شتاب شتاب را درومه    چیری هم طبیب ورو ورو بیمار لره ور درومی
ځم دَ یار په لوری په هوا هوس خوښی کړم    ذوق کاندی بلبلی چه گلزار لره ور درومی
سخ دَ هغه لاسو چه په سپین مَړوند سم کا    سخ دَ هغو غاّو چه رخسار لره ور درومی

---

۱. دا قصیده په چاپی نسخو کښ نسته.
۲. مرض دَی چه په مقعد کښ چنجی پیدا سی او خارښت کوی.
۳. دا قصیده په چاپی نسخو کښ نسته.

مخ ئې ور ښکاره کړ دَ زاهد زهد ئې یووړ بیا ئې ځنی تاو کړ بل ناتار لره ور درومی
سخ دَ ناپوهانو چه هیڅ غم اندوه ئې نشته هر چه څه غمونه وی هوښیار لره ور درومی
تش لاسونه ووزی دَ بازار له نعمتونو هر چه کیسه تشه و بازار لَره ور درومی
هر څوک چه طلب کا پته نده دا خبره هر کله مطلوب و طلبگار لره ور درومی
وایې چه هر دم په خوږو زړو کا پرهارونه زخم زخمک چه و هر تار لره ور درومی
نور جهان سقر شو باندی سرای دارالقرار دی کله به خوشحال دارالقرار لره ور درومی
سل فکرونه وکړ تر دا نشته بل ښه فکر چاری واړه خدای کا کار اختیار لره ور درومی
ویښ اوسه خوشحاله ما لیدلیِ دی ډیر غلونه
کور دَ اُودو ډونډ کا بیا بیدار لرَه ور درومی

نشته هیڅ یو تش جنجال دَی پدا منځ کښ[1] خالی بخث او قیل و قل دی پدا منځ کښ
چه په مکر دَ ویښته دَ پاسه درومی شل په دواړه پښې یَو زال دی پدا منځ کښ
دَ یزید دَ شمر نه نه دَ حجاج دی دَور دَور دَ دجال دی پدا منځ کښ
نه شراب شته نه گلاب شته ښیښه ډکه قاروره که څه تمثال دی پدا منځ کښ
دښمنیَ له واړه سر وَهِی له ډاگه دَ آشتیِ کار محال دی پدا منځ کښ
گوره څو کلې به پریوزی دواړه لوریه زید و عمر اختلال دَی پدا منځ کښ
سررشته دَ چاری هیڅ نده معلومه خو هم هسی غول او غال دَی پدا منځ کښ
یو څلور پنځه خو وشول څو به وشی یو یو کوټه په هر کال دی پدا منځ کښ
چه ئې کاندی چه ئې وینم چه ئې اروم دَ هر چا مکر ټیتال دی پدا منځ کښ
دا واړه واړه خو ډیر می دی لیدلی دَ کټو کټو زوال دی پدا منځ کښ
دروغجن چه هوبنره ندی پدنیا کښ دَ رشتینو څه مجال دی پدا منځ کښ
آواره نوره گټنه تلف مشه چه گټلی ملک و مال دی پدا منځ کښ
چه ئې هر چرته څکوی ور پسی درومی یو عجیب شتر مثال دی پدا منځ کښ
خر یې پاسه دَ سړیو په سر گرزی شل په دواړ پښې دجال دی پدا منځ کښ
دَ ټټوانو بیعه ښه کا تر آسونو نادیده گنده دلال دی پدا منځ کښ
یَو به سله سل به هیڅ که یو سړی وی کومه گران کومه اشکال دی پدا منځ کښ
چه په چا دَ نصیحت وینا لگیږی دا یو خوب دی یَو خیال دی پدا منځ کښ
پښتانه مغل هندکښ واړه هوښیار دی
لیونی خو یو خوشحال دَی پدا منځ کښ

دوهم ټوک تمام سو

---

۱. دا قصیده په چاپی نسخو کښ نده راغلې.